مياشتنی

حریت

د اسلامی انقلاب داهدافو خپروونکی

دامت د حماسو علمبردار

کابل! دماتمونو په دریاب کی دفاتحانو په انتظار

شورای نظار قدرتی فراهم آمــده از تبـلیغ

دشمال ائتلاف درامنځ ته کیدو لړزوونکی انکشافات؟!

* * *

دخوست تر فتحی وروسته « تخار » ولی تسلیم شو؟

ببرک کارمل د ائتلاف لوبه څه ډول توده کړه؟

* * *

یعقوبی او جنرال باقي چا ووژل؟

* * *

ددولتی امنیت وزارت پوستونه دمسعود او ببرک کارمل ترمنځ څنګه وویشل شول؟

استاذ ربانی دسیاسی انتحار په لـوری

بسم الله الرحمن الرحیم

الهی فرمان

اوجگړه « جهاد » و کړئ له هغو اهل کتابو سره چی ایمان نه راوړی پر خدای (ج) او د آخرت پر ورځ او حرام نه گڼی هغه شیان چی الله ا و رسول یې (ص) حرام گرځولی دی او نه اختیاروی «حق» دین

ترڅو چی دوی جزیه ورکړی په خپل لاس او ذلیل شی.

« التوبه آیه ۲۹ »

ضروری یادونه :

دوخت دتنگسی په وجه مو . نشو کړای چی دجهاد د مظلوم شهید انجنیر شاه محمود ژوند پاڼه خپره کړو .

د«حریت» په راتلونکی گڼه کی به انشاء الله زموږ ددی برمیال ورورد شخصیت په باب مفصل معلومات ولولی . په درناوی.

بسم الله الرحمن الرحيم

مياشتنی

حریت

داسلامي انقلاب داهدافو خپروونکی

دليكوالو دشوری ترنظر لانـــــدی
سرمحرر: محمد نذير« بشارت »

دوهم کال ، لومړی او دوهمه گنه د۱۳۷۱ کال د زمري او وږي مياشتی پر له پسي لمبر ۱٤ او ۱٥

ددی گڼې مطالب :

۱- سرمقاله.......................(۲)
۲- شورای نظار قدرت فراهم آمده از.......(٦)
۳- دامت د حماسو علمبردار.............(۹)
٤- دشمال د ائتلاف درامينځ ته کيدو ....(۱۰)
٥- حزب و جمعیت ....(۱۸)
٦- کابل دماتونو په گرداب کې..........(۲۰)
۷- نظام کامل حیات ....(۲۸)
۸- يو لويغاړی دوه ننداری...............(۳۳)
۹- ضرورت اکادمی های علمی و ....(۳٤)
۱۰- ديوی نوی دنيا جوړول...............(٤۰)
۱۱- ديوه پاکستانی ژورنالست مرکه.......(٤٦)
۱۲- نقدی بر مجموعه داستانی باران.......(٥۰)
۱۳- به جواب نقد برمجموعه داستانی ....(٥۲)
۱٤- شعرونه..........................(٥٤)
۱٥- دزړه له کومی مننه ....(٥٥)
۱٦- دحريت يو کلن ژوند دليکوالو........(٥٦)
۱۷- دشهيد جگتورن غنی خان په ياد......(۷۳)
۱۸- گرنگونه چی حادثو ته ....(۷٥)

بانکی پته

اکاونټ نومره (۷۰۱٤)
عمان بانك لميتد پشاور پاکستان

دگډون بيه :

کلني په پاکستان کي (۸٥) کلداري
په اروپا اوامريکا کـي (۳۰) ډالره
په عربي هيوادونوکي (۷٥) رياله
ديوي گڼي بيه په پاکستان کي (۱۰) روپي يادهغه معادل

مؤقت پستی آدرس:
مياشتنی حريت، پست بکس ۷۰٦
يو نيورستی ټاون پيښور

کمپوز و ديزاين از: مصطفی« سحر »

بسم الله الرحمن الرحيم



سرمقاله

بختور میلاد

د وږی(۱۸) مه د ربیع الاول له ۱۲ می د کائناتو د سردار حضرت محمد مصطفی(ص) د مبارك میلاد له ورځی سره برابره ده ، له هغه بختور میلاد سره چی د نړی برخلیك ور سره بدل شو دانبیاؤ دسالار میلاد کومه عادی پیښه نه وه ، ځکه دا دهغه چا دنیاته راتګ ؤچی د سترپروردګار لخوا د« رحمة للعلمین» په ویاړ من ویاړ لمانځل شوی دی.

له هغی ورځی نه چی د بی بی امنی کره د رحمت او نیکمرغی دغه زیری وشو، په مکه ، حجاز او ټوله نړی د الهی انوارو اورحمتونو داوریدو پیل ؤ.

محمد رسول الله(ص) دنور پیغمبر ؤ چی د جهل تیاری یی روښانه کړی دعدل او نیاو پیغام راوړونکی ؤ چی ټول د ظلم زور او بی عدالتی د ستورونه یی ونړول.

د انسانیت پیغمبرؤ چی انسانی پرګنو ته یی د انسانی ژوند « دود او قانون» راوړو دتوحید پیغمبرؤ چی دشرك کمپله یی ور ټوله کړه او اشرف المخلوقات یی د لات ، عزا او منات له بنده ګی نه خلاص کړ.

د حضرت محمد مصطفی(ص) میلاد دیوه نړیوال انقلاب زیری ؤ چی انسان یی له ځمکی نه معراج ته ورساوه .

هلته چی دمکی په یوه ګوښه کوډله کی د انبیاؤ سالار نړی ته پل ایښود نه یوازی په ځمکه او آسمانونو کی یو پر بل زیری کیدل بلکی دهغو مظلومو ارواوی هم آرامی شوی چی د شرك او کبر سردارانو دکبر او غرور په نیشو کی وژلی وو.

نور به معصومی لوڼی ژوندی نه خښیزی ، نور به لور دذلت نخښه نه دعزت نخښه وی ، نور به د تور اوسپین توپیر نه وی نور به آقا او غلام نه وی، انسان به دمال او حیوان په څیر نه خرڅیزی ، نور به انسانیت مسخ نه وی او.....

ځکه دهغه دین پیغمبر پر نړی پښه کیښوده چی رهبانیت یی جهاد دی، چی جنت پکی دتورو تر سیوری لاندی دی، چی عظمت او پرتم پکی یوه ستر رب ته په عبادت او عاجزی کی دی او چی د قوم سردار پکی د قوم خادم وی نه مالك او بادار، دهغه پیغمبر میلاد ؤ چی" اشداء علی الکفار رحماء بینهم"یی لوړ صفت دی دهغه پیغمبر میلاد چی « بشیر» او « نذیر» دی او دهغه پیغمبر چی « رحمة اللعلمین » دی.

محمد مصطفی(ص) دټول بشریت لپاره دهدایت او لار ښوونی پیغام راوړی او دټولو پیړیو او زمانو پیغمبر دی، هغه خو جسماً نن په مدینه کی،د بی بی عایشی په حجره کی « ویده » دی خو د انسانیت د اصلاح او فلاح لپاره یی روښانه لاره او هدایات پریښی چی که یوازی په همدی یوه هدایت یی عمل وکړو چی دنړی نه دجامو بدلولو په ورځو کی یی فرمایلی ؤ نن هم د کبر او جبر ټول بوتان را پرېوزی، دعدل ا و نیاو انسانی مینی او دهر ډول آرامی ا و خوښی نه ډکه دنیا به جوړیږی یوازی پردی ارشاد چی فرمایلی"دی:

ماستاسو په منځ کی دوه شیان پریښی دی چی که عمل ور باندی وکړی هیڅ کله به بی لاری نشی ، یو د خدای (ج) کلام او بل زما سنت .

اللهم صلی علی محمد و علی آله و اصحابه اجمعین

دا رنگ وطن او دامظلوم ملت له مور. نه څه غواړي ؟!

باید اوس په گران افغانستان کی سوله وای، نوردجگړی لمبی ناستی ! ، سکروټی یی مړی وای، مهاجرین مو په وطن کی ځای په ځای شوی وای، د هیواد اداره موسنباله وای، دولس دزخمونو دټکور ارادو او هڅو مو د ملت کړیدلی روح ارام کړی وای او دیوه خوشحاله افغانستان د جوړیدو تصمیمونو مو وطنوالوته د ښه مستقبل امید ورکړی وای او بالاخره د ترخی ماضی او خوږی راتلونکی ترمنځ مو د بیلتون پولی دریدلی وای.

دا ټول زموږ د مسلمان ملت انتظار ؤ ، دایی مسلم حق ؤ ، موږ لویه جگړه گټلی وه، لویه امپراتوری مو ماته کړی وه ، د جگړی دټولو عواملو په ځبلو بریالی شوی وو،

نور باید زموږ د ولس غوښتنه پوره شوی وای مگر چاچی نه غوښتل په افغانستان کی د«مجاهدینو» حکومت جوړ شی، هغه مجاهدین چی د عصر دیوی لویی حادثی د ایجاد ویاړ لری، د یوی خطرناکی جگړی تجربه لری، جهانی شهرت او تبارز لری او د اسلام او وطن د خدمت سر شاره جذبه لری، دهماغو ځواکونو د ظلم او تیری لاسونه راوغځیدل او د وطنفروش ببرک، جنایتکار دوستم... او متعصب احمدشاه« مسعود » له لستونی راووتل او دشمال دفاشیستی حرکت په‌جوړولو تمام شول.

د شمال فاشیستی جریان زموږ د محروم ملت دملیونونو لیتره مقدسی وینی په بیه دگټلی معرکی او دځوارلس کلنی بی مثاله مبارزی د سوبی د غلا کولو ناروا هڅه وه.

دی ائتلاف د افغان ولس په ارمانونو او انتظارونو بی رحمانه گوزار وکړ ، په‌دی برسیره چی دهغه عظیم الشانه فتحه یی سبوتاژ کړه زموږ په‌مجاهد ملت‌ئی یوبل ځورونکی جنگ تحمیل کړ، او زموږ ملی وحدت ته ئی خطرناك گواښونه راولاړ کړل.

اوس خود شمال دائتلاف ماهیت بیخی واضح شوی، زموږ باشهامته ملت له خپلو ټولو مشکلاتو سره سره دهغه په وړاندی ددریدو تصمیم نیولی، افغان بیدار ملت ورځ په ورځ دا درك کوی چی دشمال ټوله لوبه ددی لپاره جوړه شوه چی له دوی څخه د شهامت انتقام واخلی او دوی دی ته پرینږدی چی دښی ورځی خاوندان شی،

زموږ ولس په دی پوهیږی چی ببرك کارمل او نور بدنام ماتی خوړلی کمونیستان تری د غچ اخیستو هلی ځلی کوی، ددوی د حکومت دنړولو ، ددوی درسواکولو او ماتولو غچ او بالاخره د کمونیزم او کمونیستی امپراتوری د بلاك د لړزولو انتقام ، او داپه هیڅ توگه حیرانوونکی نه ده ، ببرك ، نجیب او دهغوی نورو کمونیستو ملگرو که د خپل ولس د قتل عام جرم کولای شوای او روسانو ته ئی خپل وطن، شرف، ناموس ، خپلواکی ا و خاوره په دواړو لاسو وړاندی کولای شوای، په روانه فاجعه باندی زموږ د ویرونو ځپلی ولس اخته کول باید هیچا ته د توقع خلاف نه وی،

مگر استاد« ربانی» او قوماندان احمد شاه مسعود چی زموږ له مقدس جهاد او ملت سره کومه جفا وکړه هغه ټولو مسلمانانو ته د حیرانتیا خبره ده.

په استاد ربانی او احمدشاه مسعود اوس هم لا ناوخته شوی نه ده هغوی کولای شی په خپله غوره کړی تگلار باندی تجدید نظر وکړی، له کمونستانو سره ئی ائتلاف پای ته ورسوی، دسیکتاریستی تمایلاتو د پاللو په ځای په خپل مظلوم ملت رحم وکړی، په خپل مستقبل زړه وسوځوی او پرینږدی چی تاریخ یی د اسلام او وطن د بد ترینو خاینانو په توگه نومونه ثبت کړی،

ددی ترڅنگ دټولو هغو اشخاصو او قوتونو په اوږو د مسؤلیت تر ټولو درروند پیټی پروت دی چی مجاهدین دی، دجهاد په ارمان معتقد دی ا و په دی باور لری چی دامظلوم قوم او برباد شوی وطن پری حق لری.

دهغوی رسالت دی چی د هیواد روانه وضعه خطرناکه او بدشگونه وبولی، د ملت د تباهی ا و وطن د لاسوځیدو او ړنگیدو سبب ئی و گڼی او بالاخره بدلون ئی د خپل ولس دمرگ او ژوند خبره وشمیری.

په همدی بنا پکار ده د ملت او وطن د ا سوی فریاد او دا ارمانی کړیکه دهر مسلمان او وطندوست افغان په غوږوکی تندریزی انگازی وکړی چی باید نور په قاطعیت او قوت هغه لاسونه غوڅ شی.

چی په نویو فاجعو باندی زموږ د مظلوم قوم داړولو لپاره را اوږدیږی ، باید هغه پښی لنډی شی چی په دی مظلوم وطن کی دنورو اورونو د بلولو لپاره قدم اخلی او هغه ارادی ماتی شی چی زموږ د فاتح او بهادر ملت په مبارزه، سرنوشت او مستقبل لوبی کوی.

استاذ «رباني» دسياسي انتحار په لوري:

د استاذ رباني په باب يو وخت دا ذهنيت ډير عام و چې، هغه دنرم او معتدل مزاج خاوند دی، ښه حوصله لری، او د نظر له وسعت څخه برخمن دی، همدارنګه ويل کيده چې هغه يو واقعيت ګرا سياست پوه دی، او دتفاهم او استدلال له لاری دقضاياوو په حل ټينګار کوی.

ددی مشخصاتو له مخی فکر کيده ، چې هغه کولای شی دبيلابيلو جهادی قوتونو اعتماد ور جلب کړی، او په دی توګه نه يواځی له نورو سره دده د مشکل ايجاد ته اجازه نه ورکوی، بلکی دمختلفو تنظيمونو ترمنځ دجنجالونو او کړکيچونو په حل کی د يوه ښه منځګړی نقش ترسره کړی،

هغه تر ډيره وخته دجهادی احزابو ترمنځ دائتلاف يا اتحاد مشرتوب او تمثيل ته غوره کانديد ګڼل کيده خو متأسفانه زموږ د اسلامی انقلاب دهر خم و پيچ بهير په اوږدو کی پورتني ذهنيت او نظر صحيح راونه خوت - او ورځ په ورځ واقعيتونو دهغه په برخه کی ددی په عکس قضاوت وکړ، فکر کيزی چې د استاذ رباني ځينی کمزورئ، دباندی داسی منعکسی شوی او تعبير شوی چې تري چپه مفهوم افاده کړی، د استاذ رباني رواني او فکری جوړښت داسی دی چې دحوا دڅو دمقابلی وس نلری ، دخطر قبلولو سياست ته زړه نشی ښه کولای دشرائطو له بدلون سره خپله وضعه بدلوی او ديوه مشخص روش څرګندی موضع او صريح سياست دعنوانولو د جرئت له عنصره بی برخی دی، تل هڅه کوی چې د اوضاع او شرايطو تر روښانه کيدو پوری نه واضح خبره وکړی ، او نه په څرګنده موضع و نيسی که څه هم هر څومره ئی نظرياتی مصلحت ايجاب کړی، او هرڅومره ئی دولس او وطن د ګټو تقاضاوی دهغه دغه مشخصات دی چې دده دشخصيت په باب ئی پاس ياد شوی غلط ذهنيت او برداشت رامنځ ته کړی و. مثلاً دهغو دا وضعه چې دخطر دقبلولو استعداد او زړورتوب نه لری او دقضاياوو په باب صريح قضاوت او موضعګيری نشی کولای داسی تعبير شوی چې ګنی هغه يو محتاط، معتدل او با سنجشه شخصيت دی، او دا حالت يی چې په خپل تنظيم کنترول نشی راوستلای، داداری اودسپلين کمزورتيا لری داسی بلل شوی چې ګويا هغه‌ډيری پراخی حوصلی څښتن دی، د شخصيتونو او قوتو د رشد او تبارز د نظرئی پلوی دی.

دری کاله وړاندی چې په فرخار کی دحزب او جمعيت دقوماندانانو نښته دجمعيت دڅو قوماندانانو په وژل کيدو تمامه شوه ، د لمر په څير واضح وه، چې د حزب اسلامی قيادت په هغه پيښه کی په هيڅ توګه ملوث نه و او استاذ رباني ترنورو ټولو خلکو په دی خبره زيات ښه پوهيده ، مګر هلته وضعه داسی وه دامريکا په مشری ټولو لويديزو هيوادونو، په هغوی پوری تړليو حلقو ، د ايران حکومت، دکابل مزدور رژيم ، مسکو، دپاکستان واکمن ګوند، او نورو بيلابيلوجهتونو غوښتل چې له هغی موضوع څخه دحکمتيار پر ضد يوه خطر ناکه تبليغاتی ، سياسی، حربه جوړه کړی. دحزب اسلامی مسئولينو او امير «حکمتيار» او دجهاد نورو مخلصو خواخوږو استاذ رباني ته ويل چې کفار او د جهاد بيلابيل دښمنان غواړی چې له دی پيښی څخه د خپلو شومو اهدافو لپاره استفاده وکړی، ته احتياط وکړه او ددی پيښی دتحقيق او پلټنی او بعدی اجراتو په باب چې ته څه ډول شرائط پيشنهادوی دهغو دتطبيق لپاره به اجرات وشی خو استاذ رباني ليدل، چې دحزب اسلامی په خلاف د تبليغاتو له امله بهرنی څواکونه تری خوشحاله کيزی او هغوی دحکمتيار ددښمنی په بيه رباني صاحب ته امتيازات ورکوی په همدی وجه ئی په داسی تبليغاتو لاس پوری کړ او داسی موضع يی و نيوه چې زموږ جهاد ته ئی لوی سرخوږ او ستر مشکلات جوړ کړل.

بيا څه دپاسه دری مياشتی دمخه چې کله دکابل انکشافات پيښ شول او د استاذ رباني په جمعيت پوری مربوط قوماندان احمد شاه مسعود پکی دمخکښ نقش ددرلودونکی په عنوان ياديده ، استاد رباني ژبه او لهجه يوډول وه يعنی دزور ، امتياز غوښتنی او عدم تفاهم په روحيه‌ګخبری کولی خو چې کله محترم مجددی په صحنه کی راوړاندی شو او دحزب اسلامی د امير په مخالفت کی يی د بهرنيو قوتونو د خوشحاله کولو دسازش دلومړی خط دبيرغ

وړونکی نقش ته ملاوتړله د استاذ ربانی حالت او لهجه بدله شوه ، هغه حکمتیار ته د التماس تر حده ځان نردی کولو هڅه وکړه غوښتل ئی چی دهغه دتوجه پهجلبولو سره دمجددی صاحب مخالفت ددی لپاره کوی چی هغه:

ددوه میاشتنی دوری له پای ته رسیدو سره سم ددولت دانتقالی ریاست کرسی ته ځان رسول له شکونو او خطرونو وباسی.

هغه به چی کله د حکمتیار ملاقات ته ورغی نو داخبره به یی په ژبه ناسته وه چی « وررور حکمتیاره: جمعیت په خطرناك مشکل کی لویدلی له دی ستونزی نه ئی په ایستو کی له ماسره مرسته وکړه » د استاذ ربانی مطلب دکابل په آئتلاف کی دجمعیت پری وتل ؤ خو محترم استاذ ربانی اوس هغه وضعه بدله کړی ده ، هغه غواړی چی دحزب اسلامی پرخلاف په دریدو سره دهغو ټولو کورنیو او بهرنیو ځواکونو توجه ځانته ور واړوی چی دحزب اسلامی او « حکمتیار» مخالفت ددي لپاره کوي چی هغه د آزاد، واحد او په ځان متکي افغانستان دجوړولولپاره لویه قوه او اهم فکتور گڼی ،

دکابل دوروستی نښتی په رابطه چی استاذ ربانی د «حکمتیار» او حزب اسلامی په برخه کی د خصومت او عقدی په کومه ژبه خبری وکړی هغه زموږ د پاس ټولو خبرو ښه ثبوت دی ، هیڅا فکر نه کاوه چی استاذ ربانی به دکاذب اقتدار په هوس کی دومره راټیټیږی چی د مسلمانو مجاهدینو په مقابل کی دهغو ملحدو قوتونو ددفاع وکیل شی چی ١٤ کاله له روسی لښکرو سره اوږه په اوږه زموږ د مظلوم ملت په وژلو او لوټولو بوخت وو لاسونه یی تر څنگلو پوری زموږ د بی دفاع ولس په وینو سره دی او دټول هیواد دړنگولو بی رحمه مجرمان دي، استاذ ربانی په دی کار ډیره تاوانی سودا کوی او یوه ناکامه تجربه تکراروی دا تجربه مجددی صاحب و ازمویله چی نتیجه یی موږ ټولو ته څرگنده ده او بی له دی چی ربانی په یوه مطلق سیاسی انتحار محکوم شی بله نتیجه نه لری،

کمونیستان به په استاذ ربانی عینی کانه کوی، له هغه نه به د جهاد په خلاف دومره استفاده کوی چی دهغه شخصیت بیخی مسخه کړی او بیا به یی یاپه ډیر ذلت له صحنی لری کوی او یابه ئی په ډیره بی عزتی په بشپړه توگه په ملنی کی ولویږی اوس عملاً په کابل کی د پخوانی رژیم بقایاوی واکمنی دی د پخوانی رژیم پاتی وسلوالی قواوی ابتکار په لاس کی لری او ددولتی امنیت شبکه یی په ټول جدیت په فعالیت بوخته ده .

مور دا د استاذ ربانی په خیرگڼو چی بی له دی چی پری ناوخته شی په خپل سیاست تجدید نظر و کړی د خپل جهاد او ملت پر ضد له ولاړو ځواکونو څخه خپل صف بیل او د اسلام دسر لوړی او دجگړی او بهرنیو لاسوهنو څخه دگران افغانستان د ژغورلو لپاره دخپلو مجاهدو وړونو ترڅنگ ودریږی.

د « حریت » ددوهم نشراتی کال دپیل له امله:

پروسږ دچنگابش په میاشت کي موږ « حریت » د اسلامي انقلاب د ځو مخلصو زامنو په مرسته په بشپړه توگه په دي نیت شروع کړه چي اسلام او خپل وطن ته خدمت و کړاي شو موږ په هیڅ توگه ددي ادعا جرئت نشو کولاي چي کار مو د خپل رسالت د اقتضأتو په معیار پوره ؤ ،ا و نه دا ویلاي شو چي د یوي ښې خپروني ډیري ځانگړتیاوي مو خپلي کړي خو داخبره په ډیر مسئولیت کولاي شو چي زیاتره مو هغه څه لیکلي او خپاره کړي چي یا دزړه له کومي پري معتقد وو او یا مونې خپراوي په یوه ډول نه یو ډول گټور گڼلي دي، نه مو دچا پلوي د شخصي تمایل او گټي په بنسټ کړي او نه مو مخالفت دخپل خوښ او ناخوښ له مخي کړي دي،زموږ د قضاوت او برخورد معیار د اسلام ا و ملت گټي وي ، داچي د هغو په تشخیص ا و درك كي څومره په سمه وو او څومره په غلطه ، هغه بیله خبره ده او دا قضاوت مو خپلو گرانو لوستونکو ته پریږدو شاید هغوي دخپل قضاوت زیاته برخه د هغو درنو لیکوالو په نظریاتو کي مطالعه کړاي شي چي په همدي گڼه کي به خپریږي .

موږ د حرت ددوهم کال دپیلیدو په مناسبت د اسلام او ملت د خدمت په لار کي د خپل خلوص تعهد نوي کوو او د لوي خداي(ج) دربار ته دتوفیق دعاکوو.

شورای نظار قدرتی فراهم آمده از تبلیغ!

ابو جاهد

در دوران جنگ دوم جهانی و اشغال کشور یوگوسلاویا نیروهای اشغالگر آلمان نازی، یك نیروی چریکی نسبتاً کوچك اما فعال وموثر برهبری(یولیپ بروز) نه تنها موفق گردید تا برای نیروهای اشغالگردرد سر های فراوان بوجود آورد وبا بهره گیری ازقدرت ضربه زدن و در عین حال تحرك سریع دشمن را غافلگیر نموده و بر آن ضربه وارد نماید بلکه در عین زمان توفیق اینرا نیز داشت تادر میان ملیت های مختلف ساکن دریوگوسلاویا بعنوان یك نیروی وحدت دهنده، تبارز نموده و در اندك مدتی یك ملیون نیروی رزمنده منظم راگرد آورد، این نیرو پشتوانه قدرتی بود که بعد از شکست آلمان نازی توانست ازسقوط یوگوسلاویا بکام استعمار شوروی و استالین جلوگیری کند، این (یولیپ بروز) همان کسی است که در تاریخ اورا بنام (مارشال تیتو) می شناسیم.

احمد شاه مسعود فرمانده شورای نظار کسی بود که در جریان نبرد بر علیه نیروهای اشغالگر روسی در افغانستان از طرف تحلیلگران نظامی غرب باتیتو مقایسه می شد بخصوص زمانیکه وی تلاش داشت تا با تاسیس شورای نظار بعنوان یك تشکل وحدت دهنده فرا تر از تنظیم های جهادی همه فرماندهان جهادی راقطع نظر از وابستگی های تنظیمی آنان دربرگیرد.

بوجود آمدن شورای نظار بعد از یکسلسله تلاش های ناموفق بود که مسعود برای گسترش دامنهء نفوذ خویش از راه نظامی علیه حزب اسلامی در کاپیسا، پروان و بعضی از نقاط شمال افغانستان به آن دست یازید، بخاطر همین سابقه توام باجنگ وخونریزی بود که شورای نظار تلاشی درجهت همان اهداف سابق مسعود تلقی گردید طبعا اگر این شورا قبل از درگیری های تنظیمی بوجود آمده بود شاید میتوانست بعنوان یك نیروی وحدت دهنده بصورت موثر ترعمل کند که در آنصورت میتوانستیم شباهت های بین مسعود و تیتو بیابیم.

تیتو در نبرد با اشغالگران نازی رشد کرد ولی رشد مسعود تنها درنتیجه نبرد وی بانیروهای روسی نبود مسعود این ابتکار را داشت که حتی درزمانیکه بانیروهای روسی قرار داد آتش بس امضا کرده بود خودرا درگیر با حزب اسلامی نشان دهد و به این ترتیب همدردی گرایش های هراسان از بنیاد گرایی اسلامی رانیز بخود جلب کند.

دراینکه مسعود یك جنگجوی خوب بود شکی نیست ولی این کمال نا انصافی خواهد بود اگر بگوئیم که اوتنهاجنگجوی خوب این پیکار بود، درست است که روسها در حمله به دره پنجشیر بارها طعم تلخ شکست را از نیروهای تحت فرمان مسعود چشیدند ولی ساختمان و شکل طبیعی این دره تنگ و صعب العبور رانباید درین شکست ها ازنظر دور داشت، مقایسه درهء پنجشیر بامناطق هموار و فاقد دفاع طبیعی مثلا درشمال و غرب افغانستان که مجاهدین درآن مناطق سالها در برابر روسهاجنگیده و قوای تجاوز گررا بارها به شکست مواجه ساختند نشان میدهد که مسعود شخصیت خارق العاده تر از سایر فرماندهان برجسته مجاهدین نبود اما دره پنجشیر بعلت موقعیت طبیعی خویش برای خبرنگاران خارجی این امکان را میسر می ساخت تاجریان نبرد مجاهدین پنجشیر باقوای روسی را ازفاصله نزدیك مشاهده نموده و بدون اینکه خطرزیادی متوجه جان آنان باشد ازصحنه جنگ فیلم تهیه کنند، پنجشیر همیشه مهماندار دهها خبرنگار خارجی بوده که میخواستند ازجنگ افغانستان فیلم وراپور و خبر تهیه کنند، لقب قهرمانی و شیر پنجشیرمسعود را بیش

ازاینکه مرهون نبرد خویش بادشمن باشد مدیون تبلیغاتی بود که رسانه های گروهی غرب برایش براه انداخت.

شورای نظار ازطرف مخالفینش همیشه متهم به جانبداری ازگرایش های التقاطی بوده است ولی درین میان دروجود یك گروه التقاطی اندیش یعنی سازمان (الحدید) درکنار مسعود تردیدی وجود ندارد.

تاقبل ازواقعه تخار که طی آن جمعی از برجسته ترین فرماندهان جمعیت بوسیله سیدجمال یکی از قوماندان حزب اسلامی به شهادت رسیدند مسعود در شورای نظار فرصت یکه تازی و توان اعمال استبداد رای را نداشت در میان شهدا چهره های چون قاضی اسلام الدین وجود داشت که ازنخستین همراهان کاروان تحریك اسلامی در افغانستان بود یعنی عناصر که بخاطرمصلحت های مقطعی هرگز حاضر به فداکردن اصول نبودند و باحضور آنان گرایش های انحرافی بحال تبارز و میدان عمل در شورای نظار نداشت .

این سوال هنوز بدون جواب باقی مانده است که چگونه یك قوماندان حزب اسلامی دست به عملی میزند که در صورتیکه میداند توان مقابله با عکس العمل طرف مقابل را ندارد، بسیار دشوار است اگر این عمل راناشی از اشتباه محاسبه توسط سیدجمال بدانیم زیرا قدرتمند ترین قوماندان حزب درتخار یعنی بشیر شهادتیار نیز روابط خوب با او نداشت وسیدجمال عملاً در برابر شورای نظار تنها بود.

بهرحال این دسیسه بوسیله یك قوماندان حزب عملی شد تا با سابقه اختلاف میان حزب و شورای نظار ، عملی کاملاً موجه جلوه نماید و فرصت بهر برداری تبلیغاتی علیه حزب اسلامی فراهم آید.

سید جمال بوسیله شورای نظار ستگیر گردید ولی در جریان تحقیق ازوی هیچ فرد بیطرفی حضور نداشت وفقط به بعضی از اعضای شورای نظار وجمعیت فرصت دیدار ازوی میسر گردید، ، اگر این تحقیق بوسیله یك کمیسیون بیطرف صورت می گرفت شاید انگیزه اصلی این جنایات چنین در پرده ابهام باقی نمی ماند وسید جمال و برادرش را زاین قتل هارا باخود بگور نمی بردند.

اکثر قوماندانان جمعیت که با شورای نظار و مسعود مخالف بودند وقتی به پشاور می آمدند وشیوه رفتار مقامات مسئول جمعیت بامجاهدین و پراگنده گی ها وبی سر و سامانی های این تنظیم را می دیدند در بازگشت دست بسوی مسعود دراز میکردند انجنیر بصیر خالد فرمانده جمعیت اسلامی در بدخشان (که مستقل ازشورای نظار عمل میکرد) وباقی اکثر قوماندانان جمعیت باشورای نظارتعهد کردند و با این ترتیب جمعیت اسلامی در شورای نظارورهبری احمد شاه مسعود خلاصه شد.

کودتای شهنواز تنی برضد نجیب و پشتیبانی حزب اسلامی ازآن مهمترین تحولی بود که بعد از خروج قوای روسی ازافغانستان اتفاق افتاد ، شکست این کودتا به تضعیف جناح خلق در اردوی رژیم کابل انجامید و درمقابل موقف پرچمی ها برهبری کارمل راتقویب نمود ، جناح کارمل که بعد از تحولات سریع در شوروی شکست کمونیزم راکاملاً حتمی می دیدند درصدد برآمدند تا با تغیر اید ئولوژی، نیروهای کمونیست درکابل راکه دچار سر درگمی بوده و از فقدان ایدئولوژی رنج می بردند باردیگر متشکل سازند، تغیر ایدئولوژی بشکلی صورت گرفت تا با در نظر گرفتن گرایش های قومی درمیان بعضی ازجناحهای مجاهدین، زمینه ائتلاف باآنان فراهم آید و به این ترتیب ازخطر حاکم شدن بنیاد گرائی اسلامی در افغانستان جلو گیری گردد.

یکی ازمهره های فعال درین بازی کشتمند بود او در تفاهم میان حزب وحدت وملیشه های فرقه اسماعیلیه نقش مهم بازی کرد و برادر کشتمند که شارزدافیر سفارت افغانستان در تهران بود درین رابطه باایرانی ها به تفاهم رسید، شرکت ایران درین طرح فقط درهمین حد محدود نماند بلکه ایرانی ها مستقیما با ملیشه های شمال برهبری دوستم نیز تماس برقرار نمودند .

حزب وحدت به تنهائی برای هدفی که کمونیست ها داشتند کافی نبود بلکه باید باشورای نظار که گرایش های قومی ولسانی درآن کاملاً محسوس بود تماس گرفته می شد. این تماس هاچگونه صورت گرفت؟

هیچکس درین رابطه صریح تر از کشتمند سخن نگفت هیچکس نیز سخن وی راتردید نکرد! کشتمند

هیچکس درین رابطه صریح تر از کشتمند سخن نگفت هیچکس نیز سخن وی راتردید نکرد! **کشتمند درهمان آغاز اعلام ائتلاف میان شورای نظار و جنبش اسلامی برهبری رشید دوستم در مصاحبه با بی بی سی گفت:**
این ائتلاف(باشورای نظار) ثمرهء ماهها بحث و مذاکره و تبادل نظر است که درین جلسات هم ماو هم طرف مقابل درقسمتی ازنظرات خویش تعدیل و تجدید نظر راپذیراشدیم و ازتندروی صرف نظرکردیم.

درهمان آغاز اعلام ائتلاف میان شورای نظار و جنبش اسلامی برهبری رشید دوستم در مصاحبه با بی بی سی گفت:

این ائتلاف(باشورای نظار) ثمرهء ماهها بحث و مذاکره و تبادل نظر است که درین جلسات هم ماو هم طرف مقابل درقسمتی ازنظرات خویش تعدیل و تجدید نظر راپذیراشدیم و ازتندروی صرف نظرکردیم.

زنجیر درکشیده شدن ازضعیف ترین حلقه ء خویش می گسلد... وضعیف ترین حلقه درمیان نیروهای جهادی شورای نظار بود که کمونیست ها از ضعف آن آگاه بودند، کمونیست ها ازطریق شبکه های وسیع اطلاعاتی خویش ازقدرت وضعف همه نیروهای جهادی بخوبی آگاه بودند و به این نکته بخوبی پی برده بودند که شورای نظار بیش از اینکه یك قدرت باشد سرابی است فراهم آمده ازتبلیغ و پروپاگند و هرچند از نظر تشکیلاتی وابسته به یك تنظیم بنیادگرای اسلامی بشمار می رود ولی در واقعیت امر از استقلال کامل در عمل و نظر برخوردار است بحدی که نیازی به اطاعت فکری ازجمعیت نداردبلکه این جمعیت است که باید بدنبال شورای نظار گام بردارد .

ملیشه ها وکمونیست ها پلان کار را بخوبی طرح کردند ، آنها فقط به قدسیت جهادی شورای نظار نیازمند بودند تادر پناه آن گذشته ننگین خودرا ازنگاه تیزبین ملت پنهان کند، شورای نظار چنین پناهگاهی رابرای آنان فراهم آورد وجنگ میان ملیشه های وابسته به جناح ببرك باحزب اسلامی جنگ حزب وجمعیت به سرفتح کابل عنوان گردید.

مسعود درمقام وزارت دفاع هرگز تلاش جدی برای ساختن یك نیروی مشترك ازتنظیم های جهادی برای تامین امنیت در کابل نکرد زیرا کمونیست ها نفع خویشرا در عدم امنیت درکابل می بینند تانیروهای خودرا بصورت منظم سازمان دهی نمایند، درطول سه جنگ میان حزب وحدت و اتحاد اسلامی ما شاهد این تحول هستیم که هر بار بهتر از بارقبل میان نیروهای ملیشه و حزب وحدت هماهنگی درعمل بوجود می آید و شورای نظار ظاهرابه عنوان بیطرف ومیانجی به تحکیم مواضع حزب وحدت برضد اتحاد اسلامی می پردازد .

درجنگ اول حزب وحدت باوجود تلاش فراوان قادر نشد تایکی از قرارگاه های اتحاد درتخنیك ثانوی را از آنان بگیرد بعداً شورای نظار ازاتحاد اسلامی خواست تاتخنیك ثانوی راتخلیه کنند، دلیل شورای نظار آن بودتا قوای شورای نظار درین جامستقر شده و بعنوان حائل میان نیروهای حزب وحدت و اتحاد عمل نماید، اتحاد تخنیك ثانوی رابه شورای نظار سپرد و نیروهای خودرا ازآنجا خارج کرد ولی فردای همان روز نیروهای شورای نظار آنجا را به نیروهای حزب وحدت سپردند!! درجنگ بعدی نیز عین همین عمل از طرف شورای نظار درخوشحال خان مینه تکرار شد، مسعود باحزب اسلامی بر سر خروج ملیشه ها ازکابل به توافق رسید ولی نه تنها این کار عملی نشد بلکه برعکس کار خلع سلاح مجاهدین در داخل کابل توسط ملیشه ها آغاز گردید! سلسله تحقیر و توهین مجاهدین بوسیله ملیشه ها در داخل شهرکابل ادامه دارد و روزی نیست که خبر از دستگیری مجاهد ویا سوء قصد بجان مجاهد در داخل شهرکابل نرسد. مسعود به یاران دیرینه خویش نیزجفا کرد، مولوی جلال الدین حقانی که مخلصانه در تلاش به پایان آوردن درگیری ها و استقرار امنیت درکابل بود اکنون مایوس است زیرا مسعود نمیخواهد او بعنوان میانجی مطرح باشد، بعضی از قوماندانان برجسته جمعیت در اطراف کابل نیز دست جانبداری از مسعود بر داشته اند .

شورای نظار بخاطر این بوجود آمد که به ادعای موسسین آن یك پیوند فراگیر میان همه نیروهای جهادی بدور از تعصب های تنظیمی بر قرار سازد و در ایجاد وحدت بکوشد ولی امرز این شورا از ایجاد وحدت درمیان اعضای خویش نیز بازمانده است .

برگردیم به مقایسه میان مارشال تیتوی یوگوسلاویا و جنرال مسعود خود ما، تیتو در یوگوسلاویا پل های وحدت میان ملیت های مختلف بوجود آورد که حدود نیم قرن بعد ازجنگ دوم جهانی این ملیت ها در مرزهای مشترك جغرافیائی حیات بسر بردند ولی تیتوی وطنی ما پل های پشت سرخویش را ویران می کند، تیتوی یوگوسلاویا بعد

> **شورای نظار ازطرف مخالفینش همیشه متهم به جانبداری ازگرایش های التقاطی بوده است ولی درین میان دروجود یك گروه التقاطی اندیش یعنی سازمان (الحدید) درکنار مسعود تردیدی وجود ندارد.**

از جنگ یك ملیون نیروی مسلح مردمی از ملیت های مختلف رادرکنار خویش داشت که استالین رابه مبارزه فرا خواند ولی تیتوی وطنی ما حتی پنج درصد از این نیرو رانیز در اختیار ندارد تا جانشین ملیشه ها درکابل ساخته و امنیت رابوسیلهء آنان برقرار سازد.

مسعود آبروی جهاد ومجاهدین وکارنامه های افتخار آفرین همسنگران خویشرا همراه با مقام قهرمانی خویش فدای رسیدن به قدرت کرد.... آیا او قادر به رسیدن به قدرت خواهد بود ؟

تکل

دامت د حماسو علمبردار

نن به دیوی حماسی اتل وینم، دسبانی تاریخ دیوه ویاړ من باب یو برمیال علمبردار! او د عصر دمعجزی یوتلپاتی کردار!

په زړه می دجذباتو توپان را والوزی ،د تصور په نیلی سپور شم دتاریخ پاڼی راته ژوندی ننداری شی، مقدونی سکندر می مخی ته راشی چه د زغره پوښوسپرو کتارونو په منځ کی په آس سپور دی د اسونو د پښو گردونه یی آسمان ته پورته کیږی...

په زړه کی را گرځی چی زه به نن یو بل سکندر وینم.... همدغسی په شان اودبدبه کی همدغسی د پوځونو تر دیوالونو شاته او د پولادینو کلاگانو په منځ کی !!!

ناپلیون وینم چی په سپین آس سپور دی په لاس کی یی توره ده او په مخه کی د فتحی منزلونه.

توره یی خوځیږی ، مرگونه زیږوی او ملکونه فتحه کوی ، یوځل بیا په زړه کی راتیره شی چی نن به زه د عصر له ناپلیون سره گورم ، نن به زه د یوه فاتح ولس له فاتح علمبردار سره وینم، په زړه می د جذباتو توپانونه نور هم گړندی والوزی، په خیال او تصور کی دعصر د اتل څیره راته مخکی مخکی کیږی، اوس به په مخه کی اوه کتاره کلکی پهری دریدلی وی، دپولادینو زغرو او وسلو د ځل بل په مینځ کی به دمعجزی اتل په شاهانه شان او غرور کی ناست وی ، پر تندی د فتحو ځلا، پر خوله د تکبر او غرور موسکا، آخر دایی حق هم دی باید همداسی وی ، لکه سکندر، لکه ناپلیون لکه ژول سزار او لکه نور فاتحین.!!!

دیوی ستری حماسی اتل دی ، دتاریخ د یوی عظیمی معرکی اتل دی او د یوه برمیال قوم یو توریالی سرلښکر.!

په همدغه تصور کی پر مخ روان یم ورو ورو چوپتیا او آرامی دزورورو چاودنو په شور کی رخصتیږی الوتکی په فضا کی دوری خوری، لاندی د بمونو لوخړی اوچتی دی ، درنو ټ زونو په ځمکه زلزله راوستلی ده .

دتورولوخړوپه منځ کی مرگو اتڼ اچولی دی او بیا ددغه تودی معرکی په ډگر د بمونو په درزهار او دراکهونو په ډنډوکار کی دیوی سپیری غونډی پرسر دیوی پربنی شاته یو ځوان ناست دی، خړ پکول پرسر په گردونو کی پټ او د تورو خوړنیو په منځ کی !

بلکل عادی انسان دی، نه یی پر سر د سکندر په څیر له غمیو ډك تاج شته اونه یی دناپلیون په څیر په څیره کی د فتحو غرور، خو همدغه عادی انسان د عصر دمعجزی اصلی قهرمان دی دیوه مرموز برم او پرتم وړانگی یی پر تندی خوری دی چی سکندر او ناپلیون ورته پیکه کیږیء د خاورین مورچل په غیږ کې د بمونو په دربله کی ناست اتل دخپل پروردگار د ربار ته دعجز لاسونه اوچت کړی پر شوندو یی د:

«حسبنا الله ونعم الوکیل، نعم المولی و نعم النصیر» مقدسه دعاده چی ده ته یی عظمتّ وربخښلی ، دلته ماته دتاریخ پاڼی یوځل بیا رامخی ته شی نوی حماسی او داستانونه می د ذهن په پرده ځان ښییُ:

طارق چی د اروپا پر ساحل بیړه سوځوی!!!

ابن قاسم چی د (داهر) دپیلانو او لښکرو مخی ته ځان جوړوی!

ایوبی چی القدس ، دیهودو اونصاراؤ له منگلو نه خلاصوی او غزنوی چی سومنات یی رانسکور کړی دی او په جواهرو یی د خدای (ج) بنده‌گان خوشحالوی....

زه دهمداسی یوه بل اتل په مخ کی ولاړیم.

د همداسی قهرمان چی په هیڅ کی هرڅه دی خو د یوه ولس ، یوه ټبر او یوی سیمی نه، دټول امت دی، په څیره کی دډیرو حادثو او حماسو داستانونه تصویر .... په سترگو کی دسترو بریو ا و فتحو دډاډ ځلا!!!

او په تندی کی د سترو ارمانونو او هدفونو د هیلو او تلوسو څرکونه ، د تللیو عظمتونو د بیرته گټلو ارمانونه او.........

نو! ژوندی دی وی دغه اتل ، بریالی دی وی د ملت او امت د حماسو دغه علمبردار!

محمد نذیر «بشارت»

دشمال ائتلاف درامنځ ته کیدو لړزوونکی انکشافات

د«خوست» تر فتحې وروسته «تخار» ولی تسلیم شو؟

نجیب دشمال له جریاناتو څرنګه بی خبره ساتل کیده؟

ببرک کارمل د ائتلاف لوبه څه ډول توده کړه؟

یعقوبی او جنرال باقی چا ووژل؟

ددولتی امنیت وزارت پوستونه د مسعود او ببرک کارمل ترمنځ څنګه وویشل شول؟

۱۳۶۵ کال دافغانستان دمجاهد ملت دجهاد او مقاومت دعروج کال و، روسانو زموږ د هیواد داشغال اووم کال پوره کاوه ، هغوی خپل وحشیانه زور ازمویلی ؤ خوبه دی نه وو بریالی شوی چی د افغان ولس حوصله ماته کړی، برعکس جهاد زور نیولی و او د ملت روحیه لوړه شوی وه،زما نه دروسانو په تاوان وه، هره شیبه چی تیریده هغوی ضربه خوړه ، دنیا د اشغالگرو په حیث محکوم کړی وو او څومره چی مقاومت اوږدیده هغوی بی آبرو کیدل، له بلی خواد جګړی دټګرونو خساری د روسانو په ملاباندی ماتوونکی ګوزارونه کول.

روسان د عصبانیت او غوسی په حال کی وو ، هغوی په یوه داسی ګرداب کی راګیر شوی وو چی مخه یی دب وه او په شاتګ هم ورته اسانه نه ؤ ، روسی واکمن خپلو کسانو او په افغانستان کی ئی ایجنټانو ته په قهر وو ، له هغوی حخه یی له هغی وضعی څخه د وتو ابتکار غوښت ، دهغه وخت روسی واکمن ګورباچوف په خپلونظامیانو فشار راووړ، هغوی ته یی د تشدد ازدیاداو جګړی دلاوحشیانه کولو حکم وکړ او د مقاومت د ځپلولپاره یی ټاکلی موده ورته مشخصه کړه.

ددی ترڅنګ یی په دی هم فکرکاوه چی په کابل کی دخپلو ګوډاګیانو په منځ کی څه بدلونونه راولی.

ددی حالت په مطالعه کولو سره په کابل کی دکمونست ګوند مشرانو هم د قدرت لوبه توده کړه ، غوښتل ئی هرمشر او دهغه ګروپ ځان ګورباچوف او دهغه نږدی ملګرو ته دنوی وضعی په مقتضیاتو او دروسیی دګټو په ایجاباتو پوره ثابت کړی.

نجیب چی ډیر مکار او متحرك و ، دخاد دشبکی درئیس په توګه یی له کی، جي ؛ بی سره له خپلی نږدی اړیکی استفاده وکړه او دګور باچوف مغزوته ددی خبری په ور رسولو بریالی شو چی دی بنه ترا کولای شی چی دراتلونکی پړاو لپاره موثر واقع شی، دا داسی وخت وچی په شمال کی داحمد شاه مسعود، خاد او روسانو دموافقی له مخی اوربند ؤ ، اودجګړی ټول لنګر دهیواد په مشرقی، جنوبی او جنوب غربی سیمو پروت ؤ.

نجیب په ډیر مهارت له دی ټکی ګټه پورته کړه ا و ګورباچوف ته یی د یوی غونډی دوقفی په منځ کی په داسی حال کی ځان ورساوه چی هغه د تفریح لپاره قدم واهه.

نجیب ،ګورباچوف ته وویل چی اوس ټوله جګړه او مقاومت د پښتنوپه سیمو کی روان دی، دی (نجیب) په دی وجه چی « پښتون » دی کولای شی د مقاومت شدت بیخی راکم کړی ، نجیب که څه هم په هیڅ توګه له خپلو ټولو هڅو سره سره له روسانو سره د خپلی دی وعدی په پوره کولو بریالی نشو خو دیوی مهمی نقطی په توګه یی دګورباچوف دپام ور اړولو په برخه کی تری اعظمی استفاده وکړه.

ګورباچوف ، کی ،جی ،بی، او د افغانستان دچارو نورو مسئولو اداروته حکم وکړ چی نجیب راوړاندی کړی.

دهمدی لپاره د ۱۳٦۵ په پسرلی کی د خلق دیموکراتیک گوند اتلسم پلینوم جوړ شو، ددی پلینوم په نتیجه کی ببرک کارمل لری شو او نجیب د گوند عمومی منشی وټاکل شو.

دی کار دنوموړی گوند خپلمنځی اخ و ډب تشدید کړ.

خو کشمکش هغه وخت لا زیات شو چی نجیب د «ملی روغی جوړی» سیاست دکمونیست گوند دستراتیژیکی تگلاری په توگه اعلان کړ، فرمایشی اساسی قانون او پارلمان منځ ته راغی او هغو «بی طرفانو» ته چی په نظریاتی لحاظ کمونیستانو ته نژدی وو، په کابینه کی برخه ور کړل شوه، نجیب دده په اصطلاح له اپوزیسیون سره ډیالوگ خپل شعارکړ.

دببرک پلویانو د نجیب دا تگلار او اقدامونه دگوند له اساسی خط مشی څخه انحراف او په اصطلاح دکار گری طبقی له ایډیالوژی سره خیانت وگاڼه، هغوی تر همدی نامه لاندی د خپلو افرادو سازماندهی پیل اود نجیب دنسکورولو لپاره یی د خپلو افرادو په صف بندی لاس پوری کړ.

دروسی لښکرو وتل زموږ د مسلمان ملت د جهاد یومهم هدف ؤ روسان د خپلو ټولو لارو او زوررونو ترازمویلو وروسته له افغانستان څخه وتوته مجبور شول، نجیب له دی پرته بله لار نه درلوده چی دهغوی له وتو سره موافقه وښیئ، ځکه نور هیڅ شی دروسانو دا یأس په امید نشوای بدلوای چی د افغانستان د اشغال د هوس ادامه د هغوی لازیاتی بربادی ته دبلنی ورکولو معنی لری.

دببرک کارمل ډلی له افغانستانه دروسی پوځونو وتل د «ثور انقلاب» ماتی او یو تاریخی خیانت باله، دوی ویل چی باید روسان ونه وځی، باید روسان ددوی د «انقلاب» نتایج له پامه و نه غورځوی او دگوند د ځلویست زرو« شهیدانو!!» دوینو دضایع کیدو

له کینی نه ښي خواته: کارمل- اسلم وطنجار او ملاعبدالعزیز

غلطی ونکړی.

دببرک کارمل گروپ دروسانو په دی «جرم» له افغانستانه دپوځونو په وتلو کی نجیب هم گړ تبلیغاوه، او دا ټکی یی هم د نجیب په خلاف دقدرت په وخ وډب کی استعمالاوه، د قدرت دامبارزه به کله پټه شوه او کله علنی، خو دنجیب تر اداری لاندی استخباراتی ارگانونو پری څارکاوه.

مخکی تردی چی په روسیه کی دگورباچوف دمرستیال «یانایف» په هڅری افراطی کمونیستان کودتا وکړی، ددی زمینه برابره شوه چی کارمل بیا هیواد ته راستون شی، ددی زمینی په برابرولو کی دنجیب توافق هم د خیل و، که څه هم ظاهراً دببرک دراستنیدو عوامل نور یادیدل خو اصلی نقشه داوه چی کله افراطی کمونیستان په روسیه کی قدرت تر لاسه کړی، دکابل واگی به کارمل ته سپارلی کیږی.

ببرک له نجیب سره ژوره عُقده درلوده، هغه په اردو او گوند کی خپل پلویان تنظیمول، غوښتل یی چی که ممکن وي د تشکیلاتو له لاری او کنه د پوځی اقدام په وسیله له نجیب څخه قدرت واخلی، دیانایف له کودتاسره دببرک دراستنیدو د ارتباط ټکی هغه وخت واضح شو چی کله دگورباچوف په خلاف حرکت وشو، ببرک کارمل او گروپ یی داحرکت د خپل بری په توگه

جشن ونیو.

دتعیش او شراب نوشی دمحفلونو په جوړولو یی یوبل ته مبارکی ویله ، او په بیلا بیلو ولایتونو کی ئی خپلو افرادو ته مبارکی لیږلی.

خو چی کله دیانایف دکودتا دماتیدو خبر خپور شو ، کارمل دروسیی دکمونیستانو په مرسته د اقتدار له تر لاسه کولو نا امیده شو، خودقدرت دتر لاسه کولو له هڅی او یاکم ترکمه له نجیبه د غچ اخیستو له کوښښه لاس په سر نشو.

دا داسی وخت و چی دجنرال شهنواز « تڼی» کودتا نجیب ډیر کمزوری کړی ؤ ، دی کودتا له یوی خواهغه ته دخساری او تلفاتو په وجه ضربه ورکړه او بل په دی چی چون دا اقدام د حزب اسلامی په ملاتړ شوی وو، نجیب دډیرو داسی لوړ رتبه منصبدارانو په تصفیه کولو لاس پوری کړ چی دببرک کارمل دپلویانو په وړاندی یی دده مرسته کولای شوای، دهغوی زیات شمیر یاونیول شول ا و یا وتښتیدل، دی پیښی دملی ترکیب له مخی د قدرت موازنه دهغو کسانو په گټه چی اکثریت یی دشمال اودببرک کارمل پلویان دی واړوله .

په دی منځ کی ځینو وگړو په ډیره ځیرکی په دولتی دستگاه او ادارو کی دپښتنو د نقش په برخه کی تبلیغات زیات کړل.

دتڼی کودتا نجیب مجبور کړ چی په نویو نظامی ځواکونو تکیه وکړی، له دی نقطی څخه د ببرک « کارمل » ډلی استفاده وکړه ، خپل قوتونه یی له رژیم نه ددفاع لپاره نجیب ته وړاندی کړل او په ځینو نورو فاشیستی حلقو یی هم کار و کړ ، داکار په دی تمام شو چی ددوستم ملیشه دپرسونل ا و تجهیزاتو له مخی ډیره پیاوړی او په شمال کی نوی قومی قطعی او جزوتامونه جوړ شی.

دمجاهدینو دبی سیاله مقاومت او جگړی په نتیجه کی دخوست فتحی هم یوحانگړی اغیزواچاو ، دببرک «کارمل » گروپ دخوست له سوبی څخه د نجیب داتوریتی دکمزوری ښودواو په شمال کی دخلو پلویانو د تشکل او سازماندهی لپاره گټه واخیسته ، دخوست په جگړه کی ځینی لوړ رتبه کمونیستان کابل ته په تیښته مجبور شول.

نورجنرالان او لوړ رتبه منصبداران چی له سربازانو سره یو ځای ونیول شول، هغوی ټول تر یوی مودی وروسته خوشی کړای شول، البته څه کسان چی دجگړی په دگر کی ووژل شول، دهغو حساب خو بیل دی.

دببرک « کارمل » پلویانو لا پخوا داخبره کوله چی"شرق، جنوب او جنوب غرب جنرالان زیږوی او شمال عسکر» دخوست تر سوبی یی وروسته داتبلیغات تاوده کړل چی له خوسته پښتانه جنرالان ژوندی راغلل خوددوستم د ملیشی افراد یامړه او یا بندیان شول دببرک کارمل « گروپ» او دشمال نورو فاشیستی حلقو دخوست تسلیمیدل یوملی سازش او دنجیب له خوا په پښتانه قوم پوری مربوطومجاهدینو ته یو امتیاز ور کول وباله ، هغوی داموضوع ډیره وشاربله

کشتمند

او فوق العاده زیاته تبلیغاتی او سیاسی گټه یی تری وکړه، هغوی نه یواځی په دی برخه کی په مجلسونو کی خبری

نجیب

کولی، بلکی مسئله یی لیکنو او مطبوعاتو ته هم وایستله « میهن» جریده چی د« ستم ملی» په سازمان پوری اړه لری. په دی لیکنی کولی چی گنی په خوست کی ددوستم افراد په ډله ایزه وژنه محکوم شوی ؤ، اود خلق گوند پښتانه غړی چی جنرالان دی ژوندی پریښودل شوی دی.

دوی خلکو ته دا تبلیغوله چی ددی معنی داده چی باید پښتانه باداران وی او نور قومونه رعیت او باید له دی رعیتی توب څخه ځانونه وژغورو ، په دی تبلیغاتو کی د محبوب الله « کوشانی» په مشری دستم ملی سازمان ، دخلق دیموکراتیک گوند د ننه گرو. کار گروپ چی فعال کسان ئی داوود امان الله په منگولیا کی د افغانستان سفیر، هاشم پیکار د فاریاب پخوانی والی، فضل احمد طغیان دکارمل پخوانی والی او وکیل د بهرنیو چارو وزیر ، ددوی ترڅنگ دببرک کارمل ډله چی زیاتره لویان یی دشمال دی او ستم ملی ته ورته تمایل لری، پیشقدم وو.

د« سازا » او« سفزا» په نامه دوه نوری کوچنی فاشیستی وی چی هغي ددی ځواکونو وا احمد شاه مسعود دشورای نظار ترمنځ دپله نقش تر سره کړ.

دی قوتونو دشورای نظار په گډون ددی په ځای چی نجیب دیوه مزدور ، کمونیست او جنایتکار په توگه محکوم

كرى،خپلو تبليغاتو ته يى داسى بڼه وركړى وه چى غواړى پښتون سالارى له منځه يوسى، په دى بنايى دحركت لورى نه درژيم په خلاف اونه



" برياليّ "

دكمونيستانو په ضد بلكى دپښتنو په خلاف توجيه كاوه.

ددى حلقو دگډ تفاهم په نتيجه كى تخار لايت احمدشاه مسعود ته وسپارل شو، دوى داكار د خوست د سوبى ځواب وگاڼه، نجيب دجمعه اخك ترقوماندانى لاندى تخار ته قطعات وليږل جمعه اخك بيرته تخار له احمد شاه مسعود څخه ونيو، او تر هغه وروسته يى د عبد الروف بيگى تر قوماندى لاندى يو قوت پكى ځاى په ځاى كړ، عبدالرؤف بيگى دتخار د بياتسليمى زمينه برابره كړه او تخار دوهمه پلا بيا احمد شاه مسعود ته وسپارل شو ، مسعود د مخكينى نقشى له مخى په تخار كى تسليم شويو افرادو ته نغدى روپى او جامى دسوغات په توگه وركړى او هغوى يى له دى تبليغاتى دستور سره كوروته وليږل چى په خوست كى زموږ افراد وژل كيږى او په شمال كى سوغاتونه وركولى كيږى.

ددى حوادثو په منځ كى له يوى خوا دببرك كارمل دپلويانو ستميانو او احمدشاه مسعود ترمنځ ناستى ولاړى تودى شوى له بلى خوا يى په ډير قوت او مهارت دتبليغاتو دا ځپه راپورته كړه چى حكمتيار غواړى د نجيب په مرسته ديوه كودتايى اقدام له لارى قدرت واخلى او دپښتنو واكمنى وساتى.

ډيره باورى خبره ده چى ددوستم ،بريالى ، احمدشاه مسعود او دهغوى ځينو نورو ائتلافى كسانو ترمنځ يوه غونډه وه چى په يوه برخه كى دوستم او مسعود د يوه بل لاسونه ټينگ كړل او په قهقهه خندايى داجمله بدرگه كړه چى........".ديگر هرچه كه ميشه امى يك چيز خو بين ماخوب مشترك اس كه بايد ده افغانستان حكومتى بيايد كه دروازه اداره راتك تك كنى و نه شنوى كه: « حوك يى؟............ »

له دى يوى ساده جملى نه د ائتلاف دنقشى كرښنى په ډاگه كيږى ددى روحيى د خپرولو اهداف په نورو برسيره داوچى دببرك كارمل گروپ درژيم هغه عناصر چى دشمال وو په نجيب يى باوره كړى او دهغه له مرستى لاس واخلى او په دى توگه يواځى پاتى شى، ځكه د نجيب په وروستيو شپو ورځو كى له اردو او څارندوى څخه پښتانه دهغو عواملو په بنا چى مخكى ورته اشاره وشوه زياتره ايستل شوى وو.

كه څوك پاتى هم وو دلاندى سطحى او جنگى پرسونل څخه بى برخى وو او په دى توگه درژيم زياتره جنگى ځواك دشمال وُ.

دلته داپوښتنه پيدا كيږى چى آيا نجيب په دى جريان خبرو او كنه؟ كه نه وُ خبر علت يى څه و؟ ددى پوښتنى په ځواب كى بايد ووايو چى ددولتى امنيت وزارت داټول مسايل له نژدى تعقيبول ا و خپل معلومات يى لوړو اداروته انتقالول ، خو يعقوبى او نجيب ته نه رسيدل ، ددولتى امنيت وزارت داوومى ادارى رياست ديوه مركزى نظرياتى رياست په توگه دنده درلوده چى دهيواد دسياسى او نظامى وضعى په باب چى ټول رپوټونه ترلاسه كيدل تر څيړنى او تحليل وروسته جمهور رئيس ته وليږى ، په اووم رياست پورى چى ددى رپوټونو دراټولوكوم مديريت وُ هغه خپل كار كاوه ، په دى توگه چى ترگوتو كړى معلومات يى دخپلى ادارى رئيس ته وړاندى كاوه، داوم رياست رئيس نصير نوميده او هغه د جنرال تنى تر كودتا وروسته د فريد«مزدك» او دهغه دوروريار محمد چى ددولتى امنيت دوزارت لومړى مرستيال لخوا په همدى چوكى ټاكل شوى وُ ، داسړى د ببرك « كارمل » پلوى وُ .. ده به راپور يار محمد ته وركاوه او بايد يارمحمد نجيب ته رسولى واى ، مگر يار محمد ټول هغه راپورونه چى دشمال د جرياناتو په هكله



سليمان لايق

وو له ځان سره ساتل او يعقوبى ته يى نه ور بنودل. داراپورونه به د فريد« مزدك» او يارمحمد ترمنځ تر تبادله كيدوورووسته بيرته اجرايوى لاربنوونو اولومړنى ادارى ته سپارل كيدل، تقريباً يوكال دمخه دى او ځينو نورو اداروته داشك پيدا شو چى په پخوانيو راپورونو به دوزيرااويانجيب هدايتونه وو او كه به دانه وو ددوى شفرى علامي به وى پرى چى هغوى كتلى دى، تر يوه كال وروسته پوه شول چى ددوى راپورونه پټ ساتل كيږى. په دى لته كى شول چى له وزير سره دنيغ په نيغه اړيكى كانال پيداكړى او په دى كار بريالى هم شول.

يار محمد يو داسى سړى وُ چى

ډیری خبری یی نه کولی، په ظاهره ارام او کم جرئته معلومیده ، یعقوبی پری ډیر باور کاوه او هغه یی له خپلو خاصو فرمانبردارانو څخه ګانه، مګر هغه وروسته قانع شو او له دی سره موافق شو چی دیار محمد له خبریدو پرته راپورونه مستقیماً واخلی ، خو دا داسی وخت ؤ چی په شمال کی پټ فعالیتونه په ځرګندو پیښو باندی دبدلیدو په حال کی وو او نور په یعقوبی اونجیب ناوخته شوی وه ، هغوی نه د تصمیم وخت در لود او نه داساسی چاری وس، دوی هڅه وکړه چی په شمال کی د قطعاتو په قومانده کی تبدیلی راولی.

مثلا په حیرتان کی دځای په ځاي او یایمی لوا قوماندان جنرال مومن یی تبدیل کړ او ددولتی امنیت دکدری چارو مرستیال زمان «ارزو» ته وظیفه ور کړه شوه چی مومن مرکز ته راوغواړی خو په همدی ورځ یار محمد هم نظار شوری او هم جنرال دوستم او مومن ته خبر ور کړ چی که کابل ته راشي نجیب یی اعداموی، ددی ترځنګ جنرال دوستم ته خبر داری ورکړ شو چی محتاط و اوسی، نجیب پلان لری چی کابل ته یی دراتلو په وخت کی د سورلی الوتکه په راکټ وولی، ددی ترځنګ نجیب درسول قهرمان په نامه یو جنرال په شمال کی داتلسمی فرقی قوماندا ؛ او بشیر « پیوستون » دبلخ والی وټاکه ، ا و دهغه ولایت دڅارندویو او یایمی لوا وو قوماندانانیی هم نوی مقرر کړل ، داکسان زیاتره پښتانه وو.

دا داسی وخت ؤ چی دنجیب پښنی په لړزه وی او دهغه دبقا تضمین دهیچا په وس کی نه ؤ، نور که دهغه اقدامونه دده خپلو پلانونو ته منسوبیدای ، ډیر موجه نه واقع کیدل. خو «حکمتیار» یومسلم ځواک و ، هم یی د حالاتو دواګی دکنترول لپاره دابتکار قوه درلوده هم خپلی مخی ته په راوړاندی کیدونکو ځواکونو باندی دتهاجم نیرو.

دائتلاف مسؤلین پوهیدل چی نجیب ددوی په وړاندی دتم کیدونه دی، ددوی قدرت ته د رسیدو لپاره بله وسیله نه درلوده ، بایدچی دمجاهدینو احمق ګروپونه یی داقلیتونو د حقوقو ددفاع په نامه غولولی وای، او دخپلو رقیبانو په وړاندی یی تری کار اخیستی وای دشمال ترپیښنو دری میاشتی دمخه دببرک « کارمل» ګروپ غوښتل چی په کابل کی دیوه نظامی اقدام په وسیله

له کیڼی نه ښی خواته : اصف دلاور، نبي عظیمی او....؟

په مخ کی اساسی قوت «حکمتیار» دی نو په همدی بنایی دشمال په برخه کی دنجیب تصمیمونه دحکمتیار دستوروته تبلیغ کړل او ویل به یی چی حکمتیار غواړی په شمال کی دپښتنو واکمنی ټینګه کړی.

په دی ټولو هڅو کی دپلان جوړولو نقش دببرک کارمل ؤ ، دببرک کارمل ګروپ لومړی په دی کار وکړ چی دشمال دولتی قومانداناڼ له ځان سره هماهنګ کړی او بیا له شورای نظار څخه هم دځان په ګټه دنجیب په نسکورولو کی استفاده وکړی.

دژبنیو اختلافاتو له راپورته کولو څخه دببرک کارمل هدف داوُچی دځان لپاره یوه دتکیی نقطه پیداکړی، دهغه نجیب نسکور او اقتدار په لاس کی واخلی ، دوی مخکی له دی چی اقدام وکړی دا اوازی یی خپری کړی چی «حکمتیار» تصمیم لری د جنرال اسلم « وطنجار» رازمحمد «پکتین» سلیمان« لایق» او مانوکی« منګل » په مرسته کودتا وکړی دکارمل ګروپ په علنی تبلیغاتو کی په دی پروګرام کی دنجیب نوم نه اخیست خو په پټو کی یی هغه پری ګډ یاداوه .

دکابل ګارنیزیون عمومی قوماندان جنرال نبی عظیمی چی دکارمل له خاصو پلویانو څخه دی دښار په کمربندونو باندی ددښمن داحتمالی بریدونو د خطر په پلمه لومړی درجه احضارات اعلان کړل خو دنجیب

طرفدارانو یې مخه ونیوله،ددې پلان ترماتیدو وروسته کارمل په خپله دوهمه نقشه چې سناریوئې دمخه تیاره شوی وه جدي کار شروع کړ، هغه پلان داؤ چې له شورای نظار سره به ائتلاف کوي او خپل افراد به دشوري نظار او جمعیت تر پوښ لاندې په دولتي دستگاه کې ځای په ځای کوي.

دلته یوه پوښتنه راپیداکیږي چې دشمال ترپیښو وړاندې چې نجیب دببرک « کارمل» دپلویانو په عزایمو پوهیده هم، نو ولې ئې اقدام نه کاوه؟

ددې یو ځواب دادې چې نجیب خپل کوم اساسي قوت نه درلود د، کې،جې،بی په مټو رامنځ ته شوی ؤ او دمالي او پوځي امکاناتو په درلودو سره یې دبیلابیلواو له یوبل سره مخالفو حلقو له معجون څخه په کار اخیستو خپله واکمني ساتله، په دې بنا هغو ته دکارمل دپلویانو په گروپ چې مهم پوستونه یې اشغال کړي وو لاس اچول اسانه کار نه ؤ ، په تیره چې دجنرال تني تر اقدام وروسته ډیر کمزوری شوی هم ؤ.

خو زما په فکر ددې بل اساسي علت دادې چې نجیب غوښتل یوه پیچلې او ستومانوونکې وضعه رامنځ ته شي، دیوې خوفناکې جگړې اوربل شي ا و په دې توگه دیوه نږدې دوست خبره ده چې

،، اکرام پیگیر ،،

سره له دې چې هغه یوه نامعلوم مستقبل ته په مبهم انتظار کې بندي ناست دی.خوچې کله دده تر نسکوریدو وروسته د وضعې دخرابوالې خبرونه اوری خوند ترې اخلي، او وایې چې د اوضاع دپیچلتوب او ستونزو دایجاد خبرونه دهغه ټولې پریشانې لرې کوی.، دابنیې چې نجیب قصداً غوښتل زموږ په مظلوم ملت باندې له یوه تیاره ماښامه په خلاصیدو دبل ماښام تر وزمې راشي، اوس به راشو دشمال دپیښو شروع ته :

لکه مخکې موچې ووېل جنرال مومن ددولتي امنیت دگارډ داویایمې لوا چې په حیرتان کې پرته وه ، قوماندان ؤ دی دبغلان داندراب دی.

جنرال مومن یو متعصب او چپاولگر سړی دی دحیرتان په بندر کې دوظیفې درلودلو له لارې یې دقاچاق او تالان په کولو لویه پانگه ترلاسه کړه ، او اوس په تاشکند کې د مجللو بلډینگونو خاوند دی.

دنجیب دحکومت په اواخرو کې دکابل دمسئولینو ورسره اختلاف راغی، دا اختلاف په هیڅ توگه په دې بنسټ نه ؤ چې گنې هغه متعصب ، چپاولگراو جانې ؤ، بلکې په دې اساس ؤ چې دنجیب په خلاف اودببرک « کارمل» او شورای نظار په گټه یې خپل فعالیت او تحرک خورا تشدید کړ.

دکابل حکومت تصمیم و نیو چې راونې غواړي او په ځای یې دلوئاسیاسي آمر چې دلغمان ولایت ؤ وټاکې، په عین وخت دبلخ ولایت والي او د ځارندویو او اتلسمې فرقې قوماندانان نوی وټاکل شول.

جنرال مومن دببرک« کارمل» په دستور دتبدیلې له منلو سرغړاوه ور پسې جنرال دوستم هم دببرک او سیداکرام پیگیر په اشاره مرکز ته دبې اطاعتۍ پیغام راولیږه او د شورای نظار په هماهنگۍ یې دنویو تبدیلیو مخالفت کولو ته ځان چمتو کړ.

له بلې خوا دسیدکیان زوی هم دببرک کارمل او «سفزا» سازمان دهڅو په نتیجه کې په جریان ورگډ شو.

نجیب جنرال دوستم او مومن دپوځلاکولو لپاره دجنرال رفیع ، مانوکې منگل او نظامي خاد د رئیس په مشرې بیلابیل هیأتونه ولیږل، خو نتیجه یې ورنکړه ، په دې کې مانوکې منگل ډاکتر نجیب ته دشمال وضعه له کنتروله بهر او دانفجار په حال کې وبلله، وروستی هیأت چې دنجیب له خوا دشمال دیاغي جنرالانو دراضي کولولپاره ولیږه دکابل گارنیزیون قوماندان جنرال نبي « عظیمي» او ددولت سلاکاروزیر سید اکرام پیگیر پکې وو سره له دې چې دواړه کسان دببرک « کارمل » ډیر نژدې ملگري وو مگر نجیب پرې باور وکړ او دا هغه ټکې دی چې باید پرې ژور سوچ وشي.

دوستم

نبي عظیمي چې څرنگه بلخ ته ورسید مزار ته یې پیشنهاد وکړ چې دشورای نظار ځواکونه ځانونه دبلخ لویې لارې او کمر بند ته نږدې کړي ، په بلخ کې ددولت قوتونه په خپل منځې اختلاف اخته دي له مزاره ددفاع قابلیت نه لري، که جمعه اخك، دبلخ ددولتي امنیت رئیس تاج محمد او بلخ ته نور نوی لیږل شوی کسان بیرته کابل ته وغوښتل شي، جنرال رشید دوستم چمتو دی چې له جوزجان څخه خپل قطعات مزار ته ولیږي او دهغه ښار دفاع او امنیت تامین کړي، نجیب د نبي عظیمي پیشنهاد ومانه او جمعه

اڅك ، جنرال رسول « قهرمان » او تاج محمد یی مرکز ته راوغوښتل، جنرال عظیمی دا پیشنهاد هم وکړ چی جنرال دوستم دی دشمال د اوپراتیفی گروپ دقوماندان په توگه وټاکل شی، دا پوست دجمعه «اڅك » وُ ، خو نجیب یواځی



جنرال رفیع

داوپراتیفی قوماندانی دسرپرستی اجازه ورکړه، له دی سره جوخت ددوستم قطعاتو له شبرغانه حرکت وکړ او دوړیو لیوانو په څیر په ښار ورتل شول،جنرال دوستم دځپلو قطعاتو له ننوتو سره سم دشورای نظار او حزب وحدت افرادو ته هم دداخلیدو اجازه ورکړه، ددوستم ملیشی او شورای نظار افرادو په بلخ کی دتاریخ بدترین چور وکړ او زیاتره اموال یی شبرغان او سمنگان ، خلم او تخار ته ولیږدول.

په شمال کی درژیم اوکمونیست گوند قوماندانانو دوړواو لویو ښارونو دروازی شورای نظار ته پرانستلی، اودببرك کارمل له خوا ددی روحیی دځپریدو او دی تگلاری دځپلیدو نتیجه وه چی که دوی دشورای نظار لاس ونه نیسی او دهغی په استعمالولو او دشمال دنورو ځواکونواو حلقو په مرسته قدم وانه خلی، «حکمتیار» قدرت نیسی.دوی په دی نظر وو چی«حکمتیار» یوبنیاد گرا ، مجاهد دی که اقتدار ته ورسیږی دببرك «کارمل » په څیر کسانو سره حتماً سخته معامله کوی، بر عکس

داحمد شاه مسعود په برخه کی یی دانظر څپور کړی وُچی هغه یو میانه رو او لیبرال سړی دی او په دوو وروستیو کلونو کی پری زیات کار شوی او اوس هغه یو مجاهد مسعود نه بلکی دیوه اقلیت دحقوقو بیرغ وړونکی دی ، په شمال کی دمسعود وروستی سوقیات په پروان کی وو چی افرادئی ددولتی قواوو له مقاومت پرته چاریکارو ته ننوتل ، خودبگرا م ځلوبښتمی فرقی دمسعود په وړاندی دمقاومت تیاری ونیو.

په کابل کی تصمیم و نیول شو چی مرکز ته دجنرال جبار دملیشی دراوړلو لپاره کندهار ته الوتکی ولیږلی شی خو دهوایی قوی قوماندان فتاح دکندهار په ځای الوتکی بلخ ته واستولی او له هغه ځایه یی دجنرال دوستم افراد کابل ته راوړل اودبگرام او خواجه رواش په هوایی دگرونو او نورو مهمو پوځی اوسیاسی مرکزونو کی یی ځای په ځای کړی.

په دی افرادو کی دشورای نظار کسان هم وو حتی دببرك کارمل په شمول دهغه دنږدی ملگرو لکه محمود بریالی ، فرید مزدك ، کاویانی او یارمحمد دامنیت مسئولین داحمد شاه مسعود دشورای نظار کسان وو.

کابل ته دببرك کارمل دپلویانو په مرسته دجنرال دوستم او شورای نظار د کسانو راتگ ادامه درلوده چی دحمل په ۲۸ مه نیټه دنجیب ددولتی امنیت وزیر جنرال غلام فاروق « یعقوبی »او وړیسی جنرال باقی ترور شول، خودشپی دهغوی وژنه خود کشی اعلان شوه.

ددولتی امنیت دوزارت دقرارگاه په اووم ریاست کې دلسم مدیریت په نامه یو عمومی مدیریت جوړ شوی وُ دامدیریت هغه وخت جوړ شوی وُ چی یار محمد ددولتی امنیت داوومی اداری رئیس وُ چی کله نوموړی دوزارت مرستیال شو، لسم مدیریت یی هم دوزات قرارگاه ته ور سره انتقال کړ،

دنوموړی مدیریت دنده داوه چی دوزات او قرار گاه د لوړو کدرونو فزیکی امنیت تامین کړی.

دی مدیریت دگارد امتیازات اخیستل او پرسونل یی له ۱۸ څخه ددیرشو کلونو تر عمره ځوانان وو دی افرادو ته برسیره په دی چی په مختلف الانواع سپکو او درنو وسلو سنبال وو دکراتی او تکواندو ، بوکس او جودو زد کړه هم ور کوله کیده .

ددی مدیریت زیاتره پرسونل یادپنجشیر دسیمی وو ا و یادفریدمزدك خپلوان او پلویان داد احمدشاه

جنرال مجید

«مسعود » کاویانی، او فرید مزدك » دهغه تفاهم یوه برخه وه چی د مسعوددمرستیال ډاکتر عبدالرحمن او «سفزا » دسازمان په منځگړیتوب شوی وُ، ددی مدیریت مرستیال هم یو پنجشیری وُ چی ذبیح نومیده، او د مدیریت زیاتره صلاحیتونه له هغه سره وو.

جنرال فاروق یعقوبی دهمدی مدیریت د افرادو له خوا په قرار گاه کی ووژل شو ترده دمخه جنرال باقی له منځه وړل شوی وُ.

جنرال باقی ، ترخپلو وژل کیدو نیم ساعت دمخه دوزارت قرار گاه ته تللی وُ، غوښتل یی چی له یعقوبی سره ووینی. خو د لسم مدیریت د افرادو له لوری وزارت ته دننوتو اجازه ورنکړله شوه ، کله چی بیرته را وگرځید او

ددولتی امنیت دوزارت دپنځم عمومی ریاست په خوا روان شو ، د ریاست انگړ ته دننوتو په حال کی ؤ چی دلومړی ریاست مرستیال سید اکبر په تو مانچه وویشت او ځای په ځای مړ شو. سید اکبر دببرک « کارمل » ډیر نږدی ملگری دی، داټولی پیښنی چی مخکی ورته اشاری وشوی دببرک « کارمل»ددی سناریو قدم په قدم عملی کیدل ؤ چی غوښتل یی ددی مخه و نیسی چی له نجیب څخه قدرت یا د غیر متنازعه فیه کسانو هیأت ته وسپارل شی او یایی مستقیما مجاهدین په لاس کی واخلی او برعکس داسی ائتلافی حکومت جوړ شی چی ده ته پکی له خپلی ټولی شرمناکی ماضی سره سره برخه په لاس ورشی.

همدا اوس متأسفانه وضعه داسی ده چی دحکومت پوځی قدرت دجنرال دوستم دی او سیاسی رهبری دببرک کارمل او دهغه د پلویانو ده .

اساسا جنرال دوستم یوبی مغزه سړی دی، هغه ته دروش او جهت ورکولو کار دببرک کارمل کار دی ، او په دی توگه د پلان او تاکتیك په برخه کی دصحنی انځورونکي، ببرک دی.

هغه ددوستم له جنگی قوت څخه گټه اخلی او دجمعیت ا و شورای نظار له اسلامی اوجهادی صبغی څخه .

دکارمل ډله له دی ټول نقش او موقعیت سره سره د ملت دبی ساری تنفر په پام کی نیولو سره نشی کولای چی په زیاته ا و علنی توگه ځان په میدان کی گلوبنیی.

مگر اصلا واقعیت دادی چی دشمال دائتلاف ستراتیژی ددوی دی، او دوی دنوموړی ائتلاف دانکشافاتو مبتکران دی.

موږ غواړو دلته دنورو مشهورو واقعیتونو ترځنگ د ملی امنیت دوزارت د لوړي سطحی ټاکنی د « مشت نمونه خروار» په حیث یاد کړو.ددی ټکی یادول هم ضروری دی چی قیادی شوری څو واری پریکړه و کړه چی ددولتی امنیت پخوانی وزارت له خپلو ټولو پخوانیو تشکیلاتو او ترکیب سره منحل دی او له هیڅ راز قانونیت څخه برخمن نه دی ، خو گورو چی یواځی دهغه وزارت نوم ددولتی امنیت پر ځای ملی امنیت شوی، نور په بشپړه توگه«زوړ رباب »، زړه نغمه ده.

داوزارت دبلخ ولایت دخاد پخوانی رئیس او دببرک سخت پلوی خان آغا او دشورای نظار مرستیال ډاکتر عبد الرحمن چی د«شعله جاوید» دگوند پخوانی غړی دی په گډه پرمخ بیائی.

دشورای نظار غړی عارف دکابل دامنیتی چارو رئیس خلیل عامل دکابل دامنیتی چارو د ریاست مرستیال دی چی دکارمل دگروپ خورا فعال عضو دی ، همدارنگه دکارمل دډلی بل غړی امیر محمد چی دپروان دی دهمدی ریاست معاون دی،

دببرک « کارمل» یوبل پلوی عبد الاول چی دسمنگانو دی دامنیت ملی وزارت دکادر او پرسونل رئیس دی.

دا وو می اداری مرستیال تورن قدیر دی چی دشورای نظار غړیتوب لري.

ذبیح الله چی پخوا په اوومه اداره کی دلسم مدیریت مرستیال ؤ او دببرك « کارمل» دډلگی سړی دی، اوس د تعلیمی مرکز رئیس دی، همداراز دسیاسی چارو ریاست دببرک کارمل دگروپ یوه سرسخت غړی مبارك شاه ته سپارل شوی دی دځلورمی او پنځمی اداری رئیسان بیا داحمد شاه مسعود دشورای نظار غړی دی.

په دی علاوه دجنرال باباجان لوا چی ددولتی امنیت په وزارت پوری یی اړه درلوده او په خپله باباجان دکارمل ملگری دی، فرقی ته لوړه کړای شوی ده او هم دجنرال مومن ، دسیدکیان دزوی اوجنرال دوستم له خوا نوی اداری جوړی شوی دی چی کلیدی نقش پکی دهغو کدرونو دی چی دببرك کارمل په گروپ پوری تړلی دی.

اوس هلته قدم په قدم وضعه په دی لوری روانه ده چی ببرك «کارمل» ډله په مهمو چارو کنترول مومی، تردی چی هغوی دا تبلیغ بیخی علنی کړی چی دوی له داسی ربانی او احمد شاه مسعود سره سروکار لری چی دیوی مشخصی مرحلی لپاره به یی دشخصیتونو له اسلامی او جهادی صبغی استفاده کوی او که هغوی دوخت په تیریدو بی اعتباره شول او د پیښنو او قضایاوو بهیر یی ددوی د استفادی عنصر وسولاوه ، بیا به یی په نورو اشخاصو بدلوی او که احیانا تر اوږدی مودی وروسته دببرك« کارمل» دگروپ بیخی دا ارتیا لری شوه بیا به یی یو مخ له خپلی مخی لری کوی.

په پای کی ددی ټکی یادونه ښه گڼو چی پاس ټولی خبری راپه گوته کوی چی زموږ په مظلوم ملت ا و گران وطن یوه خوفناکه فتنه را روانه ده او دټولو مسلمانو او وطندوستو شخصیتونو او قوتونو مسئولیت دی چی پر هغی ژور سوچ وکړی او جدی عمل ته ملاوتړی، دهغوی تکلیف بیخی روښانه ده ددی جریان په مقابل کی دمحترم « حکمتیار» تر زعامت لاندی یوه مضبوطه جبهه ولاړه ده ، ددی جبهی په لیکو کی دریدل او یا په بل دول دهغی ملاتړ هغه کار دی چی دگران اسلام ، ملت او وطن په خلاف دخاینانو او ظالمانو دروان بوگنوونکی سازش په وړاندی د مبارزی ترټولو غوره او معقول نوم دي .

حزب و جمعیت و راه دشوار از مذاکره تا تفاهم

وحید « مژده »

آخرین دیدار میان استاد برهان الدین ربانی رئیس جمهور مؤقت افغانستان و حکمتیار امیر حزب اسلامی افغانستان که با وساطت و پا در میانی استاد سیاف و مولوی محمد نبی صورت گرفت، بار دیگر امید برای استقرار حکومت مجاهدین در افغانستان و استقرار و امنیت در کابل را قوت بخشید بخصوص که هر دو طرف بر سر مسایل مورد اختلاف بحث مفصل انجام داده و به موافقت های نیز دست یافته اند.

باتوجه به اینکه رهبران ما بار ها با هم بر سر میز مذاکره نشسته و بر سر حل مسایل مورد اختلاف به توافق دست یافته اند ولی با ختم مذاکرات اثری از پابندی به مفاد موافقتنامه ها به مشاهده نرسیده است، بسیاری درمورد اینکه موافقتنامه اخیر نیز بتواند قدم عملی درجهت رفع بن بست کنونی بر دارد شك و تردید دارند که البته اینگونه تردید ها بیجا هم نیست.

اینکه استاد ربانی فقط چند روز قبل از این دیدار با حکمتیار با لحنی بسیار شدید تر از حد معمول و رایج در درگیری های لفظی میان اهل تدبیر بروی تاخته وحتی خواهان محاکمه حکمتیار گردیده بود، امید های تازه از این دیدار را تاحد زیادی تضعیف می کند واین سوال را بمیان می آورد که استاد ربانی واقعا از روی اخلاص به این دیدار آمده بود ویا اینکه از روی ناچاری یا خواهش و تقاضای دیگران.

دیداری از این نوع چند ماه قبل میان حکمتیار و مسعود نیز صورت گرفت درین دیداردرحضور جمعی از برادران انصار، حکمتیار بامسعود نیز باموافقات مشابه دست یافت ولی این موافقات روی عمل را بخود ندید و در نتیجه حمله حزب اسلامی بر کابل تلفات وویرانی های فراوان ببار آمد.

درمواد مورد موافقت اخیر آنگونه که حزب اسلامی ادعا دارد استاد ربانی به مطالبه اصلی حزب اسلامی مبني بر بیرون شدن کامل ملیشه ها ازکابل ، سبکدوش شدن همه عناصر کمونیست از پست های دولتی، جواب مثبت داده است و نیز طرفین موافقه نموده اند که اختلافات خویش را از راه مذاکره حل و فصل نمایند ، تقریبا عین همین مواد از مواد مورد توافق میان حکمتیار و مسعود نیز بود، بنظر می رسد که حکمتیار خواسته است این بار شانس خود را درین مورد با استاد ربانی بیازماید ولی سوال اینجاست که کاری که احمد شاه مسعود نتوانست انجام دهد چگونه میتواند بوسیله استاد ربانی تحقق یابد؟

البته نباید تا این حد بدگمان بود که تصور کرد جمعیت اسلامی یکسره مجاهدین را کنار نهاده و دامن ملیشه ها و کمونست ها را گرفته است ، شاید واقعاً استاد ربانی و مسعود در آنچه که میگویند اخلاص دارند ولی جریان امور ازکنترول آنان خارج است ، کمونیست های وابسته به جناح پرچم بصورت بسیاردقیق و حساب شده جمعیت را به ورطه ئی کشانده اند که رهبران جمعیت احساس می کنند هم بیرون شدن از آن موجب ضعف شدید جمعیت است و هم ماندن در آن ، جمعیت بیم از آن دارد که اگر نیرو های ملیشه ازکابل بیرون بروند دیگر نیروئی که بتواند جلو پیشروی حزب اسلامی رابگیرد وجود نخواهد داشت باتوجه به خونهای ریخته شده میان دو طرف در درگیری های ذات البینی ، تجسم چنین وضعی برای جمعیت به منزلهء یك کابوس است در عین حال رهبران جمعیت بخوبي میدانند که ادامه این وضع و ماندن آنان درین ورطه نیز برای جمعیت به منزله خود کشی هم از نظر سیاسی و هم از نظر نظامی است، در شمال نیروهای ملیشه روز بروز عرصه را برمجاهدین جمعیت تنگ تر می سازند البته جمعیت در ابتدا امیدوار آن بود تا بانزدیك ساختن مجاهدین خویش به نیروهای ملیشه، ملیشه ها را تحت تاثیر قرار داده و آنان را به صف مجاهدین آورد در حالیکه دست آورد های حاصل از این تجربه لا اقل تا امروزقرین موفقیت نبوده است بطور مثال در ولایت فاریاب حفیظ ارباب یکی از فرماندهان شورای نظار بعد از اینکه به توصیه رهبران جمعیت باملیشه ها آشتی نمود بوسیله پهلوان رسول یکی از فرماندهان قدرتمند ملیشه در شمال کشته شد و همین اکنون فشار برمجاهدین درین ولایت بحدی شدید است که بسیاری از آنان مجبور به ترك منطقه شده اند درحالیکه حتی در زمان حضور روسها در افغانستان وضع چنین نبود.فرماندهان جمعیت اسلامی، آنانی که در طول چهارده سال با پایمردی از سنگر مقدس جهاد دفاع کردند از وضعی که بوجود آمده است سخت ناراضی اند در ولایت بغلان قرماندان نیرو مند جمعیت عبد الحی حقجو راه خود را ازجمعیت جدا نموده و به ادامهء جنگ با بقایای رژیم گذشته پا فشاری دارد، در بدخشان عبد البصیر خالد در همان ابتدای کار که رژیم نجیب سرنگون شد همین موقف را داشت.

طوریکه همه شاهد بودند در آخرین جنگ میان حزب و جمعیت درکابل شورای

نظار در و ادار ساختن مجاهدین به جنگ علیه حزب به مشکلات زیاد مواجه بود ،

بعضی عناصر خلقی ویا ملیشه درصف حزب اسلامی میتوانست تا حدی در ترغیب مجاهدین جمعیت برجنگ موثر باشد ولی هر قدر در تشدید چنین انگیزه ها برای جنگ تلاش صورت گیرد نمیتواند جای این دلسردی را بگیرد که مجاهدین جمعیت می بینند که هما ن عناصری که دیروز بخاطر جنگ بامجاهدین ازنجیب رتبه بالاتر نظامی می گرفتند امروز عین موقف را درجنگ علیه حزب ازجمعیت می گیرند.

اینها همه مشکلاتی است که جمعیت اسلامی با آن مواجه است شاید رهبران جمعیت درمحاسبه ء خویش دچار اشتباه شدند و نیرنگ بازی پرچمی ها را دست کم گرفتند ولی درین مورد هیچ تردیدی وجود ندارد که اگر میان رهبران تنظیم های جهادی روحیه ء اعتماد و تفاهم حاکم می بود وضع چنین نمی شد و اگر بیطرفانه درمورد قضاوت نمائیم . حزب اسلامی تا حد زیادی در بوجود آوردن چنین روحیه نقش داشته است درگذشته حزب اسلامی همیشه در تلاش بوده است تا بصورت انفرادی و مستقل ازدیگران دست به اقداماتی بزند و ابتکاراتی از خود نشان دهد ولی این طرز العمل حزب ازجانب دیگر تنظیم ها به قدرت طلبی و انحصار طلبی حزب اسلامی تعبیر گردیده و سایر رهبران مجاهدین به اینگونه عملکرد های حزب با سوء ظن و بدگمانی برخورد نموده اند.

همانگونه که اشاره شد جمعیت امروز بایك بن بست دست و گریبان است ولی حزب اسلامی درین رابطه چه میکند؟ آنچه که از حزب درچنین شرائط می بینیم اینست که میخواهد از مشکلات جمعیت بهره برداری نموده و رقیب خویش را در اذهان بکوبد .

آیا این موضع حزب اسلامی درست و معقول است؟

هیچکس درین واقعیت تردیدی ندارد که جمعیت اسلامی نیز در طول دوران جهاد یکی از بازوان پرتوان جهاد مقدس ما علیه کفر و کمونیزم بوده است وواقعیت های عینی مبین آنست که حزب و جمعیت هیچکدام نمیتوانند طرف مقابل را از آینده افغانستان حذف کنند، شاید حزب به این امید باشد تا از شرائط فعلی بهره برداری نموده و جمعیت راتضعیف نماید ولی تضعیف جمعیت اسلامی به نفع کیست؟

کمونیست ها طی یك پلان دقیق و ازقبل تنظیم شده در صدد اند تا اختلاف میان حزب و جمعیت را تا به مرحله ء غیر قابل سازش به پیش ببرند، اگر وضع به همین شکل جلو برود وجمعیت راه چاره را درین ببینند که بیشتر از پیش خود به عناصر کمونیست و ملیشه ها متکی سازد ، با یك محاسبه بسیار ساده می بینیم که تضعیف جمعیت فقط وفقط به نفع کمونیست هاست ، بعباره دیگر هرقدر درجهت تضعیف جمعیت تلاش گردد به اعتبار ملیشه ها و کمونیست ها حتی خارج از افغانستان نیز می افزاید چنانچه دیدار چند روز قبل مقامات فدراسیون روسیه و تاجکستان با دوستم و بعضی دیگر از جنرالهای رژیم کمونیستی در سرحد تاجکستان با افغانستان نمونه روشن از قوت گرفتن این روحیه در میان همسایگان ماست که در افغانستان حکومت مرکزی وجود ندارد و قدرت اصلی در دست کمونیست ها در شمال است و باید برای حل مشکل ذات البینی با آنها تفاهم صورت گیرد.

آیا رهبران جمعیت اسلامی از این وضع راضی اند؟ آیا استاد ربانی راضی است که رئیس جمهوری حتی بی اعتبار تر از مجددی باشد؟ آیا احمد شاه مسعود راضی استکه فقط به نام وزیر دفاع باشد؟

یقیناً چنین نیست ، رهبران جمعیت نیز از وضع موجود ناراضی اند و دقیقا به همین علت است که در ابتدا مسعود و اکنون استاد ربانی باحزب اسلامی بر سر خروج کمونیست ها ازدستگاه های دولتی و منحل شدن نیرو های ملیشه موافقت کردند، عدم رعایت مواد مورد موافقت ازطرف جمعیت را حزب اسلامی به سادگی به بد عهدی و پیمان شکنی جمعیت تعبیر نموده و از آن بعنوان یك حربه تبلیغاتی سود برد و البته ازطرف جمعیت نیز بعضی هابصورت غیرمسؤلانه ، ملیشه ها را جزء از اردوی اسلامی قلمداد نموده استدلال حزب اسلامی را قوت بخشیدند ولی در واقعیت امر پیمان شکنی چیزی است و عدم توانایی چیز دیگر، برای حل این بن بست فقط یك راه موجود است و آن اینکه ازطریق تفاهم راه برای ایجاد اعتماد بین طرفین هموار گردیده و روحیه سوء ظن و بدگمانی از میان برود، هر کدام از طرفین هر اقدام طرف مقابل را تلاشی علیه خویش تلقی نکند و از بیان بازی های بیجا و بیمورد علیه همدیگر خود داري ورزند، درین رابطه سایر رهبران محترم جهادی میتوانند نقش مهم داشته باشند و چنانچه می بینیم محترم استاد سیاف رهبر اتحاد اسلامی افغانستان و جناب مولوی محمدی رهبر حرکت انقلاب اسلامی با احساس چنین مسؤلیت خطیر پادر میان نهاده‌اند.

برای درك وحشت کمونیست ها و بقایای رژیم گذشته از این نزدیکیّ همین کافیست که عملاً دیده شد که آنها به انتقام این تلاش های خیر همزمان باتشکیل گردهمائی ء میان رهبران در پغمان آتش جنگ را بار دیگر در غرب کابل مشتعل ساختند، اگر رهبران حزب و جمعیت صادقانه قصد آن دارند تادست کمونیست ها وسایر دشمنان داخلی و خارجی جهاد از دامن وطن کوتاه گردد همین درس عملی برای آنان کافیست تابدانند که هر نوع سؤ تفاهم میان آنان موجب خوشنودی دشمنان اسلام و جهاد بوده و نزدیکی و تفاهم شان موجب وحشت و سراسیمگی دشمنان سوگند خورده داخلی و خارجی میگردد، بنابر این خیر اسلام جهاد و حزب اسلامی در این است تا باجلب اعتماد جمعیت اسلامی تلاش ورزد و جمعیت اسلامی را صادقانه و مخلصانه یاری دهد تا از این بن بست بیرون آید در مقابل رهبران محترم جمعیت نیز به تلاش های سایر رهبران جهادی در جهت حل معضلات باروحیهء حاکی از اعتماد جواب مثبت دهند، به امید اینکه باروحیه حاکی از اعتماد و تفاهم به پیشواز فردای بهتر برویم - انشاء الله.

سفر نامه

م.ز. شفیقی

کابل!

دماتمونو په گرداب کې، دفاتحانو په انتظار

دحریت درنو لوستونکو!
دغه لیکنه دلیکوال دهغه سفر دتاثراتو محصول ده چي دلوي اختر نه څلور- پنځه ورځې وړاندي دتورخم په لاره کابل ته تللی و،

دلوی اختر مخه ده،تبجنه گرمی ساه بندوی ، خوکه هر څو گرمی ده دلته دژوند گاډی پرمخ روان دی، گنه گوڼه ده ، شور ماشور دی او خلك همغسی سرگردانه یو تربل تیریږی، هماغسی سرگردانه ، لالهانده او په ځیرو دډول ډول تأثراتو نخښی انځور.

د بورد په دغه گنه گوڼه کی ، په دغه پریشانه بازار کی او د ژوندانه د سرگردانه ننداری پر دغه ستیژ نن یوه بله ناره هم اوریدل کیږی، سرله سهاره تر کمکی غرمی پوری دغه ناره اوریدل کیږی او بدرگه کیږی، که څه هم چی له باوره لری ده ، او شکمنه غوندې ښکاری ، خو شکونه حقیقتونه نشی بدلولی او اوس دا یو منلی حقیقت دی.

دبور د نهر تر غاړه « مینوبوس » موټر ولاړ دی او تر خوایی کلینر د « کابل والا، کابل ، کابل» ناری وهی دغه ناری سړی ته یوبل ډول احساس ور کوی ، ښایی ټولو ته نه، خو ډیرو هغو خلکوته چی دلته دا څوارلس کاله میلمانه اوسیدل دغه ناری یو خوږ او زړه وړونکی زیری دی،

دغه غږ به ډیرو ته د حیات‌اباد ، کار خانو..... او جم له .. غوندې بی تاثیره ښکاری خو ډیرو ته بیا یوه بله دنیا ور په یادوی ، یوبل احساس ور کوی او یوه بل جهان ته یی ور سره بیایی.

کابل آزاد دی که نه! خو په بورد کی د« کابل والا » ناری سړی ته دا احساس ور کوی چی بله معجزه هم پیښه شوی ده ، که هر څو باور ور باندی نشی کیدای ، خو داهم یو روښانه حقیقت دی چی ډیری بی باوره خبری دلته ربښتیا شوی دی.

کابل آزاد دی، څوارلس کلن میلمانه دانصارو له مینی نه د خپل کور او کلی په لوری روان دی، آیا دا ربښتیا ده ؟!

بلکل ربښتیا ده ، نور زموږ غوږونه د معجزو له اوریدو سره روږدی شوی دی دا تیره لسیزه موږ ته د معجزو لسیزه وه ، روسیه ټوټی ټوټی شوه د بخارا دجوماتونو له منارو نه د آذان آزانگی خوری شوی دکمو نیزم سومنات را نسکور شو...... او بالاخره دادی نن دلته د« کابل والا » ناره هم او چته شوه .

ماته هم د کلینر د کابل والا، کابل، کابل! ناره ښه را لگیږی ، هر څل چی هغه دکابل نوم واخلی زما د ذهن پر پرده دکابل یوتت غوندی تصویر جوړ شی، هغه زموږ کابل، زموږ د آرزوگانو زانگو، زموږ د هیواد مرکز، هغه ښکلی کابل زما د ذهن په پرده انځور شی او دغه انځور ورو ورو ما ور کش کاږی او بیا زه پکی گرځم ، میرویس میدان، دهمزنگ ، جاده ..... وینم . . .

همدغسی له گنی گوڼی ډك لكه دا بورد چی دی، لکه دا پیښور چی دی آسمایی غر وینم ، همغه خړپخوانی دیوالونه چی رنگین داستانونه لری، بالاحصار چی له حماسو ډك په افتخار ولاړ وی.... دپغمان غرچی پر سریی واوره لکه جالی داره خولی داسی ښکاری زه د خیال په سفر زر زر په همغه لیدلی کابل را وگرځم چی نن یی دادی دلته نوم اورم ، او بیا له یوه عجیب احساس سره په موټر کی کښینم ، زه به نن کابل ته ځم ، ډیر په گرانه باور کولی شم نه پوهیږم ولی شکمن یم، خودبی باوری او شك په ځپو کی زه دادی بیا هم دکابل په موټر کی

سپور یم او شکونه حقیقتونه نشي بدلولی، یوځل می ناڅاپه هغه ورځ سترګو ته و دریږی چی کابل می پریښود، له هغه ځایه په داسی حال کی وتم چی هر سړی راته غل ښکاریده. دکابل کوڅی او جادی می داسی ګڼلی لکه چی ما ځاری، په هره کوڅه کی می دمرګ پرینته احساسوله ، ماته ښه را یاد شی هغه څوارلس کاله وراندی ورځ چی له کابل نه وتلم ، په موټر کی سپوروم ، په ټیپ کی دناشناس دا سندره غږیدله !

خیبر په تاریخی دره کی مار پیچی لاره لندوی زه شاته ګورم څلور پنځه تنه زلمیان دی، په څیرو کی یی خوښی موجونه وهی، په کرس کرس خاندی، یوځل یی دغه خندا له نزاکت نه لری راته ښکاره شی، خو خپل احساس می بیرته په بله پام واړوی.

دوی هم دهماغه کابل په لوری روان دی چی تیره یوه نیمه لسیزه د ټولی نړی د خلکو پام ور اوښتی . دهمغه افسانوی کی ، تیریږو د خیبر په دره کی، خو سترګی مویل ځای وینی، هغه غرونه کمرونه ، لاری ، جادی او کوڅی چی د ژوند ډیری خوږی خاطری او یادونه مو ور پوری تړلی دی.

دځوانانو خندا یوځل بیا دټولو پام ور واړوی، او په همدغه کش او کړپ کی بالاخره دخپل هیواد پولی ته ورسیږو، دپاکستان له هلالی بیرغ نه تیریږو، تر ځنځیر موټر اوړی سمدستی انګریزی ټانون شاته پریږدو او موټر له کیڼ لاس نه د سرك ښی لاس ته اوړی، تر همدغه ځنځیر یوه لورته یوه دنیا ده او بل ته بله . یوازی یو اوسپنیز ځنځیر دی، یوشان فضا ، خاوره او اوبه دی خو دی لوری ته آبادی دی سمسوره دره ده ، بازار دی او تر ډیره حده د ژوند ګاډی په مخ روان .

او بیا دتورخم ځنځیر بلی خواته ، مرګو اتن اچولی دی، هر لوری ته د مرګونو ، بربادیو او وحشتونو مظاهر دی، د تور خم له ځنځیر نه یوازی څو ګامه وراندی د تیری یوی نیمی لسیزی خونړی معرکی نخښنی نغدی پر ځای پاتی دی، ویجاړی کوټی سوځیدلی کورونه او په مخه کی یی د ملت دغوسی په اور کی سوځیدلی ټانکونه ، افغانستان اوس د یوی کنډوالی نوم دی چی مرګونه پکی په نڅادی، په دښتو او غرونو کی یی د اورونو نخښنی دی، د عصر دچپاولګرانو دستم داغونه پکی دی، دلته اوس د آبادی دلیدو ټمه بی ځایه ده ، زموږ موټر په سوځیدلیو دښتو کی د جلال آباد د ښار په لور ګړندی روان دی، شاو خواته چی څومره سترګی ځار کولی شی هومره د ویجاړو کنډوالو نخښنی دی، غنی خیل، غازی آباد، اود جلال آباد نژدی اطراف ټول د ویرانیو ننداری وړاندی کوی، هره په ګولیو داغلی ونه ، هر یو په بمونو او

داهم د ویجاړ کابل یوه څنډه !

محبت اول آسانه په نظر راغی
په آخر کی می نصیب خون جګر راغی

دوحشتونو او ماتمونو هغه دور می را په یاد شی ، غونی می زیږه شی ، هیواد می د پردو په لاس کی لویدلی ؤ، ترډیره حده می همغه ترخی صحنی په ذهن کی را ژوندی شی، کور ، کلی او کابل هر څه پاتی وو، یو زه نه په زړګونو او لکونو هیواد وال موله همدی برخلیك سره مخامخ وو.....

دځوانانو کرسنده خندامی د خیال له نړۍ‌نه را وباسی، زموږ د سپارلی موټر د کابل په لوری چی زیر ځواکونه پکی ازمویل کیږی، بوتان پکی رانسکوریږی دولسونو د آزادی پریکړی پکی کیږی او امپراتوری پکی ړنګیږی ، دوی هم د پردیسی او هجرت له محیط نه افسانوی کابل ته روان وو ، بنایی د خپل وطن او کور کلی یاد به خوښ کړی وی.

د خیبر دره تر ډیره حده ښکلی ده خو زموږ ښکلا ته پام نه دی، نن خیبر څه چی د نړی تر ټولو ښکلی او زړه وړونکی ځای هم نشو کولی زموږ سترګی ورواړوی ، بنایی ټول به همداسی وو ناست په موټر

توپونو ویجاړ شوي کور او آن چې سوځیدلي دښتې او داغلي غرونه په واز کومې ددې فاجعې پر عاملانو لعنتونه وايي، ددې فاجعې په هغو عاملانو چې نن يې د ..... په غيږ کې پناه موندلې ده آيا دا هیواد هیڅوک هم نلري چې بدل یې واخلي؟

همدغه کنډوالي د حال په ژبه همدا پوښتنې کوي، زما د بېوزله هیوادوال ورانه جونگړه همدا فرياد کوي چې په کومه گناه دلته مرگو اړولي وو.

ددې ویجاړیو او بربادیو مسئولین څوك دي ، څه شول او آيا څوك به ددې پوښتنه تري کوي که نه ؟!!

هغه افغانستان چې نړيوال يې د عصر د یوې سترې حادثې قهرمان گڼي هغه هیواد چې پېړۍ په پېړۍ د یوه شیطاني ځواك د ماتې وياړ لري اوس په يوه لويه هديره بدل دی په يوه هيبتناکه کنډواله بدل دی په يوه شاړه او سوځیدلي دښته اوښتی چې هر لوري ته د ورانیو نخښې دي، د وحشتونو او ستمونو یاد گارونه دي.

افغانان د یوې سترې فتحې وياړ لري خو اوس دوی ته یوازې یو وياړ ور پاتې دی او بس، یوازې یو نوم، نور یې په هیواد کې د ژوند آثار نشته .

دلته د مرگ سیلي تیره شوې ده ، یو خونړی توپان راغلی ، د عصر دهسې خونخور یرغل تیر شوی چې سپاهیان یې ټول تر ستالين او چنگيز زيات وحشیان وو.

نور په موټر کې دچا له خولې سوبې نه خیژي ، ټول چوپ دي او که چوپ نه دي هم په کمزوري او له خفگانه ډك غږ خپل د ځنگ ملگري ته نويي کنډوالي ورښيي، دنو یو ورانیو یاد گارونه ور په گوته کوي ، ته به وايي قیامت دی لومړی شپیلي پوکله شويده هرڅه ویجاړ دي ، چیرته سوځیدلي وني چې په ملا ماتې وي لکه خداي (ج) ته په رکوع ولاړې وي او چیرته ، یونیم کور چې کوم دیوال یې روغ دریدلی وي او د یوې فاجعې کیسه کوي.

زموږ شاته ناست ځوانان هم چوپ دي، د هغوی غږ په ستونیو کې بندي، زه مخ ور اړوم هغوی هم د خپل کنډواله هیواد په وير د زړه ويني خوري ، په څیرو يې بندي دي خو بیاهم لا هغه لاس چانه دي لیدلي چې تر گریوان یې ونیسي او د پوښتنې او محاکمې ډگر ته يې راکش کړي، پردې کنډوالو د جهادي مشرانو تصویرونه را ځوړل شوي دي اوږدي ږیرې او په شریعت برابرې څیرې، خو کنډوالي آبادول غواړي، دغه د وحشتونو پر

نور زموږ غوږونه د معجزو له اوریدو سره روږدي شوي دي دا تیره لسیزه موږ ته د معجزو لسیزه وه ، روسیه توټې توټې شوه د بخارا دجوماتونو له منارو نه د آذان آزانگې خورې شوې ، دکمو نیزم سومنات را نسکور شو...... او بالاخره دادې نن دلته د« کابل والا » ناره هم او چته شوه .

اوس د غم پردې غوړیدلي دي، له شونډو نه يې د خندا کوترې الوتې دي، لکه دا وراندې کنډوالې چې دهمدوی کورونه وي – لکه په هغه بیرته هدیره کې چې ددوی دکورنې پر غړو شناختې لگې وي، لکه د غازي آباد دا شاړ او نیم ویجاړ فارم يې چې د پلار په قواله وي او اوس يې په هره سوځیدلې ونه زړونه داغ داغ دي..........

ددې ورانیو له هرې نخښې سره د جفا یو بشپړ داستان دی، د تاریخ یوه خونړۍ حادثه ده او ددغه هیواد پر سر د راغلې سره سیلاب یوه تراژیکه کیسه ده ، چې سړی یې په لیدو نه یوازې چې خوښي او هوس له لاسه ور کوي بلکې نژدې وي لیوني شي، او بیا د لیونتوب برید ته خو هغه وخت بلکل سړی ور ننوزي چې ویني او اوري چې ددغو بدمرغیو ، ورانیو، وژنو او وحشتونو عاملان يې اوس هم د برکیناستلو دعوه دار دي.

دعوه دار څه چې لوړ کینول شوي دي، له منگولو نه یې لا ددې ولس د مظلومو شهیدانو ويني څاځي، په داړو کې یې ددې هیواد د بچیانو غوښې لا یادگارونو بیرته د ژوندانه مانۍ آبادیدل غواړي، آیا دا مشران به داکار وکړي ؟

د ولس تقاضا خو داده ، وران افغانستان خو همدا غواړي، آخر تر څو به دلته مرگ په نڅا وي ؟ وحشتونه او ورانۍ به د ژوند په موسکا ملنډې وهي؟ ترڅو ؟!!

آیا افغانان انسانان نه دي؟ ښه ژوند ، آرامي او آبادي نه غواړي ؟مینه ، عاطفه او د تعمیر جذبه نه لري طبیعي ده چې لري یې داټول لري، نور دغه ځوریدلی ولس باید آرام شي، آرام دلټې او تنبلي په معنی نه ، یوازې دا چې له مرگونو نه يې مخ واوړي ، دآ بادۍ او پرمختگ په لوري گام واخلي او دعلم او پوهې په زور دغه ویجاړ کنډوالو ته هوسايي ، نعمتونه او خوښي راوړي . دغه شاړې ځمکې به ترڅو د اوبو په تمه شاړې پرتې وي، د وحشتونو پر دغه هیبتناکو یاد گارونو به کله بیرته د ژوند منارونه درېږي. ؟

ددې پوښتنې ځواب په همدې ویرانو کې د ځوړل شویو تصویرونو خاوندانو ته راجع دی، او راتلونکی به په ډاگه کړي چې دوی څه کوي؟ آیا دوی به د آبادۍ او

عمران له ازموینښت څخه هم همداسی سر لوړی را ووزی لکه د اور او وینو په بحر کی چی دجهاد له ازموینښت نه بریمن را ووتل ؟ دددی ولس ورانو کنډوالو ته چی څوك گوری نو په ډاگه ده چی دنورو ورانیو ځای پکی نشته، دغه هیواد اوس نوری تباهی ته هیڅ هم نه لری او باید نور زړه ور باندی و سوځول شی باید د بدمرغیو او تباهیو عاملان نور پرینښودل شی، باید غازی افغان د خپلی قربانی قدر وساتی او ښکاره ده چی پخپله به یی ساتی ، دښمن د چا یارنه دی، ددښمن په خوږو کی هم زهر دی او هوښیاران نه پری تیر وزی....

*　　　*　　　*

موږ د جلال آباد ښار ته رسیږو ، دغه ښار ما (۱۵) کاله پخوا لیدلی ؤ، په ذهن کی می چی د جلال آباد کوم تصویر پاتی ؤ له اوسنی وضعیت سره یی اړخ نه لگاوه ، دلته هم د ژوند ډیوه مړژواندی وه ، یوازی یو څه چی د ژوند نماینده ؤ دهغه ببر سریو مجاهدینو دخولو موسکا وه چی دښار په مینځ کی په مخه راتلل ، وسلی په اوږو کمر بندونه تر ملا او خوښ او خندان ، په څیرو کی یی د فتحی هیبت لا پر ځای دی.

افغانان دی ، مومن غازیان دی، موسکایی پر شونډو ابدی نقش ده ، هسی نقش چی دناپالم ، سکډ ، ډول ډول توپونو او نورو درنو وسلو گرز هار هم تری لری نه کړای شوه ، یوازی ددوی د څیرو په هنداره کی د هیواد را تلونکی لړ سړی ډاډه کړی ، د همدغو ننگیالیو چی سینی یی سپر کړی او دخونړی ښا مار له نس نه یی بیرته خپل هیواد روغ را ویوست.

جلال آباد له جلاله ډك دی، که اسمانڅکی مانۍ نه لری هم ، که ښکلی باغونه او ښایسته جادی پکی نشته هم خو جلال یی پر ځای دی مجاهد غاز یان پکی گرځی ، د ملت د قاتلانو نخښه هم نشته ، همدغه یی جلال دی .دذلت نخښی تری شړل شوی د عزت او عظمت پاسدارانو پکی اړولی دی، د ښار په دیوالونو اسلامی شعارونه لیکل شوی دی ، د ورور ولی او وحدت پر ساتلو د ترون تعهد شویدی- پرون دلته د ذلت او ډیری بدی

آیا دلته به هم دسولی کوتره کله خپل وزرونه پرانیزی؟

غلامی شعارونه وو چی لله الحمد اوس هغه پاك شویدی ، په ښار کی امن دی،وضعه تر ډیره حده عادی ښکاری ، ټانگونه او پوځی موټر نشته ، هرڅه پر خپل ځای دی، پوځی وسایل او مو ټر هم په قول اردو ، فرقه او ټاکلو نورو مرکزونو او قرار گاؤ کی دی.د لاری پر سر د مجاهدینو پوستی پرتی دی، پر دغه لاره زه پخوا هم څو ځلی راغلی او تللی وم ، خونن داسی فکر کوم چی هیڅ می نه وی لیدلی، ځکه لاره ټوله ډیره خرابه ده ، د پاخه سرك یوازی دومره نخښه چیرته په مخه راشی چی په دی سړی پوهوی چی دا سرك یو وخت پوخ ؤ، ددرونتی بند هم هغسی نه دی لکه یو وخت چی ؤ. دغه بند هم د جگړی ځپلی افغانستان په ویر

ویر من او سپیره ښکاری، وړاندی دوریښمین تنگی په لوری همدغسی ویجاړ سرك پر مخ تللی د موټرو بیرو بار ډیر زیات دی، لکه یو وخت به چی په ژمی کی په دی سرك د موټرو بیر و بار ؤ، هغه مهال چی جلال آباد به دشتمنو میله ځای ؤ او جوپی جوپی به ورته را روان وو، دموټرو بیرو بار هماغسی دی، سره ورته دی خو د سفر علتونه او لاملونه بیل دی، اوس هم د مسافرو په زړونو کی هوسونه دی خو د پخوا په څیرنه .

د سرك تر څنگ ځنی ځنی کلی چی یو وخت یی اوسیدونکی در لودل اوس بلکل نشته - دزمانی حادثو یی نخښی هم له مینځه وړی ، کله چی موټر په تنگی ور ننوزی او لږ وړاندی مزل کوی نو سمدستی ماحول بدلیږی - زموږ ویجاړ افغانستان ، مظلوم هیواد او د سری امپراتوری تر ناکردو لاندی خپل وطن مو د فاتح او سر لوړی هیواد څیره خپلوی، وریښمین تنگی دی، خو دښمن ته نه !

دښمن مو همدغسی سترو سهور له

داسى شرمناکى ماتى سره مخامخ کړ ، ورېښمين تنگى مو د سرى امپراتورى د جنگى ماشين پر هديره بدل شوى دى، دسرك دواړو غاړو ته سل دوه سوه گامه وروسته يوه هديره په مخه راځى د ټانگونو او پوځى موټرو هديره چى دلته يى سرونه خوړلى.

داسى هديرى به په ننگر هار کى هم وى چى اوس نشته ، دا زموږ دجهاد يو کمزورى اړخ ؤ چى ډير زر مو د جهاد او اتلولى يادگارونه ورك شول ، که نور هيڅ نه واى همدغه گوړ مات ټانکونه به مود ټپى زړونو تسل وو. دابه مو سترگو ته دريدل چى که موجونگړى ورانى شوى ، که مو هديرى په شاه ځلمو ډکى شوى که مو په هيلو او آرزوگانو شناختى لکى شوى نو دېنمن موهم په درشل گونډه وهلى، د جفا لښکر مو هم ريز مريز کړى دى.

هوکى ! لږ تر لږه به مو ډيرو يتيمانو ، کونډو بورو اوورارو ته دغه تسلى ضرور وه ، دغه سوځيدلى او شړيدلى ټانکونه به ددوى د ټپى زړونو لپاره لږ تسل وو که اوس دا پاتى ټانگونه او هديرى پاتى شى هم غنيمت ده ، لږ تر لږه دا دورېښمين تنگى او د هيواد په نورو بر خو کى چى لا ښى دى.

ورېښمين تنگى په اوسپنيز تنگى بدل شوى، اوس ددغى ځاى ترکاڼو نه داوسپنو ټوټى او شړيدلى ټانکونه ډير دى ، د سرى په روس زره يخ شى، چى تيرى کوى همدغه به يى انجام وى ، چى افغانانو ته په کم نظر گورى له همدغسى برخليك سره به مخامخ کيږى، دا يوازى روس نه دى چى نن يى دلته جنگى ماشين ويجاړ پروت دى، پر دغه تنگى يوازى څه د پاسه سل کاله وړاندى د يوى بلى امپراتورى لښکرى هم تيرى شوى وى يوه بل جابر هم افغانانو ته بد کتلى وو او دهغوى هم همدغسى انجام شوى ؤ ، په همدغه تنگى د شپارس نيم زره انگريزى پوځونو څخه يوازى يوتن داکتر « برايدن» ژوندى جلال آباد ته تير شوى ؤ.

دتنگى په غيږه کى د مؤمنو غازيانو د شهامت او غيرت داستانونه خوندى دى، په همدغو داستانونو کى ډير عبرتونه دى، ډير درسونه دى او ډير څه ترى زده کيداى شى، دغه تنگى د« کم من فئة قليلة» آيت ژوندى تفسير بنيى، دلته سړى وينى چى وسلى او زور د برى اسباب نه دى، او دلته سړى دا هم زده کوى چى په ننى جهان کى په اوسنى زمانه کى کمزورى جرم دى، بايد کمزورى نه وو، بايد پخپله په خپلو پښو ودريږو ، آخر تر څو به پيرى په پيرى پر دغه هيواد پردى دانگى ، او موږ به يى مقابله کوو. افغانان خو يوازى ددى لپاره نه دى پيداشوى چى و جنگيږى دغه هيواد خوبه ددى لپاره نه وى جوړ شوى چى کله دى څوك له ختيځ کله له لويديځ او کله له شمال نه پرى را دانگى دلته دى هديرى جوړيږى ، کلى دى ورانيږى او پر غل گردى هم ماتيږى او پناکيږى؟!!

دلته د سړى پام شى چى کمزورى گناه ده ، يو وخت به په دى لاره دسومنات او پانى پت د فاتحانو لښکرى تللى، يو وخت به په دى لاره د اسلام د هغو غازيانو د اسونو ترپهار ؤ چى دهند په ډاگونو کى يى د اسلام شعار اوچت کړى ؤ.

هغه وخت چى احمد او محمود غوندى غازيان ددى خاورى واکمن وو او د هيواد بقايى دتورى په سيورى کى ليدله.

دلته د سړى پام شى چى کمزورى گناه ده ، يو وخت به په دى لاره دسومنات او پانى پت د فاتحانو لښکرى تللى، يو وخت به په دى لاره د اسلام د هغو غازيانو د اسونو ترپهار ؤ چى دهند په ډاگونو کى يى د اسلام شعار اوچت کړى ؤ.
هغه وخت چى احمد او محمود غوندى غازيان ددى خاورى واکمن وو او د هيواد بقايى دتورى په سيورى کى ليدله.

نن دغه پر هر پر هر وطن د يوه بل احمد خان او بل غزنوى بتشکن انتظار دى ، دا وطن اوس هم له غازيانو ډك دى ، همدا اوس يى دکمونيزم سومنات را نسکور کړى دى، تر اوسه يى د تکبير ملکوتى چيغى دنړى په گوټ گوټ کى راغبرگيږى، خو چى غازيان دکوم بل نادرشاه د هوسونو قربانى نه شى. ا ويو ځل بيا هغه حادثه تکرار نشى چى دانگريزانو له ماتى وروسته په دى ولس راغلى وه .

دسرك بنى لورى ته لاندى مست سيند بهيږى ، مستى څپى چى له غټو غټو کمرونو سره ټکرى خورى، گردابونه جوړوى ، ځوږيى، او مار پيچى لاره وهى ، په مخه روان دى نه يى لوى لوى کمرونه مخه را بندولى شى او نه يى ټيلى او نور څه په مخه کى خنډ کيداى شى ، په شور او زوږ پر مخ روان دى، لکه چى زموږ د ولس د برميال پاڅون تمثيل کوى چى خنډونه او سازشونه يى لاره نشى ډب کولى، د سيند د خروخرو کمرونو سره سره ځاى ځاى خرخړ ټانگونه هم نسکور ښکارى چى د څپو له زوره زنگيږى هغه ټانکونه او زره پوښونه چى له سرك نه لاندى لويدلى اويا غورځول

شوی دی او اوس د سيند په غيږه کې دايمې پراته دي يوځای د سرك بنی غاړې ته يو زره پوښ ولاړ دی ، دفتحې بيرغ ور باندې رپيږي او په غټو تورو د خوشحال خان ختك دا شعر ور باندې کښل شوی:

ځود وس رسي په لوی درياب کې ګرځه
په وياله کې دي تاوان وينم نهنګه

ديران په خير چې يو موقې ايرې ترې پاتې وې، دسروبي د ښکلي باغ او دښهرك دمنظمو پارکونو نخينه هم نشته ، دلته هم هماغسې دورانيو تسلسل دی او سړی فکر کوی چې ټول کائنات ددوهمې شپيلې دپوکلو په انتظار دي.

لږ وړاندې د« رئيس باغ» هم چې نه وم رسيدلی ، دغه د برښنابند جوړيده هغه وخت چې دلته به سره وينبتان ، شنې سترګې او پردې پردې غوندې ځيرې روسان وو، هره خوا به د روس افغان دوستې شعارونه ځړيدل او زما په ذهن کې دا خبره نوره بالکل پوره ناسته وه چې روسان زموږ د هيواد تر ټولو سپه دوستان دی.ماته په خپل هغه طفلانه خيال خندا راشي، زموږ دښو دوستانو ددوستې کړه وړه مو ټول په مخ کې دی، دغوړيدلی کتاب په څير، خو زړه مې لږ داده شي چې ددوی ددوستې دين مو هم ادا کړی دی، دلته چې دنغلو دبند په تندي دکوم هيواد د مرستو او لورينو شعار ليکل شوی ؤ اوس دهغه هيواد نوم دنړې په جغرافيه کې نشته .

> دوی هم دهماغه کابل په لوري روان دي چې تيره يوه نيمه لسيزه د ټولی نړی د خلکو پام ور اوښتی . دهغه افسانوي کابل په لوري چې زبر ځواکونه پکی ازمويل کيږي، بوتان پکی رانسکوريږي دولسونو د آزادي پريکړي پکی کيږي او امپراتوري پکی رنګيږي ، دوی هم د پرديسي او هجرت له محيط نه افسانوي کابل ته روان وو ، ښايي د خپل وطن او کور کلي ياد به خوښ کړي وي.

د وربښمين تنګی دغه په لسګونو کيلومتره لاره همدغسې ګام په ګام دروسې شيلو ، توپونو ا و پوځې موټرو د لاشونو په بدرګه وړاندې ځې تردې چې سروبي ته رسيږو .

ماته سروبي دوهم کور غوندې ؤ چې د ژوند ډيرې حساسې شپې ورځې مې پکې تيرې شوی دی، د سروبي بازار هم اوس يوه عجيبه ننداره وړاندې کوی، زما دوروستې ځل او اوس ليدوتر منځ نږدې يوه نيمه لسيزه تيره شويده ، په يوه نيمه لسيزه کې د شلمې پيړی په اوسنې پرمختللې تخنيك کې شاړې دښتې آبادی شي، وچ ډاګونه سمسور باغونه شي، سپيره غرونه په شنو پارکونو او زړه وړونکو ښارونو بدل شي، خو دلته د انسان دوحشت لوری خپل کمال ښودلی دلته د انسان شيطانې ځيرې خپل جوهر ځلولی ، سروبی چې څه در لودل تن يې نه لري ، دهوټل باغ چې دونو او ګلانو منظم کتارونه به يې دشعر قافيې ته ورته وو تن د شليدلی ديوان په څير دی، دشليدلی نه د سوځيدلی

يووخت يې شنو « سروو» دهميشه بهار ننداره ښودله نن خزان وهلی ويجاړ بڼ ته ورته دی، ونې يې غوڅې شوی دی او چې کومې پاتې دی هم ددی شيمه پکې نشته چې د پسرلي نمايندګی وکړی او چاته سرور ور و بخښي، دهغوی مړ ژواندي حالت سړی په دې فکر کې اچوی لکه چې دغه ونې هم محکومې وی او دکمونيزم تر سزا لاندې راغلې وی ، او ښايي په همدې ګناه به ځوارلس کاله ترې ساتل شوی وی ، ګولی به پرې اوريدلی وی ، راکټونه او توپونه به پرې چليدلی وی ، ښايي دمجاهدينو کوم ګروپ يې په يخ سيوری کې ارام کړی وی . يايې کوم مجاهد دلته تر ګڼو تنو لاندې ددوی « کمونستانو» له وزو نه پناه موندلی وی بس دا زموږ د هيواد دځنګلونو او باغونو ګناه وه .....

درئيس له باغ سره له هغه دوه لارې نه تيريږو چې بنې لوری ته د نغلو د برښنا بند ته لاره ګرځيدلې ، ماته ددې سرك په ليدو يوځل بيا تير يادونه را په ياد شي، هغه شپې ورځې چې زه د بلوغ مرحلې ته

* * *

« ګرګامنده » شاته پريږدو او په ماهيپر ور ننوزو ، دماهيپر ګړنګونه همغسې ولاړ دی، لوړ لوړ غرونه ، همغسې لوړ سرونه دی، سيند هم په پخوانی جوش او خروش بهيږي، ځپو د لويو لويو کمرونو په منځ کې اتن اچولی دی، د زمانې له سړو تودونه بې پروا سيند او غر دواړه د افغانانو د زړه او پاخه طبيعت ترجمانی کوی ، دوی هم د ږونو او راکټونو له ګزهار او اوريدونه بې پروادی، نه يې ځای اونه يې تګلوری بدل دی او افغانان هم ، جګ غرونه دواړو خواؤ ته په وقار ولاړ دی ،

دوی دمؤمنو افغانانو د لوړ همت او بې مثاله حوصلې ترجمانی کوی، چې دزمانې حوادثو ته يې سينه سپر کړی، همدغه غرونه او ګړنګونه په مرموزه ژبه له ډيرو رازونو پرده پورته کوی ، سړی ته وايي: چاچې زموږ لاندې کولو جرئت کړی ؤ پخپله دزمانې ترګردو نو لاندې شول چاچې ددې هيواد دنوم ورکولو تکل کړی

ؤ پخپله یی نوم ورك شو او چی د افغانانو له سرونو نه یی څلی جوړول پخپله یی له سرونو نه د عبرت څلی ودریدل .

ماهیپر له خپلو ټولو عظمتونو او ګړنګونو سره نور شاته پریږدو بنی لوری ته دهغی ستری پوځی قشلی پیل دی چی یو وخت به ددغی غونډی پر سر په سپینو ډبرو لوی لوی د« خدا ، وطن ، شاه » کلمی وی ، هغه شاه ته دړندې وفاداری تعهد چی په غیبړه کی یی د وطن دښمنان پالل.

زمونږ ارواو یو ډول تنده محسوسوله ، سترګی مو دیوی ننداری په تمه وی او دغه تنده او تمه هسی اوسنی نه وه ، هغه اوږده تنده او تمه چی کلونه ور باندی تیر شوی وو ، خو نور د انتظار ټولی شیبی تیری شوی وی ، نور مو هغه جام پر سر اړاوه چی کلونه کلونه یی په انتظار وو، نور مو دهغی روژی دماښام آذان مهال ؤ چی ډیری میاشتی اوږده شوی وه او نور مو هغه کوڅی غرونه ، جادی او سرکونه تر سترګو لاندی وو چی یو وخت به دخیال په وزرونو ورته را الوتلی وو .

هو کی ! کابل ؤ، څرخی پل ؤ چی چپ لوری ته وړاندی یی دنورو تعمیرونو په مینځ کی هغه وحشتناك او خونړی جیل هم ښکاریده چی ددی هیواد ډیر ننګیالی بچیان یی په کومی کی ورك شول.

دڅرخی پله جیل له لیری د هټلړ دبیګار کیمپ ، دستالین دډله ئیزو وژنو دزندان او دچنګیز د قهر او غوسی په اوج کی د یوه نوی فتحه شوی ښار په څیر وهمناك ښکاری ، سړی فکر کوی چی اوس یی هم په شاو خوا فضا کی دهغو زرګونو تنو شهیدو ځوانانو ارواوی ګرځی چی دلته ددین او وطن د مینی په جرم شهیدان شول، داسی بریښی لکه د هغوی ارواوی چی همدلته ګرځی راګرځی ، له هر چا څخه پوښتنه کوی چی آیا زمونږ قاتلان و بخښل شول؟!

زمونږ مظلومی سلګی همداسی مظلومی او بی اسری پاتی شوی؟ زندان لری دی، خو سړی همدغه پوښتنی محسوسوی ، همدغه وضعیت لمسوی ، لکه د زندان په شاوخوا ډاګ کی چی شهیدان را پورته شوی وی، یایی ارواوی مجسمی شوی وی او له ژوندیونه دانصاف غوښتنی کوی، له هغو ژوندیو نه چی له دوی سره په ارمان او هدف کی شریك وو.

دا سي ښکاري لکه دا پوري را ووري غرونه چي ټول له هغو ککرو جوړ شوي وي چي په دغه زندان ننوتلي وي...

زه د څرخی پله د زندان له خیالونو نه راووزم او ځان نور د مکروریانو په غیږ کی محسوسوم ، کابل همغه کابل دی، خو زمونږ سترګو چی دڅه انتظار در لود هغه لا نشته ، زمونږ ارواوی چی په کوم شی پسی تږی وی لا همغسی تږی پاتی دی، زه شاوخواته ګورم، د مکروریانو دنګ دنګ تعمیرونه کتار ولاړ دی ، خو داسی محسوسم لکه ټول چی ژاړی ، لکه ټول چی له یو لوی ماتم نه د اندیښنو په ټال کی زانګی رښتیا هم دکابل کوڅو ژړل ، دکابل جادی او سرکونه د یوه ستروبر په څپو کی ډوب وو.

ماویل کابل به د تکبیرونو ازانګی زنګوی ، ماویل دکابل جادی به «دهورا» لعنتی چیغو سټړیا او ستومانی اوس د الله اکبر ملکوتی شعارو په آزانګو کی و باسی.

ماویل مونږ به هلته د خپلو ځوریدلو هیوادوالو څیری دخوښی او سوکالی په رڼا منوری وینو، خو داسی نه ده ، افسوس چی داسی نه ده !

پر کابل چم په چم دماتم ټغر غوړیدلی دی، دکابل د آزادی زیری ډیر تاوده خواره شول ، خو دلته لا د آزادی دناوی مخ لا چانه دی لیدلی، دلته لا د سر ، مال او عزت د سلامتی ډاډ چانه دی حاصل کړی.

پرنیم ویجاړ کابل لا ډاډ او امن وزرو نه

دکابل مظلوم ښاریان چه له څوارلس کلنی جګړی وروسته یی دائمی سولی ته انتظار درلود خو یو ځل بیا په ورانوونکی جګړه واوستل!

ندی غوړولی له کابل نه روسان ورك شول، خو روسی فکرونه لا شته دی له کابل نه د مسکو داړه ماران وتلی دی، خو د داړی لبنکری لا پر ځای پاتی دی، دکابل پر تخت خو اوس دبی ربړی نجیب پر ځای ربرور حضرت ناست دی، خو چی پرون ددی ښار د عزت او ناموس غله وو نن هم شته – چی پرون د خاد او واد خونړی قاتلان وو، نن هم وسله په اوږه ولاړ دی.

په کابل کی دمجاهدینو ډلگی هم شته خو په څېرو کی یی د فاتحانو نخښی نشته زه په کابل کی هغه احساس نه لرم چی باید در لودلای می،له ۱٤ کلونو جدایی وروسته ورته راغلی وم ، خو ماته نن بیا همغه ورځ یوځل بیا سترگوته ودریده چی له کابل نه وتلم او دتل لپاره وتلم ، هماغه احساس ، همٌغه پردی توب او همٌغه بوازیتوب احساسوم .

په ښار کی تر ډیره حده بیرو بار کم دی، داسی نه ښکاری چی دادی دیوه هیواد مرکز وی ، کابل داسی ښکاری لکه یوتر سترگو وتلی گوبنه ښار، خړ پړ، نیم ویجاړ او بدرنگه، یونیم ټانگ او پوځی گاډی گرځی چی وسله وال کسان پکی وی داسی کسان چی حیری یی مجاهدته نه پاتی کیری، په حیرو کی یی هغه نخښی نه ترسترگو کیری چی دیوه حوارلس کلن مجاهد په حیره کی باید وی له حیرو نه یی سري دامن پرحاي دويري، وير او تزوير احساس کوي.

همدلته ده چی سړی سمدستی احساسوی چی کابل لا دفاتحانو په انتظار دی.

دکابل کوڅی او جادی نور ددرنو ټانگونو د غوریدو او چلیدو توان نلری سړی فکر کوی چی دغه نیمه ورانی ودانی، کورونه او خړپرکتار دوکانونه ټول ژاړی، ټول ویرمن دی او ټول دیوه ربنتینی بدلون په انتظار دی.

کابل ، زما د آرزوگانو او ارمانونو زانگو، زما د هیواد مرکز او د اسلامی امت د یوه برمیال قوم اداری مرکز لا تر اوسه د ویر په وریځو کی ډوب دی، لاتر اوسه دماتم او ستم تر ژرنده لاندی دی، هلته چی لا د وینوبهول گناه نه گڼله کیږی دبل او خپل مال توپیر لانه دی شوی او دچا آبرو او عزت لا په امن نه دی.

کابل! چی د اوسیدونکو په څیرو کی یی په سلگونو پوښتنی تر سترگو کیږی او لوستل کیږی ، دبی باوری او بی اعتمادی فضا لاور باندی حاکمه ده ، اوسیدونکی یی اوس هم یو بل ته په شکمن نظرگوری، له یوبل نه په ویره او ترهه کی دی او په خولو دمرموزی خاموشی کولپونه پراته د باوری ، خواشینی ، او نا امیدی جنازی پورته کړی،

کابل په یوه غمجنه چوپتیاکی ډوب دی،، هسی چوپتیا چی دیوه لوی توپان دراتگ پیغام لری، خو داسی بریښی چی ددی ښار اوسیدونکی له دغی مرموزی او مرگونی چوپتیا نه دهماغه خونړی توپان راتگ ته خوښ وی، خونن لا چوپتیا ده، یو مرموز او غمجن سکوت، ددغسی سکوت تر پردو لاندی هره ورځ ددی ښار داوسیدونکو پر سر ، مال او آبرو د تیری لاسونه پورته کیږی.

هره ورځ هلته د انسان پر شرف او عزت لوبي کيږي ، هره گړي هلته دعزتونو او عصمتونو جنازي باروي کابل دماتم په درياب کی ډوب دی.

ددی ورانیو له هری نخښی سره د جفا یو بشپړ داستان دی، د تاریخ یوه خونړی حادثه ده او ددغه هیواد پر سر د راغلی سره سیلاب یوه ترازیکه کیسه ده ، چی سړی یی په لیدو نه یوازی چی خوښی او هوس له لاسه ور کوی بلکی نژدی وی لیونی شی، او بیا د لیونتوب برید ته خو هغه وخت بلکل سړی ور ننوزی چی وینی او اوری چی ددغو بدمرغیو ، ورانیو، وژنو او وحشتونو عاملان یی اوس هم د برکیناستلو دعوه دار دی. دعوه دار څه چی لوړ کینبنول شوی دی .

ی. دهرچا په سترگو کي دا پوښتني دي چي:

آیا موږ د آرامي او آزادي حق نه لرو؟!!

موږ به هم امن او سوله وونیو او له دي ښار نه به تبنتیدلي خوښي، سوله او سوکالي بیرته را غبرگه شي؟!!

کابل! چی همدا اوس هم د فاتحانو په انتظار دی، د تکبیردملکوتی شعارونو په انتظار دی، د اسلام دحاکمیت ، عدالت او امنیت ته سترگی په لار دی چی دبی

اصلاً کابل دوير او ماتم بل نوم دي!!!

هوکي:

کابل! دعصر دستری حادثی ا و معجزی زانگو د همدغی معجزی د اتلانو په انتظار.



نظام کامل حیات

مؤخذ: کتاب مردم، پارلمان ، اسلام ، نویسنده: س ، م ، ظفر ، مترجم: ل « خرم»

خواننده گان گرامی !

مطلبی راکه در زیر میخوانید فصلیست ازکتاب (مردم ، پارلمان ، اسلام) نوشته اس ، م ظفر نویسنده ، پاکستانی که فصل اول آنرا در شماره، گذشته حریت ترجمه نموده و به نشر رسانیده بودیم.

درین فصل که عنوان دارد (نظام کامل حیات) گرچه موضوعات بیشتر بر محور تشکیل پاکستان و چگونگی حکومت آن میچرخد اما برای معلومات عمومی خالی از مفیدیت نیست ما بدون تبصره و اظهار نظر بر طرح این فصل آنرا ترجمه نموده و پیشکش شما مینمائیم.

«اداره»

اسلام نظام کامل حیات است ، آیه مبارکه « الیوم اکملت لکم دینکم» ثبوت واضح این مدعاست ، همین آیه به عنوان اصل بنیادی مباحثه برموضوع فرق میان دین و مذهب مورد استعمال مفکرین و علمای اسلامی قرار می گیرد، این آیه اسلام را از سایر مذاهب و ادیان جهان مشخص و متمایز میسازد، وبه این نتیجه می انجامد که اسلام تنها مجموعه، عبادات نبوده بلکه در برگیرنده مسایل و معاملات دنیائی مربوط همه زوایای زندگی مادی بشر است.

علاوه برآن هدف اسلام نه تنها بیان آساسات روابط بنده باخدایش بوده بلکه حاوی قواعد و ظوابط معین برای تنظیم و ترتیب روابط و علایق شحصی و اجتماعی ، سیاسی، اقتصادی و غیره انسانها بایکدیگر نیز می باشد.

این خصوصیت تنها در مسلمانان دیده میشود هیچ فردی درجهان و لو پابند هر مذهبی غیر از اسلام باشد به اندازه، مسلمانان در مطابقت دادن زندگی بادین خویش کوشا نبوده و در تلاش حصول اصول، راه و روش از مذهب برای زندگی خود نبوده است.

باید در نظر داشت که قوانین و مقررات همه جانبه ، که در اسلام و قرآن درج هستند در هیچ کتابی چه زمینی یا اسمانی وجود ندارد، اما باید دانست که مقصد ازینکه میگوئیم « اسلام نظام کامل حیات است» چیست؟

آیا مطلب آنست که گویا تو خواه در هرگوشه، ، ازجهان قرار داشته باشی با هرکسی که باشی و هر مشکلی که دامنگیرت شود و لو مشکل شخصی باشد یا اجتماعی ، حل کامل آنرا میتوانی از نظام زندگی اسلامی دریافت نمائی، مسئولیت تنها تلاش کردن آن است یا هدف اینست که تمامی آن اصول و پایه های نخستین که تو برای کار در هر شعبه زندگی ضرورت داشته ای و در پر توا ن میخواهی راهت را مشخص نمائی همه را نظام کامل اسلام برایت بیان داشته و به این ترتیب جای خالی راهنماو راهبر را برای تو پر نموده و دین ترا برایت مکمل کرده است، و حال این مسئولیت شخص تست تا باعقل و دانش و دلیل راه زندگی ات را مشخص ساخته و مسایل و پرابلم هایت را حل نمائی. این دو توجیه و برداشت از هم کاملاً متفاوت اند اولی جانب تقلید راگرفته و دومی جانب اجتهاد را .

آن عده از دانشمندان غرب که با غور ودقت در اصول اسلام بر داشت نوع اول را داشته اند به این عقیده اند که اسلام نمیتواند بادنیای امروز تطابق نموده و به خواسته های عصر جواب مقنع ارائه بدارد چونکه اگر ماحل تمام مسائل و معضلات را از یك ظابط واصل مشخص بخواهیم این کار ممکن نیست و بناءً کسانیکه بر اصول اسلام پابند بوده و به آن ایمان آورده اند

نیز وقتی دیدند نمیتوانند زندگی خویش را با آن عیار سازند به این باور میشوند که شاید اسلام نظام مکمل زندگی نیست و در ایمانشان خلل ایجاد میگردد.

در حقیقت مفکرین غربی اسلام را بانگاه مملو از تعصب مطالعه نموده اند بناءً نتوانسته اند اسلام واقعی را بشناسند و بفهمند ، اسلام هر عمل انسان را عبادت میداند به همین منظور هر لحظه حیات و هر عمل انسان در جهان ازجانب اسلام تثبیت شده است.

برخی از دانشمندان نیز به این امر اعتراف نموده اند که موج آزادی خواهی که بعد از سال ۱۹٤۷ باعث شد تاکشورهای زیادی استقلال خویش را بدست آرند نتیجهء مفکوره ء اسلامی بود

اسلام در مورد همهء معاملات زندگی انسان با همه جوانب آن اعم از عقاید و قوانین اجتماعی از یك روش استفاده می کند و یك چارچوب معین و مشخص به آن قائیل شده است تا زمانیکه جریان زندگی آدمی از زوایای این چارچوب خارج نگشته آنرا طرز زندگی اسلام مینمایم. دانشمندان غربی اکثراً ازحکمت این پابندی و حدودقاصرند، این پژوهشگران اگر آثار و نظریات دانشمندان بزرگ اسلام چون علامه سید جمال الدین افغان امام غزالی، ،عبدهء مشاطبی، شاه ولی الله محدث دهلوی اقبال و غیره را با دقت و تعمق مطالعه میکردند برایشان واضح میگردید که اسلام پس از بنیاد گذاری عمارت در ساختمان شکلی ورنگ و روغن آن تاچه اندازه از آزادی سلیقه ها حمایت میکند و اینکه اسلام باچه اعتماد و اطمینانی اجازه تغیر و تبدیل قوانین را طبق تحولات و تغیرات عصر به پیروان خویش داده است این مسأله را در اوایل تاریخ ظهور خویش حل نموده وواضح کرده که هدف از قوانین جامعه تضمین حیات ، فلاح و خوشبختی اعضای آن جامعه است و به قول ابو اسحاق شاطبی« اگر قانونی نتوانست در مطابقت باتقاضا های جامعه قرار بگیرد باید که هرچه زودتر تبدیل شود »

در زمینه سیاست نیز مسلمانان دین را از سیاست جدا نمی دانند و هر نظری را که در آن سیاست تابع مذهب نباشد به شدت رد می نمایند.

نویسنده کتاب Militant Islam (اسلام مبارز) حتی تا این حد نیز پیش رفته که گفته است «برای مسلمانان سیاست و اسلام دورخ یك سکه اند » محمد علی جناح بنیان گذار کشور پاکستان بنابر همین علاقه گفته بود« شعور سیاسی باخون مسلمانان عجین است». سیاست برای مسلمانان حیثیت ممنوعه را ندارد، تاریخ زندگی ملی و سیاسی مسلمانان از روزی آغاز یافت که قادر شدند کشور اسلامی را به وجود بیاورند وقتی آن حضرت (ص) به مدینه داخل گشتند قبل از همه امور پیمان مدینه تحریر گردید پیمانی که برای مملکت نوظهور اسلامی حیثیت قانون اساسی را داشت .دولت و حکومت خواهش طبیعی هر انسان است این مطلب را علامه ابن خلدون در قرن (٦) ع بیان داشته و علت آن را چنین بیان نموده که زندگی انسان به صورت منفرد و غیر اجتماعی اصلاً قابل تصور نیست یعنی انسانهانمی توانند جدا وبیگانه از هم بدون تعاون و کمك همدیگر زندگی نمایند .

وقتی دانستیم که انسان موجود اجتماعی است و مجبور است در اجتماع زندگی کندپس مسایل و معاملاتی چون داد و گرفت و خرید و فروش و غیره خود بخود شکل می گیردو عرض اندام می نماید و همچنان چون ظلم و تعدی خاصه طبیعت و سرشت انسان است پس در روابط اجتماعی عنصر حق تلفی ظلم و نا روا نیز پدیدار میگردد که در نقطه مقابل آن به صورت عنصر دفاع از حق مظلوم و احیای حق وی اخذ موقع می کند، لذا برای تعین حدود اعمال و اختیارات افراد در جامعه به حاکمیت و حکومت ضرورت احساس میگردد.

تاریخ پیدایش حکومات و نظام های اجتماعی از همین ضرورت سر چشمه میگیرد طرز تفکر مسلمانان را درین باره تنها در یك جمله خلاصه نموده میتوانیم که: « موجودیت دولتها و حکومات یکی از ضروریات مبرم و حیاتی جوامع بشری است این نیاز اجتماعی (یعنی موجودیت دولت و حکومت) رامسلمانان همچو ابجد سیاسی فرا گرفتند بناءً این طرف تفکر که مسلمان نمیتواند در غلامی به سر برده و با آن قانع شوند بخشی از شعور اجتماعی ماست، برخی از دانشمندان نیز به این امر اعتراف نموده اند که موج آزادی خواهی که بعد از سال ۱۹٤۷ باعث شد تاکشورهای زیادی استقلال خویش را بدست آرند نتیجهء مفکوره ء اسلامی بود.برای بسر بردن زندگی با روش و طریقهء اسلامی و جود تمامیت ارضی و حاکمیت ملی نیازی بود که سبب انقلاب و قیام مسلمانان بر ضد حاکمیت استعماری شان گردید و در نتیجه جنبش های آزادی بخش راهرچه بیشتر تقویت نمود.

ابن خلدون میگوید: ملتی ، بر فلسفه حیات خویش مغرور و مفتخر باشد نوعی تعصب دامنگیرش میگردد و ملتی که تعصب داشت هیچ فردی از اقوام بیگانه نمی تواند بر آن حکمرانی کند، نویسنده کتابMilitant Islam نیز در مورد جهان اسلام همین نکته را تذکر داده و گفته است که اگر در اسلام عصبیت یا قوه دافعه وجود نمی داشت ،چیزیکه در نتیجهء آن مسلمان به ایجاد حکومت مستقل

علاقمند گردیدند، شاید کشورهای نو به استقلال رسیده، افریقا و آسیا تا امروز روی آزادی را ندیده بودند.

امام الماوردی می نویسد که: از نظر اسلام مسلمان نه برای محکومیت بلکه برای حاکمیت (حکومت با الحق) آفریده شده است و بنابر مسئولیتی که در برابر انسان منحیث داعی خیر و فلاح او دارد باید نظام اسلامی را قایم سازد. خلاصه جائیکه مسلمانان در اکثریت اند آنجا مبارزه بر ضد بردگی و استثمار پایه گذاری و استحکام یك کشور آزاد ضرورت مبرم سیاسی ودینی آنان بشمار میرود.

پاکستان تحقق همین نیاز دینی و سیاسی است ، به تاریخ ١٤ اگست ١٩٤٧ کشوری که اکثریت آنرا مسلمانان تشکیل میداد از اسارت و تسلط برتانیا نجات یافت و بعد از آن بسیاری از کشور های اسلامی آزادی خودرا از استعمار انگلیس بدست آوردند، آیا این همه وقایع زائیده اتفاق و تصادف بود یا اینکه اصول وقانونمندی درکار بود ؟

از نظر ما وقایع فوق دلیل واضح این امر است که گرچه مسلمانان بعد از قرن ١٦م نتوانستند نفوذ و تسلط خودرا بر جهان حفظ کنند و ازجانب قوت های اروپائی متواتر شکست خوردند اما هویت ایدیالوژیکی فکری و فرهنگی آنان پابرجا ماند و دشمن نتوانست درین ساحه مسلمانان را با شکست مواجه کند، به اساس نظریه، ابن خلدون شکست نظامی باعث پیدایش نوعی عصبیت و حسن انتقام جوئی در مسلمانان گردید و بنابر آن آنان در انتظار فرصتی مناسبی نشستند که یاخود زورو قوتی بیابند و یاهم قدرت های استعماری ضعیف شوند .

در اینجا میخواهیم واضح بسازیم که وقتی کلمه، عصبیت را استعمال می کنیم این نه به معنی تعصب خشك و خالی در جهت منفی کلمه است بلکه به معنی ایمان و یقین کاملی است که در اثر آن تفکر و ایدیای مثبتی عرض اندام می کند. بناءً ثابت گشت که بدون داشتن همین احساس (عصبیت)و اظهارتشخص هیچ گاهی هم قومی و ملتی به وجود آمده نمی تواند و این امر برای تشکیل ملت ها بسیار ضروری و ارزشمند است .خلاصه در نتیجه همین مفکوره ، اسلامی کشور پاکستان به وجود آمد و همین اندیشه مردم مسلمان آنرا از تسلط انگلیس ومحکومیت اقتصادی و سیاسی هند وها نجات داد و به این ترتیب به عوض یك مشعل دومشعل فروزان گردید.

امروز در سازمان ملل متحد تقریباً ٤٠ کشور اسلامی عضویت دارند اعضای جنبش کشورهای غیر منسلك را اکثراً کشورهای تشکیل میدهند که قسمت اعظم نفوس آنان از مسلمانان ساخته شده است اعضای اتحادیه ، همبستگی کشور های آسیا و افریقا اکثریت ممالك اسلامی اند این همه اثرات همان طرز تفکر است که میگوید موجودیت دولت مستقل برای مسلمانان امر حتمی و ضروری می باشد تا بتوانند مطابق با اصول دین خویش زندگی کنند .

گرچه کشور پاکستان تکمیل همین نظریه است اما با آن هم داستان پیدایش این کشور و کسب استقلال آن بسیار دلچسپ و در عین حال تعجب انگیز است و آن اینکه گرچه این کشور به اساس نیاز مسلمانان به وجود آمده اما می بینیم که علمای دینی هندو پاکستان نخواستند درین تحریك آزادی خواهی مسلمانان شریك شوند . این سخن نیز عجیب می نماید که در زمان نفوذ انگلیس علمای دینی باتعصب هندی به مقابله بر خاستند اما هنگامیکه آفتاب امپراطوری آنان درین نیم قاره روبه افول نهاد بجای اینکه آنان به مبارزه برخیزند و قیام نمایند ، متعلمین و مولویان مساجد و مدارس ، به جد وجهد جهت کسب استقلال آغاز نمودند.

وقتی هم که پاکستان عرض وجود کرد این طبقه(علمای دینی) نتوانست یك کشور مستقل اسلامی را درك نموده و به مفهوم آن پی ببرد و بیشتر احزاب اسلامی با مسلم لیگ حزب موسس پاکستان و نظریه، ایجاد پاکستان به مخالفت برخاستند.

این امر به اثبات میرساند که آنها چنان از افکار متحول و جدید دور بودندکه برپایی یك کشور جدید باحدودجغرافیایی جدید برایشان غیر قابل درك بود و همچنان چون مبارزه و تصادم باهر دیده و روش جدید خاصه آنان بود بناء بیشتر از نیم قرن به دورادور خود دیواری از تعصبی آنگونه بپا داشتند که توانست تاحدی در مقابل مخالفین ایستادگی نموده و از آنها دفاع نماید ولی این دیوار در عین حالیکه در زمینه ، دفاع به آنان مفید تمام شد ضرری هم در پی داشت و آن اینکه محصورین خودرا ازمجموع ثمرات تحولات افکار و اقوال نوین محروم ساخت.. وقتی هم سر سید احمد خان (یکی از بنیان گذاران پاکستان)خواست آنان را ازین حالت رکود وجمود بدر ارد با القاب طعن آفرین رانده شد.

بورو کراسی نه ستړی شوی او ددعو عواملو د حکومتونو اعتبار کم کړی دی، یو اقتصاد پوه « اندره کوند» وایی:« ددغسی وضعی په مقابل کی دوه اعتراضی حرکتونه وینو ، له یوی خوا د تحصیلی او کلتوری لحاظه رسیدلی او پر حان مطمئن خلك چی کولای شی دخپل ژوند بار پخپلو اوزو واخلی،د آزادی او خود مختاری غوښتنه کوی، له بلی خوا هغه خلك دی چی دامنیت غوښتنه کوی او د مدرنیزم نه مخکی سیستمونودبیا راگرځیدو پلوی کوی، په کومو کی چی ثابت حالت ؤ ، آمر او مأمور معلوم وو او هر چاپه نظام کی خپل خاص او له وړاندی تعین شوی ځای درلود او دهر نژاد او هر قوم پکښی معین او مشخص ؤ ،» دا اعتراضی حرکتونه دهغو کارگری حرکتونوپه ځای مینحته راغلی کوم چی دکمونیزم دورکیدو سره ورك شول، دکار گری حرکتونو دله مینځه تللو په اړه ، تولنپیژندونکی« »رالف دهرندروف» وایی:« دطبقاتی سیاست دله مینحه تللو سره لیدل کیږی چی نور رفورم غوښتنی طبیعی رأی ورکوونکی وجود نلری، داوو شتمنو هیوادنونو زیاتره رأی ورکوونکی (۸۰ -۶۰فیصده) هغه خلك دی چی فکر کوی که اوسنی حالت دوام وکړی ددوی هیلی به آخر تر سره کیږی، دوی دکوم رفورم غوښتنه نه کوی بلکه یواځینی شی چی دوی یی غواړی هغه دادی چی حکومت یی جیبونه ډك کړی او بانکی حسابونه یی په زړه پوری گڼه ورته راوړی» .طبیعی ده په داسی یو حالت کی « سوسیالیزم » خپله معنی او دعمل ساحه له لاسه ور کوی، خو لیبرالیزم هم ددغی موقع نه دگټی اخیستلو او ددغه تش ځای ډکولو لپاره چمتو او تیار نه ښکاری، دغه

سیستم په اتیایمه لسیزه کی د« ریگن» او « میرمن تاچر» تر اداری لاندی دیر ناوړه اثرات له ځانه پر ځای پریښودل، او هغه پرابلمونه چی دغو دوو تنو گمان کولو اقتصادی وده به یی حل کړی هماغسی پخپل قوت پاتی دی، دبی عدالتی ترویج ، دبیکاری وده ، دعامه خدماتو ضعف او د صنعت کمزوری ددغه سیاست ناوړه نتایج دی، دغه سیاست هغه اقلیت ته دجرأت ورکولو باعث شو چی هدف یی صرف دځان مړول او دسرمایو ټولول وو. د۱۹۸۷ کال د اقتصادی بحران په نتیجه کی چی ددغه سیاست زیږنده وه د ورشکستگیو او ستونځو دوران راورسید او چل ولونه او مالی خیانتونه زیات شول، داحالت د« کازنیواقتصاد-Economic Casi-no) خاصه ده ، مثلاً په جاپان کی د لسوسترو سرمایو په ډله کی صرف دری میلیاردران په واقعی تولیدی کار بوخت دی او نور ټول حاشیه یی او طفیلی فعالیتونه لری، زیات شمیر هغه کسان چی په ۸۰ لسیزه کی د ابریال بڼه ځانته غوره کړی وه او دغونی په شکل یادیدل نن ورځ په مالی سترو خیانتونو تورن دی او ځینی یی په جیلونو کی بندیان دی.

اوس ثابته شوی ده چی د« نیولیبرالیزم» قهرمانان صرف غله او خیانتکاران وو او بس! په دغه لست کی د« روبرت مکول» نه نیولی ته « دونلد ترومپ» ، آسترالیایی میلیاردر « الن بوند» ، « مایکل میلکن» او"دوال ستریت"« ایوان یوسیك» پوری ټول شامل دی، دغه انحصاری اقتصاد د نړیوال اقتصادی بحران او په تیره بیاد متحده ایالاتو بودجوی کسر (۴۰۰ میلیارد دالروضیاع) اسباب برابر کړل، او په همدی ترتیب یی په زرهاؤ وړی

سرمایي له مینځه یوړي، خلاصه هغه کپتالیزم چې دستالینی سوسیالیزم سره دجگړې نه بریالی راووت پخپله ورځ په ورځ خپل اعتبار له لاسه ور کوي، دغه سیستم چې په ټولنه کې یې یوه وړه برخه زيات فعال او دهر ډول امکاناتو لرونکی او بله بیکاره اوله ټولنی رټل شوی مینځته راوړی خلك تردې حده ناراضی کړی چې دپخوانیو سیستمونو په ارمان دی، متحده ایالات، برتانیه ، کانادا ، استرالیا ټول په دغه مرض اخته دی حتی آلمان او جاپان چې مصؤون بلل کیدل بی اثره ندی پاتی شوی، مثلا آلمان په تیره بیا ختیځه برخه یې د جدې اقتصادي شکست سره لاس او گریوان دی. دجاپان بورس هم پخپل وار سره د ۱۹۹۱ راهیسی ورو ورو ۴۰ فیصده تنزل کړی دی ، او داسی ښکاری چې مخنیوی به یې هم ممکن نه وی .

پرته له بازار نه بله دنجات لار؟

ددغو ماتو سره سره « نیولیبرالیزم « خپلو خپریدلو ته ادامه ور کوی، دغه طرز تفکر او لار په جنوب کی د سترو سازمانونو او ارگانونو لکه:نړیوال بانك او نړیوال مالی ارگان لخوا تحمیل کیږی، د درانده صنعت اودهغه مربوطه پروژه د پاره انفلاسیون ، د بودجی کمښت،بهرنی تجارت ..... دلازمو امورو په حیث قبول شوی دی چې هرڅه باید ورته قربان کړای شی، دجنوب هیوادونه دیری هڅی کوی ترڅو ځان د نړیوال بازار سره برابر او هماهنگ کړی، « فرانسواریفل» وایی :« دډیموکراسی او بازار غبرگول همداسی چې دکمونیزم نه دنجات لار ده په همدی ترتیب دوروسته پاتو هیوادونو د پاره هم د فلاح یواځینی طریقه بلل کیږی».

کوښښ کیږی څو« بازار د خلاصون یواځینی لار معرفی شی، امریکایی اقتصاد پوه « جینوی ساش» وایی:

« زما پوخ باور دی چې دټولو سترو پرابلمونو او وروسته پاتی توب دحل اساسی کلی دنړیوال اقتصاد سره دځان هماهنگ کولو او په هغه کی دورگډیدلو نه عبارت دی». داسی نظر خپور شوی چې گویا د اقتصاد د اداری د پاره صرف یو سیستم و جود لری او بس!

> پوس ثابته شوی ده چې د« نیولیبرالیزم» قهرمانان صرف غله او خیانتکاران ژاو بس! په دغه لست کی د« روبرت مکول» نه نیولی ته « دونلد ترومپ» آستر الیایی میلیاردر « الن بوند» ، « مایکل میلکن» او"دوال ستریت"« ایوان بوسیك» پوری ټول شامل دی

دا « اقتصاد » ورو ورو په نوی « نوتالیتریزم » بدلیږی ، کو م چې خپل خاص دگمونه لری. د« عمومی بازار» تر عنوان لاندی دا نظریه قصد لری تر څو د ځمکی پر مخ ټول هیوادونه او د انسانانو هر ډول فعالیتونه تر کنترول لاندی راولی، « بازار« ښه ، بد، ضرور، غیر ضرور، ربښتیا، دروغ، خلاصه هرڅه تعینوی او د« ناپیژندل شوی لاسونو» په واسطه هرڅه تر سره کوی، دا ذهنیت مینځته راوړل کیږی چې گواکی که کوم هیواد یاکومه موسسه د « بازار» او دهغه دخاصو قوانینو څخه سر غړونه و کړی نو حتما به د تباهی سره مخامخ کیږی، دغه قوانین د ختیځ په « نویو ځای ته رسیدلو !» هیوادونو کی په خاص تعصب سره عملی کیږی، ولوکه ټولنیزه خساره یی هر څومره درنده هم وی، چې نتایج یی د« میخایل گرباچوف » داعتراضونو نه په ډاگه ښکاری!« دادزغملو وړنه ده په داسی حال کی چې د شوروی اتحاد ۸۰ فیصده خلك دفقر نه په ټیټه سطحه کی ژوند کوی، موږ د درانده او پرمخ تللی صنعت په وده کی لگیا وو».

پخوا به په شرق کی اقتصاد پوهانو ویل: « هرڅه چې دپلان تابعیت ونکړی متهم په نابودی دی» او هغوی چې اوس په لیبرالیزم ایمان راوړی په هماغه ترتیب نن ورځ وایی:« هرڅه چې د بازار د قانون تابع نه وی محکوم په نابودی دی».

دغه قوانین چې په رقابت ، قوت او مهارت باندی مبتنی دی د یو ډول مبارزی فضا او روحیه مینحته راوړی، په دی ترتیب چې باید په کم لگښت سره ډیر تولید وشی، دوروستنیو تخنیکی پرمختگونو له برکته ، وروسته له دی دکموکسانو په استخدام،پر کم لگښت او کم وخت کی زيات تولید ممکن شوی، مثلا په فرانسه کی د کلنی کار د مودی یو دریمه برخه په داسی حال کی کمه شوی ده چې تولیدات دوه برابره شوی دی، په دغه ترتیب سره په داسی شرایطو کی چې د تولیداتو او سرمایو خلق کول زيات شی او بر خلاف کار کم شی نودبیکاری ستونځه په یوه جدی او ډاروونکی پرابلم تبدیلیږی، ستری موسسی او شرکتونه د رقابت په بازار کی لا کوښښ کوی څو د مصرف بار کم کړی یعنی د خپلو کارگرانو په تعداد کی کمښت راولی، په تیره بیا د ساړه جنگ نه وروسته یواځی د وسلو د صنعت په برخه کی هغه کمول چې تر ۱۹۹۵ پوری پیش بینی شوی شمیر یی ۵۰۰۰۰ نفروبرطرف کولو ته په متحده ایالاتو ۴۰۰۰۰ تنو ته په برتانیی او ۱۰۰۰۰ ته په فرانسه کی رسیږی.

په جنوب کی په دغو قوانینو باندی پرند عمل کول سختی ستونځی او مشکلات مینځته راوړی، ځکه چې

د «مکروايکونومی» دقوانينو په اساس او په نظری برخه کی دولتونه شتمن کيږی په داسی حال کی چی خلك ورځ په ورځ دفقر په خوا روان دی .

مثلاً دغی عمليی په دغو نږدی وختونو کی په « ونزويلا » کی ټولنيز اړدوړ او بالاخره کودتا وزيزوله ، همداسی د« پيرو » پيښنی چيرته چی جمهور رئيس ددغی عمليی د ترسره کولو د پاره دزور اعمال ته قصد کړی دی، په الجزاير کی پوځيانو دهغو خلکو د مخنيوی قصدکړی چی دټولنيزو او اقتصادی بی عدالتيو او ستونځو له امله يی اسلامی جنبش ته رايه ورکړه ، گويا د« بازار » د ساتلو دپاره بايد هرڅه قربان شی ، حتی ديموکراسی! دجنوب په هيوادونو باندی د« بازار قوانين» او د« غربی کولوعمليه» داسی تحميل شوی چی هغوی ددغو په مقابل کی خپله اراده بايللی ده او دغه علت باعث شوی چی يو تاريخ پوه وايي:« ټول وروسته پاتی هيوادونه د سرمايي او صنعت مذهب ته را اوښتی دی داسی چی هيڅکله په تاريخ کی او دتمدنونو په تماس کی کوم تمدن د ننني غرب په اندازه بری نه دی ترلاسه کړی» دغرب په وړاندی دغه ځان بايلل په داسی حال کی چی د مصيبتونو سيمی لکه: اتوپيا، سومالی، موزمبيق.... شکل نيسی ، زيات شمير خلك دی ته اړکوی څو د امريکا او غربی اروپا په لور مهاجرت وکړی، دغه کسان چی زياتره په پټه يعنی پرته له پاسپورت او ويزی څخه دغه ملکونو ته راځی په غربی هيوادونو کی چی پخپله له ستونځو سره لاس او گريوان دی(مثلاً، په مجموعی توگه د اروپايي ټولنی هيوادونو کی ۲۰ ميلونه بيکاران او ۴۰ ميلونه ددغو نابلل شويو ميلمنو د بيرته تگ غوښتنه کوی، د چپوگوندونو نه نيولی تر افراطی ښی گوندونو پوری دنوی قانون او ددغو مهاجرينو د بيرته ليږلو غوښتنه کوی .

خلك اوس دغی نتيجی ته رسيدلی چی فکر کوی ورروسته له دی بايد دنويو حقوقو غوښتنه وشی، او کو م انسانی حقوق چی تر اوسه عنوان کيدل نور دبدلون په حال کی دی، مثلاً لومړی د سياسی حقوقو او بيا دټولنيزو حقوقو غوښتنه کيدله حال دا چی اوس ورو ورو دا حقوق خپل ځای د ثقه او سمو خبرونو د ضمانت ، سوله ، امنيت، د اوبو او هوا پاکوالی او د چاپيريال د تحفظ حقوقوته ورکوی .

دچاپيريال ساتنه چی پخوا تضمين شوی او منل شوی حقيقت بلل کيدلو اوس دټولنو او هيوادونو گړ تشويش بلل کيږي دانظر يه چی زموږ. ځکه په خطر کی ده ددغی پيړی د ټولو نظريه جوړوی ، داسی چی دځمکی ټول اوسيدونکی پری متفق دی، اوس چی منل شوی چی اصلا انرژی د اقتصاد دموتور حيثيت لری او پيسی او سرمايه صرف دهغی ظاهری بڼه بيانوی د پولی واحد سکته او پورته کيدل دپرمختگ علايم او دليل نه بلل کيږی، په دغه رابطه ليدل کيږی چی د انرژی مصرف په نړی کی په ډيره بی عدالتی او نا برابره طريقه جريان لری. د World Resura Institit وروستنی راپور په اساس دنړی اووسترو او شتمنو هيوادونو په ۱۹۸۹ کی دنړی ۴۳ فيصده انرژی مصرف کړی ده ، ددغی محاسبی پر اساس ناممکنه ده چی نور هيوادونه هم ددغو ملکونو لار تعقيب کړی، ځکه په دی کميت او کيفيت سره مصرف کول که د ځمکی دټولو اوسيدونکو د پاره تصورشی دځمکی له توان او استعداد نه اوچته بريښی ترڅو داټول آماده کړی.

داوو شتمنو هيوادونو نفوس ټول ۵۰۰ ميليونه دی په داسی حال کی چی دنورو مجموعی نفوس ٤ ميلياردوته رسيږی په همدی علت دی چی د « ريو » دکنفرانس په جريان کی ماهرين په دی نظر دی چی د شرق او غرب پرونی جگړه په هيڅ صورت د شمال او جنوب د راتلونکی شخړی سره د مقايسی وړنه ده ، چی که عاجل اقدام ونه شی دطبعيت او چاپيريال په سربه پيل شی، داول حل دپاره دځمکی دسطحی د اقليم بدليدل او گرميدل د نړيوال سياست د سرټکی تشکيلوی، غربيان بايد په دی پوه شی چی مادی او صنعتی پرمختگ هيڅکله دخوشبختی او نيکمرغی مترادف نه دی.

اوس بايد دا نظر ترک کړای شی چی ويل به يی« تخنيکی او صنعتی پرمختگ پرته له « ښه» نه بل شی مينځته نه راوړی»لکه چی « ادکارمورين» وايي: « زموږ ټولنی فکر کولو چی موږ دترقی او پرمختگ په مرگ باندی دروبڼانی اونيمکرغی راتلونکی په لور حرکت کولو خونن يی دا نتيجه تر لاسه کړی چی بايد لاری ته تغيير ور کړل شی، بايد د ترقی او نيکمرغی مفاهيم نور هم غنی کړای شی هغه څه چی روښانه دی هغه داچی موږ تضمين شوی راتلونکی له لاسه ورکړی».

نو واضح ده چی داصراف دټولنی ځای بايد دتقسيم ټولنه و نيسی، دمادی شتمنيو او لذتونو ددوران د تيريدلو سره ځنگه کيدای شی چی د يو ډول معنويت ، ارزښت پاللو ، کار ، صداقت خلاصه يو، «نوی هومانيزم» زيږيدل حس نه کړو.

بشريت ورو ورو دا درك کوی چی داد ځمکی دساتنی ، دطبيعی منابعو د ذخيره کولو، د انسان د ژغورلو يواځينی لار ده ، آيا رښتيا به وتوانيزو يوه نوی دنيا چی بله ځيره ولری جوړه کړو ؟

* **** ** *

دژورنالست دنده ده چې بې ویرې دحالاتو تصویر وړاندې کړي

دپاکستاني ژورنالست هارون الرشید مرکه:

ښاغلي هارون الرشید د پاکستانیو مطبوعاتو یوه ځلانده خیره ده ، په مطبوعاتو او صحافت کي د اوږدي سابقي او ځانګړي مقام خاوند دي، وخت په وخت یي له مختلفو معتبرو خپرونو سره قلمي همکاري کړي او په سیمه ایزو او خصوصاً د اسلامي نړي په مسایلو کي پوره لاس لري .
له« چھوٹے ستون سے مکالمه» څخه د مطبوعاتو او صحافت په باب مرکه یي د « حریت» درنو لوستونکو ته وړاندي کوو
« اداره»

پوښتنه: تاسودیوه ناراض لیکوال په نامه مشهور یاست، په دی هکله تاسو څه احساسوی؟

ځواب: سبحان الله ! د یوی مرکی دپیلولو لپاره ځومره ښکلی پوښتنه ده ، زما داګومان دی چی زه اوس دومره زیات ناراض او ناخوښ هم نه یم لکه یو وخت چی وم، زه له خپله ځانه خفه وم چی څه می کول غوښتل نه می شو کولی، له دنیا نه خفه وم چی داسی بی لورینی او ناخوانه ده ، انسان د ژوند په دریاب کی بهیږی او وړاندی ځی او ساحل ته رسیږی، فصل رسیدلی او کښتونه له شور اوزوږ نه ډک دی، - له رحیم یارخان نه راغلی یو هلك په دغه بی سر او سامانه او وږی سړار کی حیران پاتی او خفه شو، اوریدلی مو دی چی پخوا به انسان دمعلم او ښوونکی په لار ښوونه مخکی تلو خو اوس هرڅه باید یوازی پخپله تر سره کړی، انتظار ، یوازیتوب ستونزی او کشمکشونه هر څه باید یوازی وګالی، او اوس زما په خیال چی زه له ځنګل نه راوتلی یم نو دا فکر کوم او خوښ یم چی دیوه ناراضه انسان په نامه سره پاتی شوم. زه د مالګی په کان کی مالګین نه شوم او د الله ج شکر دئ چی زه اوس هم د رحیم یارخان د تعمیر ملت ښوونحی هماغه زده کوونکی یم ، د انیس احمد اعظمی شاګرد .

که ددی مسلك له ماحول سره ما سازش کړی وای نو ښایی ماته به لوړاو غوره پوستونه په لاس راغلی وو،خو زما په زړه کی یو خوب ؤ، زه به ټنبل ، لټ او بی پروا یم خو زما هغه خوب لا تر اوسه سلامت پاتی دی، هغه وخت چی زه په اتم ټولګی کی وم دکور نه بهر به په کښتونو کی ګرځیدم، په ښوونځی کی به می د انعام حاصلولو په تمه « بانګ درا » لوست ، له خپل مرحوم حافظ استادمحمد اسماعیل څخه به می درس لوست ، په نیمه شپه کی به می د نسیم حجازی ناول لوست، خپل ماما« داکتر نذیر مسلم» ته به می جیل ته ډوډی ور وړله ، هماغه وخت ما دا خوب ولید ، دیوه سپیڅلی او لار ښوونکی ژوندانه خوب، ماددی لپاره لږه قربانی ورکړه خو هغه خوب می تر اوسه سلامت دی.

پوښتنه : تاسوله مختلفو اخبارونو او مجلو سره اړیکی در لودی خو بیا موله یوی سره هم دغه رابطه پاتی نه شوه آخر ولی؟

ځواب: ددی لپاره چی دا یوازی د روزی ګټلو دنده وه ،څکه چی په هغو دفترونو کی درنړا د تیریدو لاره نه وه ،او له دی سببه هم چی زه د یوه بدلیدونکی مزاج خاوند یم، دنیا می نه وه پیژندلی او په خپل مرض هم نه پوهیدم.

پوښتنه : په کوم اخبار او یا مجله کی دکار په وخت کی زیات نا آرام او پریشانه وی او ستا عکس العمل څه وړؤ ؟

ځواب: زیاتره ستونزی داخبار ددفتر نه بهر وی چی سړی ترفشار لاند ی راولی، زما تر ټولو زړه خوړینی او ستونزمنه مطبوعاتی دوره د راولپندی په یوه اخبار کی وه ، هغه زما د ژوند بدترین دفتر دی که څه هم دهغه اړیکی له دفتری پالیسی سره نه وی ، زه « مساوات» اخبار یادوم چی دیوی اوږدی بیکاری نه دخلاصون په خاطر ور سره همکار شوم ، دا زما یوه

کمزوری پریکړه وه چی بیا اوږده موده پاتی شوه د ۱۹۷۷ دعوامی تحریك دپیلیدو سره زه له دغه اخبار نه ووتم زمونږ لوستونکی د پراخی سینی خاوندان دی، مونږ په دی تیروتنه چاونه رټلو، خوله اخبار نه شلیدل یی دومره وستایل لکه یوه لویه کارنامه موچی تر سره کړی وی، حقیقت دادی چی داڅه لویه کارنامه نه وه دامود خپلی سهوی دجبران یو وړوکی زیارؤ اویس.

پوښتنه: داخبارونو مالکان پخپله آزادی غواړی خوله خپلو همکارانو څخه بیا داتوقع لری چی ددوی دجوړی کړی پالیسی سره سم ګام واخلی په دی باب ستاسو تبصره او تجربه څه ده؟

ځواب: اوس فضا بدلیږی له حکومتی خپرونو پرته چی دمطبوعاتو په چمن کی دیوه خوسا ونډ په څیر ښکاری نور آزادی زور نیولی داد ۱۹۸۵ کال دمارچ میاشتی د فضا دبدلون میوه ده، زه په دی هم سه پوهیږم چی د آزادی لاره اداری نه‌پخپله لیکوال او ژورنالست خپلولی شی، که زه نیغ په نیغه یو مطلب نه شم لیکلی نو لړ. دلهجی او جملو په بدلون خپل مطلب لیکلی شم، که تبصره نه شم لیکی نو د کیسی له لیکلو نه می څوك منعه کولی شی؟ د اخبارونو مالکان همدومره ښه یابد کیدای شی لکه څومره چی د خصوصی او شخصی نورو ادارو خاوندان وی - آن چی دا ریښتیا ده چی دوی ترنورو غوره دی که څه هم په دوی کی ځنی پوره سواد نه لری چی دا کار هم د مطبوعاتو د اتحادیی د شوری کمی دی او خپل فرض یی نه دی پوره کړی.

ددغه اتحادیی زیاتره غړی یا دچپ لاسو ګوندونو او مافیاتر اثر لاندی دی او یا دحکومت ، نو په داسی حالت کی به مطبوعاتی آزادی له کومه شی، د ژورنالستانو اتحادیی غړی ددی پرځای چی د مطبوعاتو د آزادی او صحافتی ترقی لپاره کار وکړی د خپلو ګټو خوندی کولو په هڅو کی لګیادی.

زما تر ټولو زړه خوږښی او ستونزمنه مطبوعاتی دوره د راولپنډی په یوه اخبار کی وه ، هغه زما د ژوند بدترین دفتر دی که څه هم دهغه اړیکی له دفتری پالیسی سره نه وی ، زه « مساوات» اخبار یادوم چی دیوی اوږدی بیکاری نه دخلاصون په خاطر ور سره همکار شوم

وروره! زمونږ لوستی طبقه د لویدیځ تر سحر لاندی راغلی اوس ددوی هیڅ منزل نشته، دوی یو خپلواك خیال نه لری، زمونږ اوسنی پاټکی بیمار دی او باید چی درمل ورته و لټول شی.

پوښتنه: د یوه ژورنالست په حیث د ژورنالیزم عصری رجحانات او تقاضی څه وړ تحلیلوی؟

ځواب :په اخبارونو کی اوس یو څه شوخی راغلی ده ، خو د آزادی نه یی پوره استفاده نه ده کړی ، اخبارونه تر ډیره حده آزادی لری خو بیا دغه آزادی یی د بی پرده ګی او بی حیایی په لاره کی ده ، اوس رنګ او آرایش ښکلی دی خو د یوی ناوی په څیر نه د یوی نخاګری په څیره کی دی.

نن سبا په لاهور کی دیوه سیاسی ګوند غونډه جریان لری ، په دی کی د خلورو ایالتونو او آزاد کشمیر تر (۷۵) زرو تنو پوری ګډون لری خوپه اخبارونو کی له هند نه د راغلیو دووتنو فلمی نجونو خبرونه او راپورونه ډیر دی.

څوك چی اخبار ګوری شرم ورځی، وروره! په دی ګوند باندی انتقاد وکړی خو دومره خو باید واضح کړی چی دا ۷۵ زره کسان د څه لپاره راټول دی؟ څرنګه دری ورځی دلته پراته دی، څه غواړی ، دوی څه ډول نظام غواړی او ددوی فکر هیواد ته څومره ګټه او یاتاوان لری.

دوی په خیمو کی څه وړ اوسیږی ، ددوی مشر څه وړ انسان دی او څه پیغام لری خو په اخبار کی بیا د یوی هندی فلمی تجلی د ویښتانو موډل ستایل کیږی، د هیواد فرهنګی بنیادونه ویجاړیږی او همدغسی ددغو اخبارونو هم .

پوښتنه : په پاکستان کی چی د ژورنالستانو پر اوږو کوم دمسئولیت پیټی ور اچول شوی دی ترکومه حده پوری یی تر سره کړی؟

ځواب : د ژورنالستانو مسئولیت ډیر ستر دی، دغه مسئولیت ډیر حساس هم دی چی ډیر په بی رحمی سره تر پښو لاندی شوی دی .

دښو لیکوالو او ژورنالستانو یوازینی کار نامه داده چی په حکومت انتقاد وکړی ، ابن الحسن غونډی خلك ډیر لږدی چی دټولنی په اخلاقو ، فرهنګ کلتور او عاداتو څه ولیکی، مونږ خو د خپلی ټولنی یو بشپړ تصویر هم نه دی ویستلی، د لار ښوونی مسئولیت خو پرځای پریږده ، زمونږ ټولنه ډیره له ګډوډیو سره مخ ده ، بی هدفه اوله امن نه بی برخی ټولنه ده ، نو ددوی په پوهانو او ژورنالستانو ډیر زړه ترل نه دی په کار .

پوښتنه : د یوه ښه او کامیاب ژورنالست لپاره کوم صفتونه ضروری دی؟

ځواب : زما نظر دادی چی نیکمرغه او دقدر وړ ژورنالست هغه دی چی دفکراو تخیل لوړه قوه و لری چی دپخوانی او نوی عصر سره سره د خپل شاوخوا محیط سره هم بلد وی په یوازی توب کی خوښ وی

اوژوره مطالعه وکولی شی خو دخدای(ج) د مخلوق نه بی نیازه او بی پروانه شی،الفاظ او جملی داسی و لټوی لکه یو جوهری چی په کانو کی غمی لټوی، ساده او د رویش صفته وی ، زحمتکشه خو باید ضرور وی ، پاك ذهن او پراخه سینه ولری، د بل چا د نظراوریدو حوصله ولری ، د خپل ولس دتاریخ نه باید پوره خبر وی په خپله ملی ژبه پوره پوه وی له دی نه علاوه د نړی په مشهوروژبو عبور و لری، له خپل ملت سره همدردی ولری، اوس نو دا باید ووایم چی دا ټول صفتونه په یوه تن کی نشی موندل کیدای خو یوڅو خو ضرور باید ولری ، که هیڅ تیل نه وی نوبیا به ډیره څه وړ بله شی؟ ؟

پوښتنه : له ژور نالیزم او لیکوالی څخه ستانصب العین څه دی؟

ځواب:له خدای (ج) نه غواړم چی ماته یی د عمل لړ. فرصت راکړی هغه درښتینولی د ساتنی او پالنی د احساس را پارولو په لار کی تیر کړم، زما دا آرزو ده چی دغه هیواد خدای ج ځواکمن او عزتمن کړی، په دغه ټولنه کی درد او احساس وده و کړی - د نظر یووالی او نظم رامینځ ته شی د نظروسعت پیداشی له جهل څخه نجات و مومی اخلاقی اقدار پکی و پالل شی د محمد (ص) نوم روښانه شی او په نوی نسل کی دنوی نړی د فتحی جذبه راوښنه شی، قومونه هغه وخت ژوندی پایی چی د لوړ والی او کمال هیلی ور سره وی ، زما او لاد په دی هیواد کی اوسی زما دعا ده چی هغوی دی خدای(ج) نیکمرغه لری او دغه ټولنه دی هم خدای (ج) له هوس نه خلاصه کړی چی د قربانی او ایثار جذبه پکی رااوچته شی او د آزادی او سر لوړی په لوری مزل پیل کړی او د غلامی او سر ټیټی له خوی نه بیغمه شی.

پوښتنه : د یوه ژورنالست په حیث آیا د کیڼ لاسو او چپ لاسو پر اصطلاح قایل یاست ؟

ځواب: اشتراکی نظریات یو حقیقت دی چی زموږ د نړی د میلونونو انسانانوپر ذهن یی نیغ اثر پروت دی(دغه مرکه د روس له ټوټه کیدو ، د ختیځی اروپا له پاشل کیدو اود کمونیزم د بربادی نه وړاندی شوی ده «ژباړن»)

دچپ لاسو نظریاتو خاوندانو په مینځ کی ډیر د قدر وړ ژورنالستان شته او زما په نظر هغوی د زړه له کومی دغه نظریات منلی دی که څه هم دا ډیره سطحی او بی ارځښته نظریه ده ځکه خو تل د بدلونواواوښتونونو سره مخامخ ده .

زه دښی لاسو په مفهوم نه پوهیږم ، الحمد لله زه مسلمان یم او نور هم ددغه سپیڅلی دین په دایره کی دننه لیدل غواړم ، ښی لاسی د لویدیځو اصطلاح ده زموږ د هیواد په شتمنو او مالدارو ښایی اطلاق وکړی خو په ژورنالستانو او نورو کارکوونکو نه .

د مسلمان لاره ، د عدل ، توازن او بدلون لاره ده ، هغوی نه مرتجع دی او نه توند رو او افراطی، په پاکستان کی چی کیڼ لاسی کوم انقلاب او بدلون راوستل غواړی هغه هیڅکله هم نشی راتلای.

هغوی په دښتو کی د چای او په غرونو د غنمو کرلو زیار باسی ، اوس هغوی له ذهنی انتشار سره مخ دی او زیات یی د امریکا ترجمایی لاندی اوس د« جمهوریت » د پولو ساتونکی شوی دی.

پوښتنه : ته په پاکستان کی د یوه اسلامی حکومت جوړول غواړی که د سیکولریستی؟

ځواب : پاکستان د یوه سیکولریستی هیواد په نوم ژوندی نه شی پاتی کیدای له هند سره یی دتوپیر ټکی له منځه ځی، خو د اسلام هم یوازی نوم کافی نه دی اسلام به هغه وخت راځی چی دناپوهی او ظلم جړری وویستی شی، د بشریت درناوی بیرته رواج شی، هوس ختم شی، علم اعتبار ومومی ټولنیز عدالت تامین شی، له خدای(ج) او دهغه له رسول (ص) سره رښتینی اړیکی ټینګی شی، اسلام د یوی نعری او شعارنه دیوه دستور او عملی ژوند نوم دی چی په هغی کی لوربنه ، استعدادمینه، کار او عمل او آزادی وی، د کبر، ظلم اوجهل څخه نجات وی.

پوښتنه : په مطبوعاتو کی تاسو څه بایلودل او څه مو تر لاسه کړل ؟

ځواب : شل کلونه می بایلودل او بالاخره می له ځانه سره ملاقات و شو که په کوم بل ډګر کی وای ښایی زیان به می تردی هم زیات ؤ .

پوښتنه : دژورنالیزم بریدونه او حدود ستا په نظر کوم دی؟

ځواب: د علم، هنر، کمال، او د جذباتو د جوش هیڅ بریدنه وی

از قرن تابه قرن لشکر ظلم است ولی
از ازل تابه ابد فرصت درویشان است

ژورنالیزم د درویشانو مسلك دی ددوکاندارانو نه ، قیود البته پکی شته ځکه بندیزونه د ژوندانه جزدی، داد ژورنالست دنده ده چی بی ویری د حالاتو تصویر وړاندی کړی، دهغه کار د لاری په نخښنه کول دی - البته د یوه لار ښود او لیډر په څیر نه په یوه بل ډول به دا کار کوی - او د خپلی ټولنی د سمسورتیا او ملی ګټو د تامین په لاره کی به ګام اوچتوی.

پوښتنه : که ستاسو په خیال د پاکستانیو مطبوعاتو ځنی غلطی راپه ګوته کړی مهربانی به مو وی ؟

ځواب : د خبرونو خاوندان د پیسو په هوس کی را ګیر دی، شتمن یو تربل زیات بیسواده دی او همدغسی یوتربل زیات د غلامی په خوی روږدی دی په ژورنالستانو کی هم هر ډول ښه او بد کسان شته - ناپوهی او بی هدفی د پاکستانیو مطبوعاتو مرض دی، آیا داهسی تصادفی ګڼلی شو چی ملی او دولتی اداری د

ژورنالیزم او لیکوالی د پراختیا په لوری معقول گام نه اوچتوی؟

پوښتنه : ددی کمبو پوره کول څه ډول ممکن دی؟

ځواب: دا دوبرو ساده اصولو خبره ده ، د خپلو کمزوریو د لری کولو همت باید ولرو د اصلاح تحریك باید پیل شی که له هر لوری وی او د هری اداری لخوا .

پوښتنه : زموږ په هیواد کی چی ژورنالست او لیکوال ته په کومه سترگه گوری آیا ته په دی قانع یی؟

ځواب : آیا له داسی ټولنی نه د لږ وا من کیدو جواز هم شته چی د خبریالانو او لیکوالو د مقام او عزت د اطمینان پوښتنی

هدف چی څومره مشکل دی په عام ډول همدومره مهم او لوړ وی ، شرط یی دادی چی دعزم ، پوهی او استقلال څخه کار واخستل شی اسلام د خدای(ج) دین دی نو هغه به نافذیدلی ولی نشی، د مسلمانانو اهل فکر باید پام وکړی چی آیا ددوی ددین په تصور کی کومه تنده ده ، ددوی په پلان اوطرحه کی څه خرابی ده او یا ددوی جذبه نیمگړی ده او یا داچی دوی هدف ته د رسیدو لپاره د خپل توان او طاقت دکارولو پرځای په نورو وروکو مسایلو کی سرگردان دی،

پکی کیږی. داخو د وطن د ساتنی پوځیان نه دی چی خلك یی مخ ښنکل کړی او ورته کښینی،په دی هیواد کی د ژورنالستانو همدغه امتیازونه هم زیات دی، البته څوك چی د قوم خدمت کوی، قوم یی خدمت نه هیروی، او د قدر پیژندنی لپاره سیاسی شعور ، پوهه او لورینه شرط ده نو آیا زموږ لیکوالانو او خبریالانو دددی کار په را ژوندی کولو کی زیار ایستلی دی؟

پوښتنه : که د مطبوعاتو په ځای تاسو په سیاست کی برخه اخستی وای آیا هیواد ته به د لاسه خدمت مصدر نه وی شوی ؟

ځواب:: هر سړی له خپل ذوق ، حالاتو او غوښتنو سره سم خپل مسلك او دکار ډگر ټاکی، زما زړه اوس هم په دی داوه دی چی زما انتخاب سم ؤ خو دا نه ده معلومه چی ما به هیواد ، ولس، دین او خپلی مفکوری ته څه خدمت کړی وی که نه !

پوښتنه : په مطبوعاتی ژوندانه کی موتر ټولو ستره کامیابی اوناکامی کومه کومه وه ؟

ځواب: په دوو خبرو زه ډیر د خدای (ج) شکر ادا کوم یو داچی له کومی نیمی، یوی سهوی پرته چی ماتر اوسه پوری څه لیکلی د خپل دماغ او ضمیر په لار ښوونه می لیکلی ، دوهم داچی الله (ج) ماته د افغانستان په جهاد کی د قلمی گډون ویاړ را وباخښه ، داهم د ستر رب (ج) لوی احسان بولم چی د واکمنو د نزدی توب هیله می تر اوسه په زړه کی نه ده را اوچته شوی او تر کومه پوری چی دنا کامیو په باب خبره ده نو دهغی لیکه ډیره اوږده ده زه خو څه « فرهاد » نه یم که نه !!

پوښتنه :آیا په خپل مطبوعاتی ژوند کی له کومی داسی پیښی او حادثی سره مخ شوی یاست چی له مطبوعاتو څخه یی گوښه کیدو ته اړ کړی واست؟

ځواب: پاکستان یو نوی هیواد دی او په نوی موقع تر لاسه شوی، دلته هرڅه نوی دی، اداری هم نوی دی، دلته له کار کوونکو څخه د/لا زیاتی وفاداری هیله کیږی او کله کله داسی وفادار کسان هم موندل کیږی چی تر حیواناتو هم زیات د بادار طابع وی، له داسی خلکو څخه می کله کله وحشت واخلی او کله کله زیات تری ویریږم خود ژورنالیزم او لیکوالی پریښودوته تر اوسه نه یم پکی اړ شوی، ژورنالیزم یوه په زړه پوری ځانگه ده\ ، که دلته څه ستونزی او مجبوری وی نو آیا په بله کومه رشته کی نشته؟

په اداری کارونو کی نشته ، په سوداگری او نورو کار او بار کی نشته؟ په سیاست کی نشته ؟ چی طبعاً ضرورشته یوازی دا خبره ده چی څوك آرام او آسوده ژوند غواړی هغه باید دا ځانگه خوښه نه کړی او له یوه ژورنالست سره د آسوده او آرام ژوند هیله‌ډیره نامناسبه ښکاری.

پوښتنه : آیا کله به خپل مطبوعاتی ژوند کی له دوکی ، فریب ، ویرونی او یا طمعی سره مخامخ شوی یاست؟

ځواب : د جبر په دی حاکمه فضا کی خو باید سړی له ځان سره احتیاط وکړی خو د خدای(ج) فضل دی زه ډیر لږ. له ویری سره مخ شوی یم په ۱۹۸۱ کال کی د یوه خبر د خپریدو په وجه چی ډیری خطرناکی موضوع په باب ؤ یوڅه ستونزی خامخا را په غاړه شوی ، خود ضیاء الحق دوره وه د جبر سره سر ، زما په څیر عام خلك چی په کوم گوند پوری اړوند نه وو په امن کی وو، له فریب او خیانت سره به زما په څیر خوار کسان څه وړ مخامخ شی، البته د ۱۹۸۸ کال په عامو انتخاباتو کی د یوه سیاسی گوند د اخبار او څنو بد اخلاقو پلویانو سره مخامخ شوم خو دحافظ په قول: «از ازل تابه ابد فرصت درویشان است ».

د خدای (ج) په فضل می ولیکل خوښه می لیکلی ، د سیاسی څناورو پر خلاف می ولیکل دهغه چا پر خلاف هم چی زه به یی ورته منسوبولم. د لوی الله مهربانی ده چی هیڅکله یی هم چاته زما په باب د طمعی جرئت ورنه کړ. بنایی ددی لپاره چی ځواکمن زما په نزد بی ارځښته

وو، او یا ښایی ددی په خاطر چی الله (ج) په زه په دی نه ازمویلم ، ځنی معمولی کیسی شته خو هغه دلته د یادونی وړ نه دی.

پوښتنه : ددی عمومی نظر په باب ستاسو څه رایه ده چی زمورمطبوعات اصلاً هیجانی موضوعات زیات خوښوی او هغه زیات تبلیغوی او مثبت او تعمیری معاملات له نظره غورځوی؟

ځواب : داخو ډیر بی رحمانه او سر سری بیان دی چی د بشپړ تحلیل نه پرته د یوه په فشار اخته مریض خبره کیدای شی، هوکی خرابی شته ضرور شته خو هغه په یوازی بیان نشی رفع کیدای.

پوښتنه: په هیواد کی اسلام څه وړ نافذ کولای شو؟

ځواب: په سپوږمی څه وړ ښکته کیدای شو؟ دگوتو په شمیر دځو باخبرو ساینس پوهانو پرته ددی پیړی ترنیمایی پوری دا خبره ډیره مسخره ښکاریده وروسته انسان په خلا کی حرکت زده کړ، له ځمکی نه په خلا کی اداره کیدونکی خلایی جهازونه جوړ شول او خلابازانو ته په بله سیاره د ښکته کیدو تعلیم ور کړل شو هر ډول لوړ خوب په یوه ساعت کی لیدلی شو خو دهغه د پلی کولو لپاره کله کله په لسگونو او سلگونو کلونه په کار دی، هدف چی څومره مشکل دی په عام ډول همدومره مهم او لوړ وی ، شرط یی دادی چی دعزم ، پوهی او استقلال څخه کار واخستل شی اسلام د خدای(ج) دین دی نو هغه به نافذیدلی ولی نشی، د مسلمانانو اهل فکر باید پام وکړی چی آیا ددوی ددین په تصور کی کومه تنده ده ، ددوی په پلان اوطرحه کی څه خرابی ده او یا ددوی جذبه نیمگړی ده او یا داچی دوی هدف ته د رسیدو لپاره د خپل توان او طاقت دکارولو پرځای په نورو وړوکو مسایلو کی سرگردان دی، د آرامی ، لوړ والی او پراخی سینی ترڅو د ختیځ او لویدیځ انسانانو په برخه لیک کی اسلام لیکلی لکه څرنگه چی د امپراتوریو له پیښی نه د آزرده او ځوریدلیو قومونو په برخه چی جمهوریت لیکلی ؤ.....د اسلام لپاره قربانی ورکړل شوی، وینی او خولی توی شوی ددی مانی په بنیاد کی دیرژوندونه خاوری شوی او بالاخره پردی مانی جوړه شوی دغه ونه به خامخا بالاخره میوه راوړی خو معلومه نه ده چی تر هغو پوری به څومره ماتی او شکستونه نور هم زموږ په برخه وی.

داسلام د نفاذ له بحث نه پرته زه تاته یو راز وایم ! یو روښانه او نه بدلیدونکی حقیقت دادی چی الله (ج) تعالی به له مانه اوله تاسو نه یوازی د خپل ځان پوښتنه کوی ، لکه د « جنگ» یا « نوای وقت» په دفتر کی چی یو خبریال یا لیکوال یوازی د خپل کار په باب مسئول وی .

که زه او ته پر ځان اسلام نافذ کړو - دروغ ونه وایو ، حلاله روزی و گټو دچا حق ونه خورو ، له ریاکاری نه ځان وساتو، د انسان پرځای پر الله (ج)خپلی هیلی وتړو، بدگومانی ونه کړو- شکنځلی ونه کړو او دخپل لاس له خواری نه یو څو پیسی یوازی یو څو پیسی له ربا پرته کوم ربښتینی ضرورت مند اومحتاج انسان ته ور کړو نو په دی و پوهیږه چی موږ پر ځان او خپله کورنی اسلام نافذ کړ، د یوه تن د نجات لپاره داهم ډیره ده که څه هم د ټولنیز نفاذ ضرورت پر خپل ځای پاتی وی خو په ټولنیز ډول اسلام هم له افرادو څخه پیل کیږی.

پوښتنه : ویل کیږی چی زموږ پر سیاست او اقتصاد د بهرنیو طاقتونو واکمنی ده او دلته هیڅ ډول بدلون د هغوی له خوښی پرته ممکن نه دی، موږ له هغوی نه پرته خپله پالیسی هم نشو جوړولی آیا پاکستان یو آزاد هیواد نه دی ؟

ځواب: ما عرض وکړ چی موږ د غلامی په خوی عادت شوی یو، زموږ آزادی نیمگړی ده که موږ له دغه خوی څخه نجات و موند خپله نیمگړی آزادی بشپړولای شو، ایرانیانوداکار وکړ ، افغانان یی کوی، موږ هم داکار کولی شو، زموږ زړه له دوی نه کمه ده ، موږ د وینو پرځای د خولو په تویولو خپل هدف تر لاسه کولی شو.خو آیا موږ دی ته تیار یو؟!

پوښتنه : مړ دوی روس او مړه دی وی امریکا د شعارونو پس منظر څه دی او آیا له دی دواړونه کوم یو شعار درست دی؟

ځواب : خلك ، کورنی ، ټبرونه او ولسونه د خپلو گټو او خپل ځان دساتنی لپاره جنگونه کوی، کوم چی زیات ځواکمن وی په کمزورو د قبضی هیله من دی، که موږ له خود داری سره سره په خپلو پښو ددریدو هیله ولروکه موږ ټول قوم په یوه نظر او یوه سلا شو او دخپل هدف په لوری گام واخلو نو زما یقین دی چی ترڅو کلونو پوری تر زیات نه زیات شلو کلونو پوری به پورتنیو شعارونو ته موږ هیڅ ضرورت ونه لرو، کمزوری زموږ دننه ده ، بهر نه ده ، که د مریض ددفاع قوت ویښ وی نو هغه به ډیر زر تکړه شی ، هغه به داکسیجن اخستلو ماشین لوټوونکی ډاکتر اوبی رحمه دواجوړوونکی له شرنه پخپله خلاص شی، موږ ته د یوی لوړی هیلی ضرورت دی، دعزم، پوهی ، او پلان ، په آسانه وینا د یوه نظام او هلو ځلو ضرورت دی او بس.

پوښتنه : د مطبوعاتو په باب که کومه نا ویلی خبره لری؟

ځواب: موږ ته د الفاظو ضرورت نشته د ارادی د آرزو او عمل ضرورت دی، د فطرت عناصر په چیغو چیغو دا غواړی چی : په تالاب کی لویدلی انسان وینا او دعاته نه حرکت او خوځښت ته ضرورت لری.

نویسنده: لیلا «خرم»

نقدی بر مجموعهٔ داستانی « باران»

خواننده محترم: مجله حریت نقد حاضر را قبلا در شماره (دهم و یازدهم ماه حمل و ثور) به چاپ رسانیده چون نویسنده کتاب، نقد بر نقد مذکور را به اداره مجله فرستاده اند، جهت اینکه خواننده گان محترم نقد و نقد بر نقد هر دورا مطالعه و به نتیجه برسند نقد اولی را بار دیگر بنشر می سپاریم.« اداره»

مجموعه داستانی« باران » نوشته محترم حلیم تنویر شامل ۸ داستان کوتاه خوب و مقبولیست که بر راه نیمه روشن و نو شناخته داستان کوتاه چون نور امیدی تابیده است.

داستانهای کوتاه محترم تنویر دنباله رو واقعیت گرائی و تحولیست که پس از سالها رویاپروریها، وبه کار بردن سوژه های مضحك بازاری و رمانتیك گونه در داستان به وجود آمده است و دیدژرف وموشگافانه و حساس نویسنده باریتم وآهنگ هنری باتصویر های زنده بی واسطه و گویاداستانهای این مجموعه را مشخص نموده است، باخواندن هر یك انسان با زندگی اش و با حقایق تلخ آن در می آمیزد زندگی اش را باهمه گوشه و کناره وسایه روشنی هایش باهمهء زشتیها وخوبی هایش در برابر خویش مینگرد و انسانهایش را خودش را که جزئی از انهاست آئینه سان در برابر چشمانش مینگرد و آه میکشد، آه میکشد از برای اینه چرا تا حال نتوانسته خود را و محیط خودرا بشناسد و چرا انسان نتوانسته تا حال همه زوایای ظلمانی محیط اش را بانور عذالت روشنایی بخشد و همه مظاهر زشتی و نکبت را از دامان آدمیان مفلوك ، نشسته در تاریکی های ظلمت دور کند.

به گونهء مثال داستان « باران» که بهترین داستان این مجموعه نیز شمرده شده میتواند بیانگر عمق بدبختی ها و تصویر گرحالت زار مردمیست که جز خدای دیگر دادرسی ندارند و جزباران رحمت او دیگر وسیلهء برای ادامه حیات ندارند و همچون گل های خود روی بیابانها سر بر آسمان داشته اند تا مگر ابر رحمت بر آنان ببارد و تن های پژمرده شانرا زندگی بخشد ولی آتش ظلم و تجاوزی که بر آنان رضا کارانه حکومت می کند حتی ابرهایشانرا در آسمان می سوزاند و در روی زمین نیز جائی برای پاگذاشتن به آنان نمی گذارد.

زمینه و عکاسی فضای داستان باسوژه آن انطباق کامل دارد و همه باهم سخت هنری اند چنان که میدانیم دریك داستان جدال و حادثه آفرینی جزحتمی و لازمی به حساب می رود ، داستانی که جدال نداشت داستان نیست، جدال وحادثهء گری که باگذاشتن در انتها به نتیجهءمنطقی خویش برسد، داستان « باران» نیز خالی از جدال نیست بلکه اساس و بنای آنرا جدال و کشمکش تشکیل داده است حوادث پیهمی ومرتبطی که ناشی از جدال محکومین با اجبار طبیعی و تصنعی زندگی است همزمان روبه اوجی می رود که نقطهء انفجار تصادمات است از مبارزه با قهر طبیعت(بی آبی) تادمیدن روح مبارزه باحاکمین ظالم قریه، و جدال مرگ با زندگی که نتیجهء آن بازیاد شدن انسانی در میان انسانهای گرسنهء دیگر است.

این همه رابه انفجار مقابله محکوم باحاکم می برد که علت خشکسانی این جدال راتقویه می کند، اما داستان درست در همین مراحل حساس ومنفجر شونده ناگهان روی قهرمانان را از سمت اوج به سوی دیگری گردانیده و یکبار دیگر روح عجز و خواري و نیاز در قهرمانان مشتعل آن دمیده می شود. درین مرحله از سه تن قهرمانان تنها یکی آن باقی مانده و بدون آنکه سرنوشت منطقی آن روی دگر که در نزدیکی اوج آب شدند و ازبین رفتند واضح شود گرچه « مادر» درطی سخنانش براي اطفال خویش اورا از سرنوشت پدر و خواهر آگاه می سازد اما تاثیر این توضیحات طولانی و در عین حال روایتی در ذهن خواننده بسیار کمتر از آن زمانیست که اگر نویسنده سرنوشتشان را با اعمال و رفتار خود شان و در زبان خود آنان در نقطه اوج به روی صفحه می آوردتاکیدبیش از حد نویسنده بر علت طبیعی بدبختی آنان تاثیر جدال طبقاتی یاد شده در آن ونتایج حاصله از آن را ازبین می برد.

با آنهم به گمان غالب باران با تصویرگری روشن و دقیق دیالوگ های مناسب وفضای زنده و متحرك از بهترین داستانهای این مجموعه محسوب گردیده میتواند، طوالت و درازی آن نقصی است که باید بدان اشاره نمود.

داستان « غم ناشناخته» نیز ازنگاه زمینه سازی وبیان زنده و عمیق زنده گی مردم شهر کهنهء کابل داستان خوبیست ولی نقص عمده، آن این است که تاپایان داستان خواننده ، منتظر حادثه مینشیند و به اشتیاق لا اقل یك حادثه آنراتا آخر دنبال می کند و اما در پایان بدون آنکه به نتیجهء منطقی آن و هدف مخصوص آن پی ببرد و یا پایان آنرا باور کند چشم از سطور آخر آن برمی گیرد.

نویسنده در داستان « دخترگورستان» کوشیده است تا به مسایل روانی افراد بپردازد، درونکاوی نماید وبابیان جهات منفی، زننده و فحش جامعه افشا کاری

نموده و به علل وعوامل آن بپردازد، اما تاجائیکه می بینیم درین هدف خویش چندان موفق نبوده است.

نویسنده هرچه خواسته در برائت قهرمان بدکار داستان طرف واقع شود و از او دفاع نماید نتوانسته علت هرزگی زن« قهرمان» را بامنطق منطبق نماید چه داستان گذشته ، زن نیز بیانگر روح بیباك و لجام گسیختهء اوست و جامعهء افغانی و اسلامی با فطرت و مزاج خاص خود آنرا دلیل موجهء مظلومیت چنین شخصی تلقی نموده نمی تواند و غربت نیز یگانه دلیل بد کاری و بی بندو باری شده نمیتواند، اما اگر نویسنده بر دیوانگی اوتاکید نموده و از نوشتن جملات سنجیده زبانی او خود داری مینمود میشد تاحدی آنرا برای هرزگی اش علت موجه خواند.

همچنان این داستان تانیمه های آن اززبان اول شخص مفرد بیان شده و بعد ازنیمه ها بآن بصورت ناگهانی زاویهء دیدتغیر نموده و از زبان غائب (دانای کل)بیان گردیده است .

« مردیکه خاموش بود» یکی از داستانهای خوب این مجموعه به حساب آمده می تواند نویسنده درین داستان توانسته است تا حد زیادی به هدف خودکه ارائه داستان زنده با تصویر های گویا از واقعیات جامعه است، دست یابد، و بر خلاف داستان خوب دیگر« باران» که دچارگمگشتگی اوج و پایان مجادله شده بود از یکپارچگی حوادث وطرح بر خوردار است.

بیان دقیق و کنجکاوانهء حالت قهرمان و سخنهای ناگفته ، درونش به گونه ایست که خواننده در دنیای اندیشه های اوگام به گام پیش میرود و در عمق پریشانی هایش راه می یابد.

داستان« حق نه نه ره بتی» بازمینه نامناسب و مصنوعی و مفهوم محصور در کلمات طرح های نامرتب ازاصالت خود کاسته است ، مقدمهء آن سخت قرار دادی و کلیشه ای است رو بروشدن نه نه با جوان خندان و بشاشی که دوستان خود را میخنداند و مبدل شدن ناگهانی آن جوان مست به یك جوان انقلابی و سرسخت که بر ضد ظلم واستبداد بیانیه میدهد، آنهم برای پیره زنی که تنها پول سیاهی از او خواسته است ،گنگ ماندن ماهیت انقلابی گری جوان و بعد هم پیدا شدن او با گذشت چند ماه باموهای سفید در برابر زن همه حوادث غیر طبیعی و تصنعی بدون پرداخت واضح و تجربی به موضوعات هستند، داستان اوج ندارد چون که جدال و کشمکش ندارد و نویسنده صرف باچندجمله کوتاه از زبان جوان به مجادله مبهمی اشاره نموده است.

زمینه ، داستان «گناه» نیز نامرتب است و اتفاقات و صحنه ها جاهای مشخص خود را ندارد درینجا نیز باساختن زمینهء مصنوعی نویسنده خواسته است حرفی ازجدال و انقلاب بزند اما نتوانسته به این جدال جهت خاصی بخشیده و به داستان روح بدهد.

ظلم ، جبر، غربت و تنگدستی درهمه زمانها برجامعه ما حاکم بوده و است و حقیقتاً نویسنده ، واقعی کسی است که این همه را ابراز بدارد و با قلم خویش به جنگ این سیاهی های وحشتزای زندگی بشتابد.

داستان نیزطریقهء برای بیان حالات است، داستان عکس هنری همین بدبختیهاست، داستان نقاشی همهٔ حالات زندگی باهمهء عمق وژرف آن است حالاتی که انسان برای درك درست آن احتیاج به تجربهء ناخود آگاه خویش دارد و همیشه در پهلوی علل عام علت خاصی نیز باید وجود داشته باشد تادرك واقعیات وحوادث را آسانتر نماید، به همینگونه در داستان که بیان زندگی است نیز باید برای بیان علت عام جو حاکم برجامعه به بیان و توضیح علت خاصی و مشخصی نیز متوصل شد، چرا اذهان خواننده گان نیز برای درك مطلب نویسنده به طرح یك تجربهء کامل یك تسلسل کامل و یك تصویر روشن ضرورت دارند و نباید دریك داستان از مقدمه های شعار گونه باتکیه کلام های تصنعی و متعدی که حاوی فضا و محیط مسلط بر داستان باشد کارگرفت و صحنه های زندگی را باید طوری در پهلوی یکدیگر بادقت قرار داد که قصد و هدف نویسنده در آن داد و بیدادراه نیندازد و تسلسل قصه را ازبین نبرد تاکیدهای کلی وضمنی ودیالوگی بر هدف عمومی داستانها یعنی غربت به نظر ما اضافی مینماید چه با داخل شدن در فضای هر داستان خواننده به چگونگی حالات ووضع زندگی قهرمانان و افراد آن پی می برد و برجستگی یك داستان نیز در آن است که نویسنده بدون اشاره لفظی به اهداف خویش آنرا بابیان و حالات قهرمانان و طرز عمل آنان بیان بدارد.

نویسنده در اغلب داستانها لغاتی چندی رامکرراً وپی هم در سطور مختلف تکرار نموده است مثلاً: ناشیانه ،دودی زده ، می نماید و..... که این دو آخر ازنگه ترکیب لغوی نیز نقص دارند چه بجای دودی زده باید یادود زده نوشته میشد هم با دودی یابجای می نماید اگر می نمود نوشته میشد خوبتر بود .

طرز نوشتاری بعض از سطرها در برخی از داستانها مثلاً درکوچه های خاطره و دخترگورستان، بیشتر به سبك نویسنده گان ایرانی است مثلاً درجائی(از کوچه های خاطره) نوشتن:« هرکس سود بخوره شکمش می پنده ، گنده میشه آخرش هم میکفه» که ترکیب گنده میشد را بیشتر ایرانیها استعمال میکنند.

یاکلمات نامانوس ایرانی چون « دانشگاه»، « پرسه زدن» و غیره که این دومی برای ماکاملاً بیگانه است.

علاوه برآن تاثیر داستانهای اکرم عثمان و برخی نویسندگان ایرانی به بسیار وضوح وحتی در بعضی مواقع تاسرحد تقلید درین مجموعه به چشم میخورد و احساس میشود که بعضی عناوین داستانها شاید عین عناوین داستانهای اکرم عثمان باشد چون عناوین و زمینه سازی ها وسایه روشنی های داستان خیلی ها آشنا وشنیده شده اند.

ولی چون سندی در اختیار نداریم ازحکم قاطع درین زمینه خود داری مینمائیم.

اما با آن هم داستانهای مجموعهء باران ابتکاراتی راکه در داستان نویسی معاصر افغانی که بچشم میخورند باخود دارد، ازقبیل تصویر سازی های روشن، دیالوگ های مناسب ، واقعیت گرائی ها و غیره ، گرچه در اکثر دیالوگ ها و توضیحات زبان ادبی و عامیانه باهم مخلوط شده اند.

تحرك وزنده سازی قهرمان و موشگافی های حالات ظاهری روانی افراد همه و همه ازصفات این مجموعه به حساب می آیند، به امید آثار گرانبهای نویسنده ، آن.

حلیم « تنویر »

جوابی به :

(نقدی بر مجموعهٔ داستانی باران)

نقد به مجموعه داستاني باران نوشته محترم ليلا خرم را زمينهء خوبي يافتم ،تا درباره اصول نقد و رسالت تنقاد و نقد پذيري سخني كوتاه بيان كنم ، در محور اين اصل ملاحظه كوتاهي به بعضي جملات ايشان كه به مجموعه داستانهاي كوتاه (باران) نوشته اند داشته باشم، نقد موشگافي يك اثر ويانبشته است كه سره و ناسره مطالب آن از هم تفكيك ميگردد برخوبي هاي آن تأكيد صورت ميگيرد كه آنرا تقريظ ميگويند و بر بدي ها اشاره ميشود كه آنرا انتقاد ميگويند.

اما غالباً نقد بمعني انتقاد توجيه گرديده و باصطلاح عام (در خمير موي پاليدن) است يعني اينكه برامري نقد صورت گرفت نقاد حتما در جملات اول ، نوشته را بمعراج خوبي ميبردو بيك بارگي آنرا بزمين ميلغزاند و از هم ميپاشد.

اين رسالت نقادنيست كه در فرو پاشي نوشتارها و بر چسپ زدنهاي كه ناشي از احساس نقاد ميشود، در نقد طوري وانمود نمايد كه حتما فلان اثر فلان نويسنده نامكمل و يا پر از عيب است .

نقاد بايد بداند كه چه معياري ميتواند به پله هاي نقد گذاشته شود، نقاد بايد معيار نقد خودرا اولتر از همه در پله ها بگذارد و با ارزش هاي كه خود در نبشته به نقد اثر ديگر بپردازد و در آنصورت موشگافي يك اثر بدون رأي نويسنده نقد، به خورد خواننده پيشكش ميگردد و قضاوت هم به خواننده واگذار ميشود.

مشكل ديگر هم نقد پذيري استكه متأسفانه در كشور مانه تنها موردپذيرش نبوده ، بلكهٔ نويسنده اثر نقد را توهين بخود تلقي مينمايد و آنرا خصومت نقاد ميداند، در جامعه ما اصلا نقد پذيري وجود نداشته در همه ساحات اجتماعي ، سياسي و فرهنگي نقد پذيري كمتر معمول بوده و عكس العمل هاي آني و احساساتي از آن هويدا است و هر دو طرف نقد كننده و نقد شونده از مواضع ضعيف خود سرسختانه دفاع مينمايد و خود را بر حق ميدانند چنانچه ما اوضاع سياسي كنوني را اگر ارزيابي نماييم و يا بر خورد مطبوعات جهادي را بنگريم لغزشهاي بسي عظيمي را در خواهيم يافت كه ناشي از عدم تعقل و پذيرش واقعيت‌هاست.

نقد محترم ليلا خرم را كه برمجموعه داستانهايم بنام (باران) نوشته اند بر پايه احساسات فردي و يا در (خمير موي پاليدن) است ، چنانچه در نقد داستان باران تناقض گويي موجود است كه در دو پاراگراف متصل باهم نوشته شده توجه كنيد: اگر نويسنده سرنوشت شان را با اعمال و رفتار خود شان و در زبان آنان در نقطه اوج به روي صفحه مي آورد، تاكيد بيش از حد نويسنده بر علت طبيعي بدبختي آنان تأثير جدال طبقاتي ياد شده در آن ونتايج حاصله از آن را ازبين ميبرد. »

جمله دوم:.... طوالت و در ازي آن نقصي است كه بآن بايد اشاره نمود. »

وي از يكسو تقاضا دارد كه حالت داستان هم در ديالوگ بيايد كه واضحاً ديالوگ ، داستان را طولاني ميسازد و از جانبي داستان باران را طولاني ميداند و به نقص آن اشاره ميكند.

در داستان« غم ناشناخته » نقاد مينويسد: « و اما در پايان بدون آنكه به نتيجه منطقي آن و هدف محسوس آن پي ببرد و يا پايان آنرا باور كند، چشم از سطور آخر آن بر ميگيرد. »

من نميدانستم كه نقاد محترم از داستان كوتاه ، داستان فلمهاي هندي را انتظار دارد تا پرسوناژها بكام دل برسند و جشن شادي برپاكند ودنباله آنرا تاكه حوصله خواننده بر سر آيد ادامه دهند.

رينت همينگوي نويسنده امريكايي در مقدمه اثر خود بنام (پير مرد و دريا) مينويسد:« آنچه را كه در داستان كوتاه هميشه مراعات نماييم، كلمه سوال است كه در گره اندازي اخير و در اوج يك داستان ، خواننده بان مواجه ميگردد، خواننده بايد از آن استنباط نتيجه داستان را نمايد.

چخوف نویسنده ابتکاري داستانهاي کوتاه در کتاب خود بنام (آلو بالو) میگوید:

« چقدر لذت آور است که نتیجه داستان را در قضاوت افکار خواننده بگذاریم... »

ابراهیم یونسي« درکتاب (داستان نویسي(بخشي را در همین مورد اختصاص داده مینگارد:

« داستان کوتاه همانست که بعد از ختم خواننده را بخود مصروف نگهدارد و درمورد آینده قهرمانان داستان خو دارزیابي نماید.

رضابراهني درکتاب (طلادرس) بوضاحت تأکید میورزد: قهرمانان داستان را نگذارید که مسخ شده و گره ها در اوج خود بابتذال کشانده شوند، قهرمانان را دراوج داستان نگهدارید....

(داستان غم ناشناخته، دیالوگ مادر و دختر ..... است که در فرجام یك بدبختي جزیك آرزو امید دیگري ندارند و اتکا به معنویت دارند و دخترك میگوید: خدا بابیمه ببخشه که ده غریبي مرد... »

داستان دخترگورستان نقاد قهرمانان داستان را برائت نمیدهد ، و علت بدبختي هایش را تنها فقر میداند، در حالیکه فقر یکي از عوامل بوده ، پیوندهاي ظالمانه و شعب کلتوري، روابط اجتماعي، سرکوبي حقوق زن و بي ارزش بودن جنس زن که تاهم اکنون در افغانستان وجود دارد همه و همه عوامل بودند که از قهرمان داستان « دختر گورستان» یك زن بدکاره ساخته بود.

هیچ پدیده بدون علت نمیاید، اگر فردبدزدي دست میزند، نباید دست او قطع گردد بلکه عامل این دزدي که غالباً فقر است پیدا گردد و فقر خود بخودي بوجود نمیاید بلکه غربت و فقر زاده عوامل دیگر اجتماعي میباشد.

داستان « دخترگورستان» با آنکه از نظر ایشان قابل انتقاد بود اما بر عکس در سال ۱۹۸۷ اتحادیه نویسندگان گویته انستیتوت آلمان جایزه اول داستان کوتاه را در شرق زمین حاصل نمود و بزبان آلماني هم نشر گردید. شاید معیار اصلي درمورد انتخاب داستان کوتاه، اختلاف سلیقه ها باشد ، نقاد محترم ممکن از قهرمان داستان که عملاً درکوچه و بازار وجود داشت ، نفرت داشته و نمیتوانست باور کند که شخص اوعامل بدبختي نیست.

وي دریك بخش از نقد خود مینویسد: طرز نوشتاري بعضي از سطرها در برخي از داستانها مثلاً در داستانهاي درکوچه هاي خاطره » و « دخترگورستان» بیشتر به سبك نویسندگان ایراني نوشته شده است ...» و طور مثال این جملات را ذکر نموده اند: هرکس سود بخوره ، شکمش مي پنده ، گنده میشه ، آخرش هم ،میکفه...» که متاسفانه من یك کلمه از اصطلاحات ایراني را در آن نیافتم، فکر میکنم که نقاد محترم هنوز بازبان عامیانه دري آشنایي کامل ندارند ونوشته هاي پشتو موفق تر نسبت به دري اند و هر آن کلمه را که در ذهن خود نامأنوس یافتند ، ایراني میداند، چناچه کلمه(دانشگاه) را مربوط بزبان ایران میداند.

کلمه دانشگاه یکي از کلمات ترکیبي سچه دري است، پسوند گاه » که غالبا براي مکان استعمال میشود در اکثر کلمات معمول است مانند ایستگاه ، پرورشگاه ، آزمایشگاه، فرودگاه ، باشگاه و دانشگاه و غیره. ازمحترم لیلا خرم خواهش میکنم که یکبار کتاب (دستور زبان دري) نوشتهء پوهاند عبد الرحیم امام و یا (دستور نوشته) تالیف پوهنمل عبد الطیف ناظمي استادان ادبیات و زبان دري را مطالعه فرمایند و اگر بر ایشان مقدور نباشد، بنده در خدمت شان خواهم گذاشت تا در برچسپ زدن کلمات ناب دري به زبان ایراني احتراز ورزند و مشکل زباني شان رفع گردد.

وي در اخیر دلتنگ شده و چسپ ناروایي بر من زده که گویا داستانهاي من متأثرو حتي تقلید از داستانهاي اکرم عثمان ونویسندگان ایراني است.

باید متذکر شوم که داستانهاي این مجموعه چارده سال قبل و شاید هم قبل تر نوشته شده باشد، د ر آنزمان که اکرم عثمان داستان مینوشت ، بنده هم با نوشتن داستان سرو کار داشتم داستانهایم در مجلات(ژوندون) (پشتون ژغ) و برنامهء (رادیویي مجله) همیشه نشر میگردید من تاهنوز متعلم مکتب بودم ولي داستانهایم با معیار داستان نویسي موافق بود، همانگونه که شما امروز داستان مینویسید فکر میکنم وقتي شما داستنهاي اکرم عثمان را مي شنیدید شاید تمامي ارزش هاي نوشته دیگر نویسندگان را در حیطهء فکري خود بوي خلاصه میگرد در حالیکه علاوه از وي ما نویسندگان دیگري چون اسد الله حبیب اعظم، رهنورد، سپوژمي زریاب، مریم محبوب، لطیف ناظمي، بابا کوهي داریم که در داستان نویسي زبان دري ید طولا دارند.

شما شیوه اکرم عثمان را بعنوان یك مکتب داستان نویسي تصور نموده اید در حالیکه معیاري درین زمینه وجود نداشته است بازهم از شما قدرداني میکنم که نسبت علاقه تان تذکري در زمینه ، کتاب من داشتید.

دغیرتونو مورچل

دننگ پر کلیو دبی ننگو سور انگار پریوځ
پر خزانو می دوطن، لوی داړه مار پریوت
لامی نغمه دغورځنګونو چوپه نـه ده نړی !
پر عظمتونو می له مکره ستر غدار پریوت
آخر رسوا شول دهوس دکوځوسترړی یاران
چی سروپیالوته یی له شونډو زوړشعارپریوت
داکړلیچونه خومی لاروه ،خو گیله می داده!
چی زوړ آشنا مـی دپردیو په دربار پریوت
ماوی بهار دآزادی به وی نمانځـمه به یـی
دشمال باد مـی په لمنـه دبـهار پـریوت
چی سورتوپان پرآمووابښت ماویـل روغ پاتی شـو
خو دکابل په ښکلی غیره بل اغیار پریـوت
مسابقه دوحـشتونو ده کـه څـه یی ګنی؟
دروس په پلونو ددوستم دپښو غـبار پریوت
قطبی یړان ولاړل دقاف تر غرونوهم واوښتل
وحشی بچی یی راته دلته په «مزار» پریوت
دامزدوران می دتکبیر چیغی ته څه دی وایه !
چی می په ښو کی ددوی روس غـوندی بادار پریوت
د هیواد غله دی راټول شوی په یوه دسترخوان
زما تکبیرؤ بس په سترګو کی یی خار پریوت
آخر به تـښتی دوحشی ستـم بی رحمه لیوان
دغیرتونو په مورچل کی مو سـالار پریوت

لیلا «خرم»

(تمنا)

آنرا برون بیاورید اي سبزه هاي زرد
آنرا که یکزماني
نامش امید بود
آنرا از لاي بستر بیرنگ هست خویش
از لاي درز هاي تف آلود کوردل
کاندر میان هر یك تان مرزي ساخته
آنرا زپاره پاره، تبدار خاکها
کاندر مسیر آه شما راه میکشند
آنرا زعمق تشنگي ریشه هایتان
کاندرسرابگونهء تشویش مي تپند
بیرون بیاورید
آرا که یکزماني
نامش امید بود
از خوابهاي تازه باران هاي ریز
کاندر شبان ماتم گلبرگ هایتان
تکرار میشدند
ازبیشه هاي ملتهب یاس
آنجا که باد آیهء سبزبلوغ را
با اشعه هاي داغ و توانسوز اضطراب
تفسیر مي کند
آنجا که سوختن
تنها نتیجه عبث اشتیاق هاست
آنرا برون بیاورید اي بیشه هاي خشك
آنرا که یکزماني
نامش امید بود
و اندر شکوه مزدحم ابر پاره ها
و اندر غریو آبي آن جویبار ها
ازاو نوید بود
ازاو نوید بود

دزړه له کومې مننه

فیض محمد

ارمان

نیازی

حضرت محمد

د « حریت» ددوهم نشراتی کال دپیلولو په مناسبت لازمه گڼو چی د جهاد زړور قوماندانان ورور فیض محمد او دهغه د نږدی مرستیالانو قوماندان« ارمان» قوماندان فضل الرحمن« نیازی» او قومانندان حضرت محمد دهغی مخلصانه او صمیمانه مالی مرستی د زړه له کومی مننه و کړو چی د حریت په چلولو کی یی له موږ سره کړی ده ... حریت که په خپله یوه کلنی خپرنی دوره کی دجهاد او ملت د ارمان لپاره د خپل وس په اندازه څه کړی په هغي کی زموږ ددی مجاهدو وروڼو لویه او اساسی برخه ده.

همدارنگه زموږ بعضی نورو دوستانو چی د ځینو ملحوظاتو له مخی د خپلو نومونو اخستل نه غواړی له حریت سره مالی مرسته کړی چی موږ ورته له الله ج څخه د اجر دعا کوو.

د «حريت» پوکلن ژوند د ليکوالو په نظر

قدر منو لوستونکو!

دحريت ددوهم نشراتی کال د پيليدو له امله مو له يو شمير درنو ليکوالو څخه وغوښتل چی زموږ دووپوښتنو ته چی دلته ئی متن خپروو ځوابونه وليکی، موږ له دی محترمو ليکوالو څخه دزړه له کومی مننه کوو چی زموږ دپوښتنو دځوابولو کړاو ئی ومانه.
دادی زموږ د ليك او ددرنو ليکوالانو دځوابونو او څرگندونو پوره متن درته وړاندی کوو.

« اداره »

بسم الله الرحمن الرحيم

محترم........... صاحب!

السلام عليکم ورحمة الله و برکاته!

« حريت » مجله خپل دوهم نشراتی کال پيلوی ، په دي مناسبت لاندينی دوه پوښتنی درته وړاندی کوو، هيله ده چي دځوابولو زحمت به يی ومنی.

١- ديوی ښی معياري خپرونی ځانگړتياوی، مشخصات او رسالت څه گڼی؟

٢- دخپلي ټولني دکلتوری رشد، او فکری- ټولنيزو ظروفو اوشرايطو په پام کي نيولو سره د«حريت» وضعه څه وړ بولی، او هم ئی د ښی کڅو لپاره موږ ته څه عملی مشوری راکوئ؟ .

په درناوی

محمد نذير« بشارت»

دحريت مجلی سرمحرر



استاد علی« انصاري»

استاذ علی « انصاري»:

برادر محترم بشارت صاحب سرمحرر مجله حريت!

السلام عليکم و رحمة الله وبرکاته

شکی نیست که دانشمند و نویسندهء "خوب" زیاد داریم؛ اما، دانشمند و نویسنده ایکه بتواند دانش و نظریاتش را بمردم منتقل نماید، کم. دانشمندیکه چیزکی آموخته تا "دانشمند" نامیده شود نه اینکه بدیگران بیاموزاند، مصدر چه خدمتی خواهد گردید؟ نویسندهء ممتاز ما که در ادبیات و فن نگارش و اطلاعات عمومی سرآمد دیگران است وقتی چیزی مینویسد، دلائل محکمی جهت اثبات ادعایش نمیتواند ارائه کند. زیرا صرفاً باین دلیل مینویسد که پولی دریافت نماید. اینکه خواننده چیزی از آن درمییابد یا نه، دیگر مربوط به او نیست! سطوری را رقم زده و مزدی دریافت نموده و السّلام!

گردانندهء نشریه هم اگر بخاطر نام و نان "مسؤولیتی" را متقبل شده، فقط میخواهد صفحات مجله اش از ۴۰ کم نباشد و بس!

۱۸ - انتشار نشریه کار حداقل یك حلقهء همفکر و آگاه برسالت نویسندگی و معتقد به قداست "قلم" است. قلمی که الله سبحانه و تعالی، بآن و آنچه مینویسد سوگند یاد میکند. تجارب مطبوعاتی نشان داده که در ساحهء فرهنگی بصورت انفرادی و تکرو نمیتوان کار مؤثری از پیش برد. نویسنده ای که دیگر نمیتواند در نشریه ایکه سالها برای آن مینوشته، مقاله اشرا بچاپ برساند، بفکر انتشار نشریهء "مستقل" میافتد تا ثابت کند که به تنهائی هم میتواند نشریه بچاپ برساند، نیازی به توضیح نیست که نتیجهء کارش چه خواهد بود؟

۱۹ - مطبوعات ما بیشتر در موضع دفاعی و پاسیو قرار داشته اند تا حالت تهاجمی و اکتیو. قطع نظر از سال ۵۷ و قسماً ۵۸، در بخش اعظم چهارده سال مرحلهء دوم جهاد مسلحانه، دشمن در ساحهء تبلیغات ما را مصروف دفاع و رد اتهامات وارده بخود ما، ساخته بود.

هر گاه ما تهاجم را آغاز نموده و موفق به افشاء دشمن و اذنابش گردیم، علاوه براینکه فرصت حمله را از دشمن سلب کرده و در موضع دفاعی قرارش داده ایم؛ صفوف خود را نیز از تشتت و تفرق و تمزق ناشی از القاءات دشمن رهانیده و در برابر خصم مشترک بصورت پیکره ای واحد قرار داده ایم.

نشریات جهادی، بجز دو و سه، در طول این مدّت فقط کمونزم و بعضی ساتراپهای روسیه در افغانستان چون ترکی و امین و ببرك و چمکنی و جنرال نجیب را کوبیدند و از دیگران غافل ماندند. (آنهم بیشتر احساساتی تا علمی و تحلیلی. زیرا اگر این عفریت خون آشام را بصورت علمی مورد حمله قرار داده بودیم، امروز پس از آنکه کمونزم در خود روسیه، چین، آلبانیا، کیوبا، کوریا و کلاً جهان با شکست مواجه شد، شورای نظار جرئت و ضرورت ائتلاف با بقایای منهزم و به بن بست رسیدهء آن را در جبل السراج احساس نمیکرد.)

اگر گردانندگان نشریات جهادی براستی میدانستند که چه رسالتی دارند و چه باید بکنند، روسها خالقیار را بحیث معاون به صبغةالله خان و شواردنادزی مسعود را بحیث رهبر آیندهء افغانستان به گربه چوف پیشنهاد نمیکردند؛ ارکان رژیم کابل پس از اسارت بدست مجاهدین در خوست، مدال قهرمانی از جنرال نجیب در کابل دریافت نمیکردند و از همه مهمتر اینکه اوربند در پنجشیر صورت نمیگرفت. اوربندی که انتقال سالم و بدون کوچکترین مزاحمت راکتهای سکد را از طریق زمین بکابل تضمین کرد و بالآخره زمینه ساز ائتلاف سکتارستی شبرغان و معاهدهء ننگین گندمك دوم یا جبل السّراج گردید.

برادران نویسندهء ما هر گاه با انتقاد مجاهدین سنگر مواجه شده اند، گفته اند که "ما در سنگر قلم و تبلیغات با دشمنان میجنگیم." اینك پس از چهارده سال می بینیم که مجاهدین داخل سنگر نه تنها ماشین جنگی-اقتصادی امپراطوری عظیم روسیهء کمونست را فلج ساختند که سقوط دیوار برلین، آزادی اروپای شرقی، انقراض امپراطوری سرخ و شکست جهانی کمونزم را نیز بجهانیان تحفه دادند. اما، در مقابل ما "سنگرنشینان دفاتر نشریات جهادی" نتوانستیم چهره های واقعی کلاه زرینها و کج کلاه خانهائی را افشاء سازیم که حاصل چهارده سال جهاد ملت مظلوم اما ذلت ناپذیر افغان را فرش چکمه های خونین دوستم، مؤمن، ببرك، نجیب، مزدك، دلاور، عظیمی، حساس، نادری، کشتمند و رفسنجانی ساختند.

ج: مجلهء وزین "حریّت":

علاوه بر سائر برادران، حضور برادر بشارت که سعادت گذرانیدن دورهء رشد جسمی و فکری را در دامان جهاد و مطبوعات جهادی داشت و از سالیان اولیهء مرحلهء دوم جهاد مسلحانهء ما، حضوری بی غیبت و درخشش بی افول در آسمان مطبوعات جهادی ما داشت و بعنوان یکی از معدود نویسندگان توانا و چیره دست و خبیر تبارز نمود، باعث شده تا "حریت" در مدت کمتر از یك سال یکی از سه (و اینك دو) مجلهء نسبتاً معیاری در سطح مطبوعات جهادی جا بازکند.

اما، در مورد پیشنهادات باید معروض دارم که:

با توجه به اینکه "حریت" یکی از معدود نشریات باقیماندهء جهادی است، باید مطالب منتشره در آن ازین پس مورد مطالعه و ذوق و نیاز طیف وسیعتری از خوانندگان نسبت به قبل باشد.

۱ - بخشی خاص نسوان داشته باشد تا خواهران مجبور نباشند به فحشنامهء "پیام زن" بعنوان تنها نشریهء موجود رو آورند؛

۲ - بخشی برای نوجوانان و متعلمین حاوی معلومات دینی، ساینسی، اختراعات، اکتشافات، جدول، معما، سؤالات سیاسی، مقاله نویسی با اعطاء جوائز در نظر گرفته شود.

۳ - "حریت" به اوضاع افغانستان بیشتر از دیدگاه نشریات خارجی نگاه میکند تا مسؤولین جهاد و منظمات. گرچه درین زمینه مشکلاتی از قبیل خودسانسوری که از رسوبات دوران استبداد ظاهر خانی و داؤودخانی است در افکار ما باقیمانده است، اما باز هم جوینده یابنده است.

والسّلام

بامید آزادی کامل و استقرار حکومت منتخب اسلامی در افغانستان عزیز

برادر شما حامد

چهارشنبه ۸-۷-۱۳۷۱ پشاور

حبیب الله « رفیع »:

حبیب الله « رفیع »

دحریت مجلی سرمحرر دروند ورور بشارت صاحب متقابل سلامونه می ومنی!

دحریت مجلی ددوهم خپرنی کال په اړه ستاسو پوښتنلیك راورسید، مخکښنی له مخکښنی نوی نشراتی کال درته بختور او له بریالیتوبه ډك غواړم !

زما له نظره هره جامعه خپل معیارونه لری نو ځکه ښه معیاری خپرونه هم هغه گڼم چی د خپلی ټولنی معیارونه په پام کښی و لری او دهغی په رڼا کښی په خوږه ژبه ، صریحه لهجه او دواقعیتونو په نظر کښی نیولو سره خپرونی وکړی او دخپلی ټولنی ملی گټی د نور هرڅا تر گټو وړاندی و گڼی حریت مجله چی ترکومه ځایه ماته را رسیدلی او لوستی می ده ، په اکثرومقالو کښی یی د تحلیل ښه قوت ، منطق او آزاد فکری شته ، ژبه یی روانه ، صفا او صریحه ده خو ځینی داسی مقالی هم پکښی وی چی نه یوازی داچی زموږ په شرایطو برابری نه ښکاری بلکه په نړیوالو سیاسی نورمونو کښی هم نه شی ځاییدلای ، دنمونی په توگه ما د « حریت» په یوه مقاله کښی لوستی وو چی د افغانستان داداره کولو له پاره باید دنړیوال اسلامی غورځنگ د استازو یوه کمیټه جوړه شوی وای اویاهم جوړه شی، داسمه ده چی دداسی سپیڅلی غورځنگ تر منځ باید« همبستگی » وی خو ددی ډول « وابستگی» ځای ښایی په سیاسی قاموس کښی ونه موندلای شو.

په هر حال دا یوه وړه یادونه وه ، د «حریت» د وروستیو گټو برخورد چی په وینو لړلی هیواد له روانو پیښنو سره یی کوی قاطع ، د ملت د ملاتړ وړدی او د ملت غږ پورته کوی، د« حریت» بشپړ محبوبیت او کامیابی به هله وی چی دروانو پیښنو په اړوند د اتل او مومن ملت له غوښتنو او هیلو سره سمه روانه وی اود« حریت غږ» په واقعی معنی لوړوساتی . په درنښت

محمد صدیق « پسرلی»

دجهاد په دوره کښی گڼی مجلی په مختلفو سایزونو، مختلفو نومونو او

محمد صدیق« پسرلي»

مختلفو ډولونو خپری شوی، چی هره یوه یی زموږ په جهادی ثقافت یوه ارزښتناکه اضافه وه خو دحریت مجله علاوه په هغو صفاتو چی نوری مجلی یی لری له ادبی پلوه هم ښه غنی ده .

اتفاقا تر اوسه ایله د حریت دوه گڼی زما لاس ته راغلی دی چی(مشت نمونه خروار) ئی گڼم او د ستاینی وړ یی بولم، البته که ځینی بی مسئولیته مقالی نالوستلی وگڼو نوره دمجلی ادبی سطحه ډیره لوړه او په زړه پوری ده ، زه په دی توگه له فرصته استفاده کوم او دحریت محترمو چلوونکو ته مبارکی ورکوم او لا ډیره کامیابی ورته غواړم .

ستاسو محترمو پوښتنی ظاهراً ډیری لنډی وی خو هره پوښتنه یی ډیر مفصل ځوابونه غواړی چی عجالتاً زموږ له سویی او هم له حوصلی اوچت دی متل دی چی وایی: سلیمان زی که ښه مړونه وای خپلی وزی به یی میږی کړی وای، که موږ ته واقعاً داجوته وای چی د یوی مجلی دکامیابی عوامل څه شیان دی ترهرڅه له مخه به مو خپلی خپرونی ډیری کامیابی کړی وای، بیا هم دومره د تجربی له مخی باید عرض کړم چی لومړی د چلوونکو پرله پسی پاملرنه او وسواس غواړی ، دوهمه دغه لارده چی اوس تاسو نیولی ده یعنی له لوستونکو څخه پوښتنه . په درناوی .«پسرلی»

حکیم « تنهوال»

محترم وورور بشارت صاحب السلام علیکم

دحریت مجله می کله کله لاس ته راځی او په ډیر شوق ئی لولم. ځینی ډیر ښکلی مضامین او په خوږه ژبه لیکل شوی دی ځینی ډیر ښه تحلیلونه پکښی شته خو د وروستی گڼی سرمقاله می ډیره خوښه شوه ، شاید دا می پدی لحاظ خوښه شوی وی چی زه دمتعهدو ، رسالت لرونکو او تنظیمی لیکنو سره دومره ډیر جوړ نه یم ، خدای دی وکړی چی دا خبره په تاسو بده ونه لگی ، لاکن که مونږ غواړو چی زموږ لیکنی او نشرات افغانستان شمول وی او د مستضعفینو دپاره وی نو بیا تنظیمی چوکاټونه ډیر تنگ اومونږ بالاخره دبیگانگی وخواته بیائی.

زه داسی نه وایم چی لیکوال یا هنر مند

حکیم« تنهوال»

اویاهرڅوك یو رسالت نشی لرلای خو د اجتماعی گټو پر بنا باید و سنجول شی او هم د ملی گټو پر بناء او دا دواړه ډیر پراخه دی او د تنظیم چوکاټ ډیر محدود وی، پس دلیکوال رسالت دادی چی هغه هیڅ قسم محدودیت نشی منلای .

گران بشارت صاحب : زه خو دومره لیکوال نه یم او دا څو ټکی می ځکه ولیکل چی ستاسو خواهش می پرځای کړی وی، که زما خبرو خوند در نکړ نو ښښنه غواړم ، په اخر کی تاسو او ستاسو ملگرو ته د لوی خدای نه د زیاتی کامیابی ارزو کوم.

(په مینه حکیم تنهوال)

محمد عارف غروال:



غروال

مجاهد ورور بشارت صاحب: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!!

د حریت د درندې مجلې ددوهم نشراتي کال دپیلیدو له امله مبارکي وایم او د لوی خدای(ج) له حضور څخه هیله لرم چې د مسلمان او مجاهد ملت داذهانو په روښانه ساتلو کې دحریت د مجلې تاریخي رسالت لاګټور او درونډ ثابت شي.

دحریت مجلې ددوهم نشراتي کال دپیلیدو په اړه کومې پوښتنې چې تاسو عنوان کړې اودهغو په باب مو مشوره غوښتې ده ، دغه کار دمجلې د بهبود په چارو کې یو ګټور اقدام دی چې البته د ورونو او دوستانو مثبتې مشورې دکارونو په لابنه توب کې زیاته مرسته کولای شي.

د حریت درنده مجله د خپل پیل له وخته بیا تر وروستي گڼې پورې چې همدا اوس زما په مخکې پرته ده ماته رارسیدلې او مطالب مې په خورا شوق او ذوق لوستلي دي، چې اکثریت یې دستاینې او لوستنې وړدي، تاسو چې دکوم هدف لپاره د مجلې د خپراوي تیره ایښیده فکر کوم هماغه هدف موقدم په قدم تعقیب کړی او تر هدفه پورې د تعقیب څرک پکې له ورایه ځلیږي ، کوم مطالب چې د افغانستان د جهاد دتاریخ په باب تاسو ددې مجلې پاڼو ته سپارلي دي دتاریخ دمحققینو لپاره د لومړي لاس موادو په توګه یوه ګټوره منبع ګڼل کیدای شي که تاسو وکړای شول خپل خپریدونکي مطالب لاثقه او لا باوري کړئ ، نو په راتلونکې کې به د څیړونکو دکار له اسانتیا سره زیاته مرسته شوې وي.

که څه هم د حریت مجله نسبتاً آزاده معلومیږي او تنظیمي گرایش ته پکې کم ځای ورکړل شوی دی خوکه په دې لاره لازیات له پراخ نظرۍ څخه کار واخیستل شي ، نونه یوازې به دټول مسلمان ملت لپاره د لوستلو وړ یوه معیاري مجله ثابته شي بلکې هر لوستونکی به یې د خپل فکر او آند په تول برابره و بولي چې په هغه صورت کې به خورا زیات لوستونکي ولري او له افغانستان شموله شهرت څخه به برخمنه شي.

زه په داسې حال کې چې ستا تر لار ښوونې لاندې د حریت د مجلې د لا ګټورتوب دوعاکوم له لوی اومهربان خدای(ج) څخه هیله لرم چې دغه مجله زموږ د مسلمان ملت لپاره د لازیاتو خدمتونو مصدر وګرځي ، آمین ، ثم آمین.

توریالی« ځاځی »:

محترم ورور بشارت صاحب!

السلام علیکم و رحمت الله وبرکاته

زه د حریت مجله همیشه مطالعه کوم ، په تیره بیا په هیواد کې د وروستیوتحولاتو څخه را پدې خوا خویی په ډیره خاصه علاقه لولم، ځکه چې زموږ د هیواد د ملي موضوعاتو او سر نوشت جوړوونکو هڅو اوتلاشونو په اړه د لوستلو وړ مضامین خپروي، په دې څو وروستیو ګڼو کې زموږ د ملي وحدت ددښمنانو او د پردیو د لاسوهنو اوله هغوی سره د ځینو ډلو سیاسي حلقو په ارتباط د مستندو رپوټونو نشرول یې دستاینې وړدي .

ستاسې د پوښتنو په هکله ویلی شم چې:

الف: د یوې ښې معیاري خپرونې له

ځاځی

ځانګړتیاو څخه یوه ځانګړتیا د ژورنالیزم اخلاقي معیارونه دي چې یوه معیاري خپرونه باید خپل ځان په دغواخلاقي معیارونو سنبال کړي ، هره معیاري نشریه باید په خپلو نشراتي پاڼو کې له توهین او تحقیر څخه ډډه وکړي.

خپل مخالفین او حتی دښمنان په ناوړه اوناروا نسبتونو او الفاظو سره و نه غندي او په خپلو نشراتو کې د قلم او بیان عفت اوتقدس وساتي .

ب: زما په نظر یوه ښه او معیاري خپرونه باید دا ځانګړتیا هم خپله کړي چې هغه له خپلو ټولو خصوصیتونو سره د هیوا په سرتاسري او ملي خپرونه بدله شي، که څه هم زموږ په هیواد کې د محمد ظاهر شاه ددولت په وروستي لسیزه کې غیر دولتي خپرونو خپلو ځانونو ته د ملي خپرونو نوم ورکړی ؤ خو په ژورنالیزم کې یوه ملي خپرونه هغې خپرونې ته ویل کیږي چې دټول ملت په سطح لوستونکي او علاقمندان ولري او د هیواد په اکثرو برخو کې په دوامداره توګه وویشل شي .

ج: که څه هم ځنې خپرونې مسلکي او

ځانګړې سیاسي تګ لاری لری. د ځنو
مسلکی ادارو او یا سیاسی ګوندونو د
ارګانونو په حیث خپرونی کوی، خو سره له
دی هم که ددغو خپرونو متصدیان او
مسئولین غواړی چی ملی شهرت لاس ته
راوړی باید ځینی معلوماتی او ذوقی
مطالب هم خپاره کړی .

د یوی ښې او معیاری خپرونی یوه عمده
مشخصه داده چی ټولنیزی اوسیاسی پیښی
او بدلونونه لوستونکو ته په خپله اصلی بڼه
وړاندی کړی، خو خپرونه دا جواز لری چی د
هیواد دځمکنی تمامیت او ملی ګټو په
ارتباط ددښمنانو دپروپاګند په ځواب کی
پروپاګند وکړی او ملت د هغوی په وړاندی
را و پاروی او په دی توګه ددین، وطن او
ملی وحدت ددښمنانو سازشونه اودسیسی
رسوا او شنډی کړی .

ه: یوه ښه معیاری خپرونه باید له هرڅه
اول پوه، وارد اوزیار کښه کار کوونکی
ولری او دهیواد دنامتو لیکوالو مرسته جلب
کړی، د خپرونی په خپله ټاکلی نیټه
چاپیدل اود ویشلو انتظام هم د خپرونی د
معیار په لوړولو کی رول لری.

دغه راز که ژورنالیزم د مبارزی او پرمختګ
دنورو قوتونو په څنګ کی د یو اغیز من او
غښتلی ځواك په حیث ومنو نود یوی ښې
او معیاری خپرونی رسالت دادی چی د
خلکو پراخه پرګنی د خپلو بنیادی حقوقو
او آزادی د اخیستو په مبارزه او د ملی
وحدت د ټینګیدو په لاره کی دیوی سالمی
او باخبره ټولنی د جوړولو په مقصد رهبری
کړی، نه داچی د یومستبد دولت او یا دکوم
بل مستبد ځواك له پاره د ملت د مریی
کولو په خاطر مغشوش کوونکی نظریات
تبلیغ او خپاره کړی.

۲: زموږ د ټولنی د کلتوری ودی او د
فکری او تولنیزو ظروفو او شرایطو په پام
کی لرلو سره ((حریت)) تر اوسه زموږ د
مهاجرت د محیط دنورو سیاسی نشراتو په
پرتله ښې خپرونی کړی دی او دټولنی په
فکری وده کی یی د یادوونی وړ قدمونه
پورته کړی دی، خو سره له دی هم د مجلی
یوه زیاته برخه مضامین د خپل« ځان» د
جوړولو په ځای د « جهان»دجوړولو په
باره کی چاپیږی. څرنګه چی حریت یوه

انځور

ځانګړی سیاسی تګ لاره لری او
مشخص سیاسی لوری، نو په دی بنا به
خپلې نړیوالې اړیکې هم ساتی، خو زما
په نظر دا برخه یی باید دومره درنه نه وی
چی زموږ ټول ملی اړخونه تر اغیزی
لاندی راولی هغه هم په دی توګه چی «
حریت» زموږ خلك د یو خاص سیاسی
جریان او سیاسی لوری مجله وګڼی او دوی
د خپلو ځانونو او خپلو ستونځو او خپل
سیاسی او اجتماعی ژوند په ارتباط په
هغی کی څه ونه مومی نو نتیجه به یی
داسی وی چی بیا به خلك هغه ډیره کمه
لولی او ستاسی دسیاسی هدف له پاره به
هم پوره ګټه نشی رسولای .

په درنښت

محمد زرین «انځور»:

دحریت سرمحرر محترم محمد نذیر
«بشارت»صاحب:

سلامونه می و منی:

دحریت د خپریدنګ د لومړی کالیزی له
امله درته خپلی مبارکی وړاندی کوم.
زه فکر کوم که د ژورنالیستیکو او
مطبوعاتی معیارونو په هکله د اوږدو
مباحثو پر ځای په لنډیز سره ددغی
پوښتنی په باب فکر وشی، چی یوه
مجله ، جریده او یا بله موقوته خپرونه
چی دکوم منظور له پاره خپریږی او په
کومه ساحه کی نشرات کوی، دغه «
منظور» یی ترکومه حده پوری تر سره
کړی دی او څومره لوستونکی یی
لوستلو ته لیواله کړی دی؟ نو دهغی
جریدی ، ورځپانی او مجلی د کیفیت
او نشراتی معیار په هکله بیا قضاوت
کیدای شی، هره هغه خپرونه چی د
خپلو نشراتو د اهدافو په ساحه کی
مربوط کسان په زیات شمیر کی
علاقمند کړی او دهغوی د فکری او
ذوقي ودی په برخه کی لازمه مرسته
وکړی، دغسی یوی خپرونی ته موږ په
نسبی ډول بریالی مجله یا جریده او
ورځپانه ویلای شو.

زما په نظر د« حریت» په باب هم تاسو
په همدغسی یو چوکات کی ډیر ښه
قضاوت اودخپلو نشراتو د لا سه
کیدلو له پاره لا زیاتی هلی ځلی
کولای شی.

که زه ووایم چی ما دحریت ټولی ګڼی
په دقت لوستی، نو دروغجن به شم،
البته وخت په وخت می ځینی ګڼی
لوستی او یا می د ځینو ګڼو ځینی
مقالی لوستی دی، زه خپله له سیاسی
او تبلیغاتی لیکنو او مقالو سره زیاته
مینه نه لرم ، بنایی له ادبی اثارو سره
زیاتی علاقمندی به پرما څه داسی کانه
کړی وی، خو د حریت ځینی هغه ګڼی
چی ما لوستی دی ، څو ټکی راته په
کی زیات جوت ښکاره شوی دی،
لومړی دا چی د حریت قطع او صحافت
ډیر ښکلی او د پوره پاملرنی وړ دی او
دغه موضوع د مطبوعاتی کار په لړ
کی زیات ارزښت لری، دغسی یوه
مجله په ډیری اسانی سره لوستونکی
ځانته جذبولی او د خپلو مطالبو
لوستلو ته ور بللی شی، دویمه خبره
داده چی دحریت زیاتره مطالب ډیر
ژوندی، جالب او ژورنالیستیك تهیه
کیږی، دمجلی د مطالبو عناوین ،
تصاویر او نور مطالب داسی جذاب ځای
پر ځای کیږی چی یو څوك یی که په
لومړی نظر هم و ګوری ، خامخا
مجبوریږی چی مینځ ته یی ور ننوځی
او و ګوری چی څه په کی لیکل شوی

دی.
کله کله داسی تر نظره کیږی چی پخوانی هرڅه خراب وو، پخوانیو لیکوالو اومحققینو له یوی مخی بی ارزښته آثار لیکلی دی، حتی د مرحوم استاد حبیبی ، مرحوم استاد کهزاد ،مرحوم استاد سلجوقی او داسی نورو استادانو کتابونه او اثار هم یوازی په الماریو کی د زینت لپاره ښه دی خود اسلامی نهضت د رابیدارولو لپاره څه نه لری، او دا دی اوس مونږ را پیدا شوی یو او دادی اوس به نو غرونه چپه کړو. زه فکر کوم چی په خپلو محترمو مشرانو لیکوالو پسی دا ډول خبری له علمی پلوه دتأمل وړ دی، هغوی په ډیرولږو او محدودو شرایطو ډیر ارزښتمن کار کړی دی، د افغانستان د تاریخ اود افغانستان د فرهنگ او ادبیاتو د تاریخ په باب که څوک څیړنه کوی، هیڅکله له هغو آثارو څخه بی نیازه کیدای نشی،اخر مونږ څه کړی دی؟ په تحقیقی او علمی برخو کی مو د افغانستان لپاره کوم کار کړی دی، کوم غر مو چپه کړی دی چی اوس پخوانی په هیڅ شمیرو ، دوی زمونږ علمی افتخارات دی او خپلو دغو افتخاراتو ته باید دومره په سپکه سترگه ونه گورو. دمجلی دسیاسی موقف، مشخصو سیاسی او فکری کرښو او په دغه اړه د مطالبو د کیفیت په باب خپل ځانته دڅه ویلو حق نه ورکوم، په هغو تاسو له مانه ښه پوهیږی او دخپلو هغو خاصو سیاسی کرنلارو په رڼا کی به یی ترتیبوئ چی په کوم منظور مو د مجلی خپریدل پیل کړی دی.

یوځل بیا تاسو ته دحریت ددویم خپرنی کال دپیلولو مبارکی وایم ، دمنظمو او پرله پسی خپرونو په لړکی مو د بری هیله کوم. په درنښت

محمد زرین انحور

محمد اصف« صمیم»

بشارت صاحب!
ښه دي غواړم د« حریت» دکاروان په یو کلن چلن درته مبارکي وایم دپوښتنو د ځوابولو پر ځای دي پرپوښتنو یو څو ټکي ویل



صمیم

غواړم:

۱- عجیبه هوښیاري دي کړي ده چي «د ښي معیاري خپروني ځانگړتیاوي... څه گڼي؟» یعني ته له ځوابوونکي نه داسند اخیستل غواړي ، چي که سبا څوک د ځوابوونکي د نظر په رڼا کي د یوي معیاري خپروني په توگه د « حریت » پرمنځپانگه اومحتوي څه د«خو» گوته بردي، نوته به د مجلي د ژمن او مسؤول په توگه له منځه وتي یي.

تاته پته ده چي داسي درانه پیتي ته زما په څیر له هر پلوه کمزوري انسان څنگه اوږه ورکولاي شي ، چي وخت پروخت د همدي نظر ځرگندوني په تورتجریداو بدنام شوي یم، ان چي بشارت صاحب تا مي هم په خپل نفس نفیس هغه د گلو گوزارونه زغملاي شو، چي د« شهادت » د یوه سرلیک د سمون په باب مي در باندي کړي وُ ،خو تایي ځواب په شنه قلم په دریو مخو کي راکړ، چي« تاهغه وخت «دگلوگوزار پروخت» یوه حق په جانب قیافه نیولي وه ، نوځکه مادرته څه ونه ویل.»

اوس نو ته ووایه چي له گوگل نه داسي بوږ وتلي زړه بیاهم ددي جوگه کیداي شي چي د یوي ښي خپروني د ځانگړتیاوو په ښودانه کي جرأت وکړي؟

۲-دویمه هوښیاري دي داکړي ده ، چي هم استشاره کوي او هم له مستشارنه د شرطونو کرښي تاو وي، چي « د خپلي ټولني د کلتوري رشد او ټولنیزوظروفو او شرایطو په پام کي نیولو سره...»

معني داچي که دا ټولنیز شرطونه دي په پام کي ونیول، نو طبیعي ده چي مطلوب لیکل به کوي، ته ښه وایي ، ته د یوه حساس ذهن خاوند یي، دودي په تمه یي او حق دي هم دي، نو که شرطونه کیږدي هم دي حق دي، خوزمامجبوري هم د خپلي ثقافي ټولني داجتماعي جوړښت زیږنده وگڼه.

بشارت‌صاحب!
زما گډو وډو ته د غوږ ایښودو ډیره مننه او داهم ومنه چي ستا او د« حریت» دهر اړخیزي پرمختیا په هرحال کي هیله من یم،

پاک رب دي د خپلي ځپلي ټولني دسیاسي او اجتماعي حقایقو په انعکاس کي سترگورلره .

په خداي سپارلي
ستاصمیم

له گران صمیم څخه هیله کیږي چي نومړي لیک دحریت اداري ته وسپاري ، ستاسو لیک هم غالباً له ماسره شته د « حریت» په راتلونکي گڼه کي به دواړه دلوستونکو دقضاوت لپاره خپاره کړو

په درناوي
« بشارت»

دسپین غره دمعرکو د اتل شهید جگتورن عبد الغنی خان په یاد

دسپین غر په اور، ودلوخړو او دو دونو پنډی وریځی چورلکونه خوری ، ځمکه لړزیږی ، په گړنگونو کی د بمونو او راکټونو ډنډوکار او درزهار دی هری خواته مرگونه دی چی ناڅی، په هر لوری د ځنکدن دسلگیو او ویشتلو زگیرویو انگازی دی، او بیا په همدی گرمه معرکه کی د تکبیر ملکوتی شعارونه دی چی غرونه زنگوی......

دسپین غره په لمن یوه نابرابره جگړه ډیره په توندی سره روانه ده، یوی خواته پر مختللی جنگی ماشین دی چی مرگونه او روی چی اورونه او روی، چی هستی سوځوی، خوبلی خواته د احداو بدر دغازیانو یادونه را ژوندی کوونکی بنیادمان دی.

دلته! دسپین غره په لمن کی ، دغه نابرابره جگړه بالاخره داوج خطرناك پړاو ته رسیږی.

په ځمکه اوربل دی، له اسمانه اور او پولاد اوریږی او بیا ددغه اورونو او لوخړو په منځ کی ابراهیمیان دی چی دخپل مولا پر عظمت شاهدی وایی.

الله اکبر الله اکبر

د الله اکبر دغه تکبیرونه دسپین غره په کځونو او گړنگونو کی راغبرگیږی نور هم جسگیږی ، نور هم مزبوتیږیاو بدرگه کیږی د اسمان په لوری پورته

کیږی، په ځمکه خوریږی، هری خواته لار باسی ځی چیرته د بری زیری رسوی، چیرته د جهاد او قربانی د لارویو پیغام رسوی، چیرته په ماتو زړونو کی د امید ډیوی بلوی او چیرته په سکوت شویو جوماتونودآذان د آزانگو دراغبرگیدو زیری کوی....

لوخړی او دودونه نور هم زیاتیږی ، درنه جگړه نوره هم درنه شی، دمرگونو نڅا نوره هم گرمه شی، دمرگونو دنڅا په منځ کی دتورو خوړینیو او دودونو په زړه کی یو.... تن خپلیB۱۲ دستگاه ته ناست دی.....

دځوان ترخولی دتکبیر له نعری سره جوخت ددستگاه له خولی نه د اور سکروټی والوزی او بیادشلمی پیړی دنمرودیانو پر لښکرو اوربل شی....

دځوان دتکبیر هره ناره ا و ددستگاه هره لمبه دبری درشل ته گام په گام لاره لنډوی او بالاخره ...... دنمرودیانو لښکر مات شی، دروس زور او به شی ، دسپین غره ناوی اوشیلی دمړو پوځیانو او شړیدلیو ټانگونو له لاشو نه ډکی پاتی شی، دجگړی اتل په موسکا دخپلی دستگاه له څنگه را پورته شی د بری زیری یوله بله سره تیر ا و بیر شی او دخوښیو په څپو کی هرڅوك همدغه اتل ته ور تر غاړی وزی مبارکی ورکوی ، هرڅوك یی ستاینه کوی، هرڅوك یی ډیره ښکلوی... دهغه په سترگو کی د خوښی نورځلیږی خو په څیره یی د حیا پرده راخوره شی ورو یی تر خوله ووزی!

ماخو څه فوق العاده کارنامه نه ده تر سره کړی.....

هوکی! هغه خپل ایمان تردی هم لوړ بولی چی نن یی د روسانو یوگ ستری قوی ته ماته ور کړی ده...

* * * *

ددغی اودی ته ورته په لسگونو معرکو اتل جگتورن عبد الغنی خان دی، هغه عبد الغنی خان چی دسپین غره ډیر گړنگونه او اوږی یی دحماسو له کیسونه ډکی دی.

جگتورن عبد الغنی خان په ۱۳۳۰ هـ ش کال کی د سید کرم ولسوالی د لوړ په کلی کی د غلام شاه کره زیږیدلی خپله لومړنی زده کړه یی د سید کرم په ولسوالی کی ترسره ا و په

١٣٤٣ هـ ش کال دکابل په حربی ښوونځی کی شامل شو. په ١٣٤٩ کی حربی پوهنتون ته شامل او په ١٣٥٢ کی دتوپچی په مسلك کی تری فارغ شو چی سمدستی بیا د ١١ می فرقی دتوپچی په غونډ کی ددوهم بریدمن په رتبه په وظیفه وګومارل شو. په ١٣٥٦ کال دکندهار قول اردو ته تبدیل شو او (٨٠) په توپچی غونډ کی یی دنده اجرا کوله ، په ١٣٥٧ کی د (٩١) قطعی کی دتوپچي دبطریی د قوماندان په حیث وټاکل شو ، جګتورن عبد الغنی خا ن د ثور له کودتا څخه وروسته هم د اسلامی تحریك د اعضاوُ په هدایت خپلی دندی ته دوام ورکړ تردی چی په ١٣٦١ کال کی یی دجګتورنی په رتبه خپله دنده پریښووده او د عملی جهاد لیکو ته راغی.

رومبی جهادی دنده یی د شهید حاجی رحیمی په قرار ګاه کی د ٨٢ ملی متری هاوان د ویشتلو وه، چی څو میاشتی وروسته دحزب اسلامی افغانستان د نظامی کومیتی په هدایت د تنظیم المومنین غونډ ته ولاړ او دمجاهدینو په روزلو یی لاس پوری کړ، وروسته یی بیا د ١٣٦٤-١٣٦٦ پوری د الفتح غونډ دمحاربوی کنډك د قوماندان په حیث خپله دنده اجرا کوله ، شهید عبد الغنی دغه وخت د خپل ایمان جوهر او په دنده کی زړورتیا او مهارت ښه وښودلی شو، په لسګونو جګړوکی یی د روسانو قواوو ته نه جبرانیدونکی تاوانونه ور واړول په دی موده کی څو ځلی سخت ټپی هم شو نوهغه لا ژوندی ۇ ښایی دکایناتو رب به دهغه په لاس دنورو حماسو د جوړولو کار نامی ترسره کولی.

شهید عبد الغنی خان یو کال د الفتح د غونډ د رئیس ارکان په حیث خپله دنده سرته ورسوله چی بیا له ١٣٦٧-١٣٦٩ پوری دتنظیم المؤمنین دغونډ د قوماندان په حیث وټاکل شو.

شهید عبد الغنی خان دځانګړو او خوست په جګړو کی ډیره روښانه ونډه در لوده او د خوست په فتحه کی خوښبار ته دورننوتونکو د لومړنیوکسانو له ډلی نه ۇ چی وروسته بیا دلوګر دسمت دمحاذ عمومی مسؤلیت هم ده ته ور وسپارل شو.

شهید ورور د لوګر په فتحه او دکمونستی رژیم دکابل د امنیتی مزبوتو کمربندونو په تس نس کولو کی د اسلام د غازیانو سرخیل ۇ شهید ورور د جهاد په وروستیو پړاونو کی د داسی رشادت او غیرت مظاهره وکړه چی ساری یی کم دی، هغه نور د فتحی دسمبول په حیث معرفی ۇ په محاذ کی دجګتورن عبد الغنی خان غږ دبری زیری ۇ چی په مجاهدینو به کیده ، ددغه مومن غازی هرګام دنویو بریو او فتحو زیری درلود او هره دتکبیر چیغه یی دالحاد او فساد دیوه مورچل درانړیدو علامه وه تردی چی بالاخره همغه ورځ هم راورسیدله .

هغه ورځ چی نور مؤمن غنی خان د یوه دایمی آرام ا و درانه خوب لپاره تیاری نیوله ، هغه ورځ چی دده پر شونډو یوخوږ اود رښتینی بری تبسم ۇ خو پر یارانو به یی د آسمان دراپریوتو غږ کیده......

شهید جګتورن عبد الغنی خان د ثور د میاشتی په پنځمه نیټه ، بیا هم د فتحی په لور پرمخ روان ۇ هغه روان ۇ ، وړاندی کابل ته، ترڅو پر هیواد والو دوروستی فتحی زیری و کړی، ترڅو د الحاد او فساد وروستی ځالی هم څپی ، خو نور دهغه مسؤلیت تر سره شوی ۇ ، نور ستر رب د الحاد اوفساددوروستیو ځالو ړنګولو ا و دوروستی فتحی دزیری مسؤلیت دنورو غازیانو پراوړو ور اچولی ۇ.

په داسی حال کی چی لمر ډیر ښړنی دلویدیځو غرونو سرونو ته ور نږدی کیده تابه ویل غواړی زر ځان تر غرونو پناه کړی لکه چی هغه ددغی ننداری د لیدو توان نه درلود ، غوښتل یی په یوه ګام تر غرونو واوړی خو داسی ونه شول بالاخره هغه ګام چی فتحی یی زیږولی پرځای ودرید.

هغه د تکبیر ناره چی د کفر په بریځو یی زلزلی راوستلی او ټول کائنات به یی ور باندی زنګول چوپه شوه......

دچار آسیا ولسوالی ته نږدی دجګتورن عبد الغنی خان په مخ کی دتوپ یوه ګولی و چاودیده او دغه نومیالی غازی له خپلو څو تنو نورو مجاهدینو سره ځای پر ځای شهید شو.

ورځ دشپی په توره غیږ کی پټه شوه.... په آسمان دستوریو ډیوی بلی شوی هلته وړاندی دکابل په ښار کی کور په کور دتکبیر ملکوتی نعری وی چی پورته ختلی... خو نن شپه یوه دتکبیر نعره چوپه وه ، دسپین غره دمعرکو داتل ، او دلوګر دحماسو د اتل او نن لکه چی ټول کاینات ددغه ستر غازی په ویر زنګیدل ، دشهید جګتورن عبد الغنی خان په یاد کی چی لایی غورځنګونو ته ضرورت ۇ ، لایی رشادتونو او اتلولیو ته !!!

موږ د خدای(ج) یو اودخدای(ج) لورته ورتلونکی یو.

روح یی ښاد جنت یی مقام دښمن یی ذلیل او د لاری لاروي یی بریالی اوسه.

لمر خپلې وړانګې بشپړې ور تولې کړې دي، دمنګلو لويديځ غرونو سرونه لکه د وينو په درياب کې ورغو په شوي وي ، د آسمان لمنې تکې سرې دي، ته به وايې ددغه کاروان د لارې انځور دی او يا ددې ولس دراتلونکي برخليك يو تصوير.

زموږ قافله همغسې د هوارو غونډيو په غيږه کې پر سرك وړاندې مزل کوي، خوچې څومره وړاندې ځي هومره

هيڅ وړ بنديز او جنجال پکې نه وي ، يو ځای ټول پښه نيولې شي، د لږ شيبې لپاره د پوښتنو غبرونه دچوپتيا پردې و څيرې خود « چوپ شی! » په قومانده بيرته پر فضا سکوت واکمن شي، وروستي هدايات ټولو ته واورول شي، د شهيد او ټپي دپېښيدو اشارې وټاکل شي، د برې او کاميابی نخښې په ګوته شي او بيا په چو په خوله ددعا نه وروسته وړاندې دغونډۍ په لمن کې د

ظابط سليمان په ليچه دخپل شل وزي شپيلی د کلا پر يوه برج ورسيخه کړې اوپه دری وزو سره د خاموشۍ او چوپتيا پنډۍ پردې ټولې تار په تار شي.

همدغه دری وزونه قومانده ده ، همدغه دری ګولی د کفر پر خلاف ددې ولس د قيام عمومي قومانده ده ، او په حقيقت کې همدغه دری ګولی وی چې د کريملن د واکمنی د پاشل کيدو او

ګرنګونه چې حادثوته انتظاروو

دابوهارون ليکنه: وروستی برخه

ګونګوسې او خبرې اترې ورکيږي، يوه مرموزه چوپتيا خوريږي ، هسې چوپتياچې دتوپان د راتلو پيش خيمه وي او د توپاني راتلونکي پيغام ور کوي، د کاروان مخې ته يو دمنځنۍ ونې خاوند پاخه ګامونه اخلي په بنې لاس يې دشل وزی موټی کلك نيولی، شاته نه راګوري، خپله لاره لنډوي، له څو وروکرپليچونو تيريږو او بيا د يوه وړوکی کلي له منځه لاره باسو، نور نو يوازې دپښو ترپهار دی چې په فضا کې اوريدل کيږي، د تيارو پردې هم ورو ورو پرېږيږي، او پاس د آسمان په سينه دستورو څراغونه هم شيبه په شيبه زياتيږي ، د آسمان سينه ورو ورو يوه لوی ښار ته ورته کيږي، يوه لوی اوبنکلی ښارته ، چې دژوندله شوره ډك وي ، چې امن او آرامی پکې وی او

لويی کلا په لوری ور خوځيږو. کلا د تيارو تر پر دو لاندې هيبتناکه غونډی ښکاری ، چوپتيا او سکوت خپل وروستی پړاوونه وهي نور نو د راتلونکي توپان او اوسنی خاموشي او سکوت تر منځ ډير لږ واټن دی، نور ددې ولس په تاريخ يوه بله پاڼه اوريدونکې ده، نور دلته يوبل دور پيليږي او د تير او نوی دور ترمنځ يوازې يوګام فاصله ده ، ګوتې په ماشو نيول شوی او په شميرلو ګامونو وړاندې تګ دوام لرې، هره لحظه دکلا ديوالونه د يوې تورې هيولا په څير لوئيږي ، نور هرڅه پوره دي چې يو نوی دورپيل شي يوازې يوې د تکبير چيغې ته ضرورت دی ، يوازې يوې ماشې راکشولو ته ضرورت دی، او بالاخره دغه کمی هم پوره شي .

زما ښی لاس ته دری ګامه وړاندې

ويجاړيدو اعلان ؤ .

دازموږ د ولس دغوسې او قهر هغه اعلان ؤ چې له تيرو څو مياشتو را هيسې يې په زړه کې ساتلې ؤ ، دا دهغه برميال پاڅون پيل ؤچې ولسونه يې ور سره واخستل او د آزادۍ او خپلواکی پر دهليز يې ورننه ويستل .

بالاخره دغه اسرافيلی شپيلی و پوکله شوه د جهاد دوران جوړوونکی تکبير او چت شو ، د غزا ټوپك و چليده او په فضا کې يې انګازې خورې شوې.....

او بالاخره د مجاهد « ظابط سليمان» دشل وزی وزو پر دغه خاوره د کفر د واکمنی پر خلاف د احتجاج غبرورته کړ دسترګو په رپ کې په فضا کې دنور شغلې او چتې شوې. لکه د آسمان ستوری چې ځمکې ته راکوز شوی وی د کلا له

برجونو نه د اور په څېر ګولی وریږی ، د کلا شاو خواته مرګونه په نخاذی مرګ ډیر نږدی راغلی ، هر څوك یی په سترګو وینی، یوازی یوه ګولی دمرګ زیری له ځانه سره لری، هغه شیبی پیل شوی چی خبری یی خوږی او ساعت یی تریخ وی، خو دمرګ هیبت د « الله اکبر» په تکبیرونو کی ورك شی یایی هغه هیبتناکه ځیره پټه شی ، کله چی د تکبیر چیغه پورته شی داسی احساس کیږی لکه دا پوری را ووری غرونه او غونډی یی چی را سره غبر ګوی، د ګولیو شنهار تم شی ، دماشینګنو کړسهار نور غوږونه نه څوروی ، ګولی وریږی، مرګ اوس هم ناځی ، خوله یی خلاصه کړیده او هره لحظه ددی امکان دی چی پر چا خپلی داړی سری کړی خو نن تر دغه کلا بل ور خلك را تاو شوی دی. لکه هغوی چی په مرګ پوری ملنډی وهی یایی د «ژوندابوه» څښلی وی دګولیو په باران کی ټول عادی ګرځی راګرځی ، زموږ نه لاندی پټی دی چی لړلړ سپینه واوره ور باندی پرته وه او د کلانه نیغ. لاندی یو کلی هم دی چی موږ ته ویجاړ او کنډواله ښکاری هلته د ژوند څه نخښه نه تر سترګو کیږی ، لکه چی اوسیدونکی یی په دی پوه وی چی د بلا ترخنګ اړول له خطره خالی نه وی ، یو ځل ددرنو چاودنو سره د لاندی ویجاړ کلی په منځ کی لمبی پورته شی، او بیا د کلاله پخومورچو او برجونو نه همدغسی پرماشینګنو سر بیره ددرنو وزو حملی جریان مومی ، شپه ورو وروپخیږی او زموږ سترګی له تیارو سره عادی شی.

د کلا له مورچلو نو او برجونو نه پرلپسی باږونه چلیږی ، پر شاو خوا دګولیو باران دی، پر کلا هم له شاوخوانه یو یو وز وشی او همدغسی دغه نا برابر ه جګړه دوام لری، زما ترڅنګ یومانوس غږ اوچت شی:

راځی هلته دروازه ده !

دروازی ته به باروت کیږدو.

یو دوروکی ونی خاوند په سپین میدان ولاړ دی، او په لاس د کلا په لوری اشاره کوی، هغه داسی ولاړ دی لکه چی هیڅ خبره نه وی ، لکه دا د اوسپنو او ګولیو باران چی هسی کومه فلمی او ډرامایی صحنه وی او له حقیقت سره یی هیڅ اړیکی نه وی .

خو چی ابراهیم (ع) په اور کی او یونس (ع)دماهی په ګیډه کی ژوندی ساتی همغه خدای (ج) زموږ هم ساتندوی ږ، د نجی الله پر شا د باروتو پنډه دماشینګن په ګولیو سوری سوری ده ، د حاجی رحیمی جامی ګولیو داغلی دی، دری څلور لاسی بمونه وراندی وروسته چاودیدلی خو یوه ټوټه هم په موږ نه ده لګیدلی، دمرګونو اوهیبتونو په همدغه صحنه کی هم د کړس کړس خندا غږ اوچت شی، همغه عاجز او کرار « نجی الله » په خندا

نن بیا دلته د کفر او اسلام په نوم د جګړی میدان تودږ او هر چا په دی کی دځان خبر ګاڼه چی تر نورو وړاندی وی ، د څه مادی انعام او اکرام خبره نه وه، د کومی چوکی او مقام تلوسه او هیله نه وه ، نه پوهیږم بی له دی به څه احساس ږ چی د خدای(ج) پر دین تنګ ږاو هر سړی په همدغه تنګ د قربانی پر ډګر ددښمن ګولیو ته خپل تندی سپر کړی ږ.

شین دی ته به وایی ټوکی دی، زموږ او دښمن ترمینځ دګولیو اوریدل ، دبمونو چاودل ده ته ټوکی ښکاری په کړس کړس خاندی او وایی:

«......... نږدی ږ چی خبره مو ختمه شی خود خدای(ج) ساتنه ده . »

بس همداسی عادی، زموږ او د کلا د ساتونکو ترمنځ دغه مرګونی ټوکی دوام کوی، حاجی رحیمی د دروازی پر سر بام ته دوه دری د باروتو جوړ شوی بمونه ور غور ځوی او په زورورو چاودنو کی هلته نور بشپړه خاموشی خوره کړی.

* * *

د سهار روښنایی اوس پر تیارو غالبه ده ، زموږ دری واړو ناځاپه دی ته پام شی چی دلته یوازی پاتی یو،

د ملاصاحب نجی الله پګړی ول ول په غاړه کی را لویدلی ده پر شایی د باروتو پنډه ده ، هغه ماته د کلا ددروازی په باب وایی ماته دهغه ایمان غیرت راکوی او ور سره ملګری کیږم، څو ګامه وړاندی حاجی رحیمی دی هغه هم زموږ مل شی او بیا موږ دری واړه د یوه توپك یو څه باروتو سره دروازی ته نژدی کیږو، نور نو دګولیو اوریدل ډیر بی ارځښته دي، ښایی موږ به نه پوهیدو ګولی په شنهار له غوږونو تیریږی. خو کومه پوځی زده کړه چی راکړل شوی وه هغه دلته زموږ هیره ده په همدی کش او کړپ کی د یوی لویی دروازی په مخه کی ولاړ یو ، موږ لا د تصمیم په پوریو کی یو چی د ګولیو او لاسی بمونو په چاودنو بدرګه کیږو،

نور د تکبیر غږونه نشته، چی لږ نور ځیر شو ، نو په دی مو بلکل باورشی چی همدا موږیوازی پاتی یو ، له ناکامه بیرته په شاکیږو دا ارمان مو په زړه بوج شی چی سهار به په کلا کی گرځو ، کلا لا هماغسی د کفر د بریښو تړواك لاندی ده اوس هم د ماشینگڼو باړونه چلیږی او موږ نا امیده بیرته پر شا را ستنیږو، شیبه په شیبه ددی احساس کوو چی په لویه ستونزه کی لویدلی یو، د یوی نابلدی سیمی په منځ کی او د یوه نا پیژندوی چاپیریال په تل کی یوازی پاتی یو، یوازی حاجی رحیمی مولړ او ډیر د زړونو داډ دی، هغه په دی سیمه کی بلد نه دی خو بلکل موږ دوو نورو غوندی نابلد هم نه دی زموږ د کاروان پته نشته ، چی هغوی په کومه ولاړل ، موږ له یوه داسی حالت سره مخامخ شوی یو چی سنجول شوی نه ؤ،نا اشنا محیط ، د شاوخوا کلیو مرموز غوندی وضعیت او د ملگروجلا والی مو په زړونو کی د ژوند د امید دیوی نږدی گل کړی وی او همدغه حالت دی ته اړ ویستو چی ولسوالی ته تر ټولو نږدی د لاری پر سر په رومبی کلی ور ننوزو، له یوه زلمی سره مخامخ کیږو هغه مو د چای لپاره کورته بیایی، ددغه سیمی یو روایتی کور دی، توره له دودونو ډکه خونه په یوه کونج کی نغری دی چی اور پکی بل دی، ددود وتلو لاره نشته د کوټی یوه دیوال ته دوه وزگوری ترلی دی، د زلمی مور د نغری ترڅنگ ناسته ده ، هغه موږ ته ستړی مشی وایی، ورو ورو مو د بیگانگی پردی لویږی او یوله بله په خبرو را شو خو د خبرو په جریان کی یو ځل بیا زموږ په زړونو کی د امید سپرغی ایری ایری شی، تر اوسه به مو ځانونه ژوندی گڼل که نه خو نور موږ ژوندی نه وو ، موږ په خپلوپښو خپل مرگ ته راغلی وو، ما خو همداسی گڼله ځکه چی موږ د خپل دښمن په کور کی ناست وو ، زموږ په مخکی د یوه ملیشایی مور ناسته وه ، دهغه چامور چی تیره شپه یی زموږ په وړاندی په ولسوالی کی مورچل نیولی ؤ ، خو دا بیا زما هسی وهم ؤ، دی ته مو پام نه دي چی موږ د یوی پښتنی په کور کی ناست وو، هغی له یوی خواد خپل زوی د سر دعا کوله له بلی خوا یی پر موږزړه سوځیده او ډاډ او تسل یی راکاوه، د همدغه امید او نااامیدی په منځ کی دوی شپی سبا شوی، دوی شپی چی له کلونو نه اوږدی وی ، له وهمونو ډکی له امیدونو تشی او د ژوند له هوسونو نه بی برخی وی، چی کله به دیخ جومات له ساړه غولی نه په نیمه شپه پاځیدو او د پاس لوی په ونو پټ غره په غیږه کی به مو آرام او راحت کوت او کله به بیا د غره له ځنجنی ځمکی نه د لږ آرام لپاره بیرته پر کلی را غبرگ شوو، په هغه کلی چی ولسوالی ته په پنځه سوه متری کی پروت ؤ ، په هغه کلی، چی دخوست د سرك پر سر ؤ او ځو تنه یی د ولسوالی ساتونکی وو، موږ به په همدغه کلی را غبرگ شوو ، خطرونو به کمین نیولی ؤمرگونو به د هر کنډو تر شاپټ پټونی کاوه ، هر دیوال او کوڅه به راته له خطرو او ټکرو ډکه وه خو د خدای (ج) په دی پراخ جهان کی به زموږ پیښه بیا په همغو وه ، په همغه له خطرونو او مرگونو ډکو کوڅو او لارو......

له دوو شپو وروسته مو د شلیدلی کاروان یو بل زلمی و موند،بس دهغه بیا لیدل او موندل وو او د ټولو مایوسیو اوبی وسیو ځنډل، داځل له موږ نه تښتیدلی خوښی معلم تاج محمد چی د همدی ولسوالی او دکوم لڼه کلی اوسیدونکی ؤ بیرته راوستلی ، دگردی مردی قد او ځواکمنومټو خاوند تاج محمد هغه وخت موږ ولید چی نور مو په زړونو کی دژوندی پاتی کیدو وروستی ډیوی هم په سلگو وی. موږ ته اوس یو دسیمی بلد بنیادم په لاس راغلی ؤ ، دهمدغوهسکو ټیټو اوسیدونکی د همدغو گرنگونو شهباز او د اسلامی تحریك یو مخلص سپاهی، ځکه خو مو د هیلو بڼ یو ځل بیا وغوړید ، موږ د معلم صاحب تاج محمد له موندلو سره سم په دی هم خبر شوو چی « ولسوالی » ته نور زموږ موجودیت کوم پټ راز نه دی ، په دی خبره هغه وخت پوره باوری شوو چی ماښام زموږ د تیرو دوو شپو تیرولو پر ځایونو د ملیشیانو اورونه بل وو. خوموږ ته نور دا خبری ډیری بی ارځښته وی ، نور موږړانده نه وو ، چی ددوست او دښمن تمیز ونشو کړای گرنگ او پاڼ و نشو لیدای، او د خطر او سفر لاره سره بیله نه شو کړای.

زموږ دری کسیزه ډله اوس څلور کسیزه شوه او دکاروان ساروان مو د همدغی سیمی او همدغو گرنگونو او کڅونو یوآشنا او بلدی زلمی ؤ چی شل ډزی یی په اوږه کړ او په درنو گامونو یی د ورکی قافلی په موندلو پسی د مزل بسم الله وکړه .

نن دریمه شپه وه چی له خپلو یارانو نه بیل شوی ووموږ ته خو دا تر ډیره حده پوری روښانه وه چی په جنگ کی ځوك شهید شوی نه دی خو د ټپیانو په باب مو څه نشو ویلی، د قافلی هرتن به مو سترگو ته و درید، دهغوی د صحت او سلامتی په باب به مو فکر

کاوه ، موږ چې سره ورك شوو نو يو دبل پـه قدر ښه پوه شوي وو ، يو دبل د کمبود احساس مو ډيرژور او دروند ؤ ، خو نور مو د بيلتون ديوالونه نړيدل، نور مو يوله بله دناخبرى شيبى پاى ته رسيدلى او زموږ ترمنځ د جدايي غرونه اوبيدل، دشپې تر تور ځادر لاندى موږ د معلم تاج محمد په لار بنوونه په هسکو ټيټو لارو روان يو چې وړاندى گڼه گونه اورو او بيا دلږ ځنډ نه وروسته تر ټولو ورومبى د فخر الدين غږ اوچت شي.

موږ به په همدغه کلی را غبرگ شوو ، خطرونو به کمين نيولی ؤمرگونو به د هر کندو تر شاپټ پټونی کاوه ، هر ديوال او کوڅه به راته له خطرو او تکرو ډکه وه خو د خدای (ج) په دی پراخ جهان کی به زموږ پيښه بيا په همغو وه ، په همغه له خطرونو او مرگونو ډکو کوڅو او لارو.....

د الله (ج) شکر دى داخو......... دي.

په قافله د خوښيو زيرى وشي موږ له يوبل سره غاړه غړى شو احسان الله ، محمد حکيم مکرم، ظابط سليمان.....

يوله بله تر تودى پوښتنې وروسته بيرته د«بل خيلو» په لورى ستنيږو موږ ته وروسته معلومه شي چې موږ درى واړه په شهيدانو کې شمار شوى وو او دوى مو فاتحه اخستى ده ، نن دوى زموږ د لاشونو لپاره راغلى وو، نن دوى زموږ د کسات لپاره راغلى وو خو موږ خداى (ج) نه وو وژلى او په خپلو پښو ورغلوه شپه مو په کيسو اومزله تيره شى، په تيرو درى ورځو کې ډير بدلونونه راغلى ، که مو د جانى خيلو د فتحى وياړ نه دى گټلى نو دومره بى برخى هم نه يو د جانى خيلو جگړى نور ددى ولس دمؤمنو زامنو د غيرتونو او ننگونو کيسو او حماسو لارى خلاصى کړې دي، نور قندهاري پروني قندهاري نه دي هغه له رعبه ډکه ځيره نوره هم له رعبه ډکه شوي ده د هغه په سرو سرو غټو سترگو کې اوس د برى چراغونو هم ځلکو نه کول دهغه په ځيره د وياړاو پرتم يو مرموز نور احساسيده ځکه چې په يوازي ځان يې دوه موټر ژوندي ولجه کړي وو ، دوه منصبداران يې له وسلو سره نيولى وو پنځه ديرش تنه مظلوم هيواد وال يې د کفراو جبر له پوځي خدمت نه ژغورلي وو او همدغه قندهاري د مزدور رژيم د پوځي دريشيو نه د منگلوناوونه ډك کړي وو ، نور به د غرونو په غيږه کې ولاړ ځپيرونه د پخوا په څير لغړ او نمجن نه وي اوس به هر څيږ په سپيرو پوځي دريشيو پوښلي وي دا يوازي د دوو موټرو څو پوحيانو ؟ او څو ميله وسلوخبره نه وه ، همدغسې سوبې پردى سيمه د راتلونکي نقشه کښله ، د راتلونکي اميدواري ډيوى يې بلولى او دلته يې د کفر او جبر هيښتناکه انجام ته اشاره کوله چې همداسې کيدل او همداسې وشول.

* * *

د لمر وړانگي تودى لگيږي، موږ دبل خيلو تنگی په خوړکی ناست يو ، ټول د خوړ په غاړه ډله ډله دلته هلته سره ناست دي.

لس ، يوولس بجې دي، ناڅاپه وړاندى د يوه شپانه چيغى اوچتى شي ، د عسکري موټرو د راتگ خبر راکوي بس هر څوك دسترگو په رپ کې تيار شي ، زه د احسان الله او يوه بل تن سره چې اوس مې هير دى وړاندى ځم، د يوى غونډۍ سرته رسيږو، درى ځلور تنه نور هم دلته را شي نورځوانان چپ لورى ته تر خوړ پورى خواته په ګټو ونوکى تيت شي ، موږ په يوه داسى غونډۍ کې يو چې دواړوخواوو ته يې دموټر لاره ده او لږ وړاندى دواړه لارى سره يو ځاى کيږي، شپون له موږ سره دى وړاندى پر سرك هغه برخه رابنيى چې موټر يې ور باندى ليدلى، اوس دموټرو غږ موږ اورو خو دځنگل له ونواو غونډۍ له کږ ليچونو پناه دى، ناڅا په احسان الله له ځايه جگ شي او وايي:-

داخو ټينکونه دي!

وړاندى دوه درى سوه متره لرى يو پر بل پسې درى ځلور زره پوښونه او دوه زرهدارټانکونه را بنکاره شي، د ټانکونو دنوم اوريدل او بيا د هغوى دروند غږ تر بنى شيبى پورى هيبت خورکړی، خړتانگونه د پولادی پيلانو په څير په دروند غږرا روان دی هيبتناك غږ يې په شاوخوا غونډيو او لرى گرنگونو کې وهمناك غونډى را غبرگيږي.

احسان الله په موږ غږ کوي چې څوك دزي ور باندى ونه کړي او بيا ټول دونو له شاخونو نه پټ پټ د ټانکونو ننداره کوى،ټانگونه نور موږ ته په لس متري کې دي مځکه يې له هيبته لړزيږي، دماشينگنو او توپونو ميلونه يې دمرگ تيار تصوير بنکاري، ناڅاپه يو د پوخ عمر مضبوط بنيادم « مکړم » خپل بوړی په ليچه کړی او په رومبى زره پوښ سترگه پټه کړی د پرله پسې درى ډزونه وروسته يو ځل

کراره کراری شی ، زره پوښونه او ټانګونه ټپ پر خپل ځای ولاړ پاتی شی. ترڅو شیبو پوری یوازی د مکړ دټوپك غرونه په لړی ګرنګونو کی داسی راغبرګیږی لکه دا ټول غرونه او ګرنګونه چی له غازیانو ډك وی ، خو یو څو شیبی وروسته فضا یوځل داسی دټوپکارپر سر واخلی چی ځمکه بنورو وی، دټانګونومیلونه هم د غونډی په لوری را و ګرځی ، د داشکو اوپیکا ماشیندارو ګولی د ونو څانګی را ماتوی او ګولی یی وړاندی تیریږی.....

په دی ډول ورو ورو جګړه توده شی، دټانګونو مخه یوازی په تشو ټوپکو ډب شی او هغوی زموږ د لوستودرسونو پر خلاف زموږ له تشو لاسونو نه په شاشی، ما ته یو ځل بیا د اسلام د غاز یانو تیر داستانونه را یادیږی هغه ځوانان می سترګو ته و دریږی چی په مرګ به یی بیعتونه کول، هغه غازیان چی یوازی به د کفارو په منظمو صفونو ور ننه وتل ، زما دا یقین لا پوخ شی چی دغه تاریخی داستانونه هسی له ځانه نه دی جوړ شوی او رښتیا دی، ماته معلومه شوه چی یو ځل دچا په زړه د ایمان جذبی قبضه وکړه هغه ته بیا له مرګه ویره مفهوم نه لری،یوځل چی دچا عقیده سیخه شوه هغه بیا په مرګ کی هغه سرور غواړی چی نور یی په ژوند کي لټوی، ما په سترګو لیدل چی زاړه او ځوانان به یو تربل دمخه کیدل ، دمرګ غیږی ته یی دځان د ور رسولو مسابقه کوله، دګولیو باران د ونو څانګی ریبلی خو لیدل می چی حکیم به تر احسان الله وړاندی ، ظابط عارف تر تورن غلام محی الدین او سلیمان بیا تر نورو ټولو..... د مشر او کشر توپیر هم نه ؤ کمزوری توب او بوډا توب هم د پاتی کیدو او تم کیدو پلمه او جواز نه شو، نن بیا دلته د کفر او اسلام په نوم د جګړی میدان تود ؤ او هر چا په دی کی دځان خیر ګاڼه چی تر نورو وړاندی وی ، د څه مادی انعام او اکرام خبره نه وه، د کومی چوکی او مقام تلوسه او هیله نه وه ، نه پوهیږم بی له دی به څه احساس ؤ چی د خدای(ج) پر دین ننګ ؤ او هر سړی په همدغه ننګ د قربانی پر ډګر ددښمن ګولیو ته خپل تندی سپر کړی ؤ.

مازدیګر مهال په فضا کی د الوتکو غږ اوچت شو ا و لږ شیبه وروسته یوه هلیکوپتر رابښکاره شوه چی څرخونه یی تر سر تاوول لکه له غوسی نه چی کوتك تر سر تاووی، هلیکوپتر له څو دورو خوړلو نه وروسته دری څلور بی هدفه بمونه و غورځول او چی بیا په دی هم ونه شوه د غازیانو د خوښی او سرور په تکبیرونو کی ددښمن ټانګونو مخ ګرځولی ؤ او نور ډیر وړاندی بښکاریدل چی بیرته په راغلی لاره خوست ته تښتیدل

* * *

په راتلونکو ورځو کی پر شاو خوا ولس الو تکو بیا بمباری و کړی او نور ددی ولس هغه داستان پیل شوچی پل پر پل له ماتمونو رنځونو ، ربړونو ، او رونوویرونو او شهادتونو سره مل ؤ ، هغه داستان چی تراژیدی یی هم درلودی ، حماسی او ویاړ نی هم، هغه داستان چی دبیساری مظلومیت کیسی هم لری او دبی مثاله عظمت او شهامت حماسی هم .

په دغو غرونو او ګرنګونو کی داسی کیسی او حادثی پیل شوی چی د انسان غونی یی په اوریدو زیږه شی، داسی فاجعی وزیږیدی چی دچنګیز او انګریز دستمونو داستانو نه ور باندی هیر شول، او بیا د شهادت او میړانی داسی کارنامی هم ثبت شوی چی نه یوازی ددی ملت د سر لوړی او خپلواکی سبب شوی بلکی د اسلامی امت د عظمت شمله ور باندی لوړه شوه ، اومومن افغان د یوه با شهامته مسلمان ، با غیرته انسان او د یوی خونړی معرکی اتل او قهرمان د تاریخ پاڼو ته راووت ډیر زر د جانی خیلو او موسی خیلو ولسوالی آزادی شوی او بیا...... دادی نن په هیواد کی د تیرو فاجعوعاملین د ولس د محاکمی انتظار باسی.

زموږ مجاهد ولس د بری پرستیج دریدلی دی، زموږ برمیال ملت اسلامی امت ته یو تاریخی ویاړ او عظمت ور بخښلی او زموږ هوډ یالیوغازیانو د تاریخ د ډیروسترو اتلانو ویاړ خپل کړی دی.

نن زموږ مومن ملت د څوارلس کلن اوږده جهاد او قربانی میوه تر لاسه کوی په دغو خوښیو کی د جهاد د هماغو لومړیو شپو ورځو زیات اتلان شته خو ډیرو نورو یی آرزوګانی ګورته هم ور سره وړی دی ، کاش چی ددغی ورځی ډیر ارمانجن نن تر تورو خاورو لاندی په ابدی خوب ویده دی.

کاشکی هغوی هم وای - چی نن یی د فتحی جشنونه لمانځلی وای ، هغوی چی خرڅ شوی افغانستان یی بیرته ګټلی. هغوی چی د وینو په تیلو یی دپاځون لاره رڼا وه او د وینو په سمندر کی یی اولس بالاخره د بری پر ساحل پیلی شو کاشکی چی هغوی هم ژوندی وای..........

«پای»

میاشتني

حریت

داسلامي انقلاب د اهدافو خپـروونکي

زموږ د قیادت تجزیی د افغانستان دتجزیی خطر رامنځ ته کړی،،..

«وقاد»

دشمن از ما در هراس است و ما از همدیگر !

هلته چی دجبر او کفر «سومنات» لاولاړ دی!

دگردیز غونډی دنویو واقعیتونو ترجمانی کوله

نبوی ارشاد

مفلس څوك دی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپلو اصحابو څخه پوښتنه وکړه ی ایا پوهیږئ چی ربښتونی مفلس څوك دی؟ هغوی ځواب ورکړ چی یا رسول الله موږ خو مفلس هغه چاته وایو چی نه پیسی ولری او نه نوره څه شتمنی.

حضرت رسول اکرم (ص) هغوی ته و فرمایل چی زما په امت کی مفلس هغه څوك دی چی دقیامت په ورځ دخپلو لمونځونو ، روژو او زکاتونو سره د پروردگار په حضور کی ودریږی او له دی « عبادتونو » سره یی چاته ښکنځلی کړی وی ، په چایی تور لگولی وی ، دچا یی مال خوړلی وی، څوك یی وژلی وی او څوك یی وهلی وی نو بیا دده دعبادت « لمونځونو ، روژو ، زکاتونو » اجر په همغو مظلومانو وویشل شی، چی کله یی په عبادت د مظلومانو پور، پوره نشی نو دهغوی گناهونه پرده ورانبارشی او بیایی جهنم ته ورگوزار کړی.

« مسلم »



زموږ د جهاد یو گمنام قهرمان چې په گمنامۍ کې یې حماسې جوړې
کړې او په گمنامۍ کې یې د شهادت جام پر سر واړ اوه.

"شهید جگتورن عبدالغني خان"